ریاضی ـ دویم تولگے	عنوان: په کالمونو کښې د درې رقمی عددونو د جمع د چک کولو دپاره د برعکس عملیو استعمالول (۱)
ل 2 ـ 55	

د استاد مشغلې	د شاګرد مشغلې	درسی معاونات
ـ په توره تخته خوا په خوا لیکل: 567 226 341 − 341 + ـ طالب علمانو ته وئیل چې دا دواړه سوالونه مقابله کړی ـ طالب علمانو نه غوښتنه کول چې په توره تخته دواړه سوالونه حل کړی. ـ طالب علمانو ته وئیل چې په نتیجو بحث وکړی ـ داستاذ د یوشان عددونو یوبل سره د تړلو دپاره کښې جوړول، بیا تشریح کول چې طالب علمان د تفریق په ذریعه معلومولے شی که دوه عددونه مخکښې صحیح جمع کړے شوی وی (2)	1- په یوبرعکس عملیه ځان پوهول ـ دواړو سوالونوته کتل، بحث پرې کول ـ معلومول چې په پرومبی مساوات کښې به "341" جمع کیږی، په دویم مساوات کښې به "341" تفریق کیږی. ـ یوطالب علم پرومبے سوال په توره تخته حلوی، څه چې کوی هغه وئیل، بیا یوبل طالب علم دویم سوال هم دغه شان کوی، نور ورته کوری. ـ په نتیجو بحث کول ـ معلومول چې دویم حساب یعنې 567 − 341 = د پرومبی حساب یعنې 226 + 341 = شروع ته واپس ځی.	توره تخته
ـ طالب علمانو ته وئیل چې د پرومبی مشق پانړې پاسنی برخې ته وکوری. ـ وئیل چې ښی اړخ ته حساب صحیح یا غلط کیدے شی او طالب علمان پې د هغه عدد د تفریق په ذریعه چک کولے شی چې په پرومبی سوال کښې جمع کړے شوے دے. (3) ـ طالب علمانو ته وئیل چې په دوه دوه یا درې درې کسه هم دغسې کار وکړی ـ طالب علمانو نه غوښتنه کول چې په پرومبی سوال کښې غلطی معلومه کړی. (4)	2- د تفریق په مدد سره جمع چک کول ـ پرومبی مثال ته کتل، ځان پرې پوهول ـ په مسئله بحث کول، معلومول چې 425 به د 989 نه تفریق کیږی او نتیجه به پې 563 وی که چرې پرومبے حساب صحیح حل کړے شوے وی. ـ په مشق پانړو کښې حساب کول، معلومول چې نتیجه 564 د پرومبی عدد 563 نه مختلفه ده ـ په دوه دوه یا درې درې کسه بیا کار کول، په خپلو مشق پانړو کښې د غلطی اصلاح کول / معلومول پې	مشق پانړه ر2-55-1 (پاسنۍ برخه)
ـ طالب علمانو ته وئیل چې په ګروپونو کښې کار وکړی او د جمع د نورو سوالونو چک کول جاری وساتی. ـ طالب علمانو نه غوښتنه کول چې ټول سوالونه کلاسته ولولی او بحث پرې وکړی. (5)	3- نور سوالونه چک کول ـ ټول برعکس عملیات یعنې تفریقونه کول جاری ساتل، هرځل معلومول چې پرومبے سوال صحیح دے که غلط، یوبل پسې پرې نخښه کول، د پرومبنی حساب اصلاح کول ـ د تفریق سوالونه کلاسته لوستل، تشریح کول چې د جمع متعلقه سوالونه ولې صحیح یا غلط دی.	مشق پانړه ر2-55-1 (لاندینۍ برخه)

درسي پلان: د 2 - 55	ددې درسي پلان پۀ باب څۀ نورې تبصرې

(1) طالب علمان د برعکس عملیو پۀ ذریعه چک کولو سره مخکښې پۀ درسي پلان د 2 - 25 کښې اشنا کړے شوی دی ؛ خو د "برعکس عملیې" تصور نه استعمال شوے دے اونه دې اوس استعالیږی، خوددې کار اودچک کولو سوال" پحقله خبرې کیدے شی .

(2) استاذ دې یوشان عددونه سره وتړي چې دابنکاره شي چې دغه دوه عملیې اواستعمال شوی عددونه دیو بل سره تعلق لري ، مثلاً

$$\begin{array}{rr} 567 & 226 \\ 341 & 341 + \\ \hline 226 & 567 \end{array}$$

(3) که طالب علمان د جمع د یو بل عدد تفریق کولو پۀ فکر کښې راشی ، نو پۀ دې ، دې دیوامکان پۀ طور بحث اومشق وشي چې صحیح دے ډ ځکه چې دا به د نتیجو چک کولو دپاره یوبل ممکن حل وی)

(4) پۀ داسې حالتونو کښې چې برعکس عملیې دنتیجې عدد دمتوقع عدد نه مختلف وی ، طالب علمان دې یوځل بیا د جمع پدې سوال حل کړي اوغلط عددونه دې پۀ صحیح عددونو بدل کړي چې غلطي اصلاح وشي .

(5) پۀ مشق پاتې کښې لاندې حسابونه غلط دی : د پاسنۍ برخې پۀ مثال کښې 988 عدد صحیح دے 989 نۀ دے ، پدې نمبر سوال کښې 948 صحیح دے ، 958 نۀ دے ، دویم نمبر سوال کښې 785 صحیح دے ، 885 نۀ دے .



د ورځې درس	عنوان: په کالمونو کښې د درې رقمي عددونو د تفریق د چک کولو د پاره د برعکس عملیو استعمالول.
خاکه ر2-55	

د شاګردانو/استاد مشغلې	درسي معاونات
۱- د استاذ په توره تخته لیکل: 763 − 432 = 331	توره تخته
(الف) طالب علمانو نه غوښتنه کول چې چک کولو د پاره یو مناسب کار معلوم کړي چې ایا دا حساب صحیح دے	
(ب) د طالب علمانو بحث کول، وئېل چې 432 د ې نتیجې سره جمع کړے شي چې د ومبی عدد یعنې 763 ته واپس راشی که چرې حساب صحیح وی؛	
(ج) هم داسې کول، معلومول چې په حساب کښې هیڅ غلطی نشته. 331 + 432 = 763	
2- د استاذ د چک کولو د پاره یوبل مثال ورکول، داځل به مثال غلط وی مثلاً 567 − 143 = 414	توره تخته
(الف) د طالب علمانو د برعکس عملیې یعنې 414 + 143 حسابول، معلومول چې د ومبے حساب غلط دے (ب) د د ې اصلاح کول یعنې 424	
3- د استاذ غوښتنه کول چې دوئمې مشق پانړې په سرکښې حساب چک کړی؛	مشق پانړه ر2-55-2
(الف) د طالب علمانو په دوه دوه یا درې درې کسه کارکول؛ برعکس عملیه حسابول یعنې 311 + 231، (ب) معلومول چې حساب صحیح دے.	
4- د طالب علمانو په مشق پانړه کښې باقې پاتې حسابونه هم دغسې چک کول. غلط حسابونه: دوئیم نمبر 414 دے، 404 نۀ دے، دریم نمبر 423، 23 ی نۀ دے	



دویم وریښې درس	عنوان: د چک کولو د پاره د برعکس عملیاتو د حسابولو مشق کول ، درې رقمي عددونه استعمالول .
خاکه د 2-55	

درسي معاونات	د شاګردانو/استاد مشغلې
تخته ورو	۱- د استاد په ورو تخته لیکل : 256 + 132 ؛ (الف، طالب علمانو ته وښول چې دادوه عددونه جمع کړي ، یو دبل لاندې لیکل ، (ب ، حساب چک کول ، د طالب علمانو تجویز ومانلو ، کول چې د حسابولو دپاره یوه یې څه کول په کار دي : 256 بیا څه کول په کار دي ، . . . . . 132 + 132 − . . . . (ج ، مقابله کول ، معلومول چې ایا یوه یې حساب صحیح دے که غلط ؛ (د، که ضرورت وي اصلاح ئې کول
تخته ورو	2- د استاد په ورو تخته یوبل مثال لیکل ، 732 - 413 ، د طالب علمانو د مخکښې په شان عمل کول
مشق پانړه د 2-55-3	3- د یې مشق پانړې ته کتل ، د استاد تشریح کول چې د مشق پانړې پاسنۍ برخه کښې سوالونه به یوه یې حسابولے شي ، او د مشق پانړې د لاندینۍ برخې نه به " د چک کولو سوال " چې یوې کربنې سره تړلے شوے دے ، معلومولے شي او د نتیجو د چک کولو د پاره به حسابولے شي؛ (الف، د طالب علمانو په یوه یې مثال یوځای مشق کول ، (ب ، د ټولو باقي سوالونو ځانله مشق کول
	4- ټول حسابونه او " چک کولو سوالونه " کلاسته لوستل ، د استاد غوښتنه کول چې ایا چا دخپل یوه یې حساب د چک کولو په ذریعه غلطي معلومه کړه .



ریاضی ـ دویم ټولګی	عنوان: د ۹۹۹ پورې د درې ، دوه رقمي او درې ، درې رقمي عددونو جمع	ل 2 - 56

د استاد مشغلې	د شاګرد مشغلې	درسي معاونات
	1- د ۹۹ پورې د دوه ، دوه رقمي عددونو جمع تکرارول ، د فرضولو سره. (۱)	
ـ پۀ توره تخته لیکل : $\begin{array}{r} 37 \\ +\ 54 \end{array}$ د طالب علمانو نه غوښتنه کول چې پۀ توره تخته دغه سوال حل کړي.	ـ دیو یا دوه طالب علمانو د حل معلومولو کوشش کول ، پۀ توره تخته یې لیکل ، د نورو ودرته کتل ، مدد کول. وښل : 7 یونیزه جمع 4 یونیزه مساوي کیږي پۀ یوولس یونیزه ، یعنې پۀ یو "یونیز" او یو "لسیز" جمع 3 لسیزو جمع 5 لسیزه مساوي پۀ 9 لسیزو " لیکل : $\begin{array}{r} 37 \\ +\ 54 \\ \hline 91 \end{array}$	توره تخته
پۀ طالب علمانو هم دغسې یو بل سوال حلول مثلاً $27 + 55 =$	ـ دغه عددونه پۀ خپلو سلیټونو لیکل ، حسابول یې ، د مخکښې پۀ شان یې بیانول	
	2- د ۹۹ پورې د درې ، دوه رقمي عددونو جمع	
ـ پۀ توره تخته لیکل : $26 + 13 + 35$ ؛ د طالب علمانو نه د درې د حل غوښتنه کول	ـ بحث کول ، پۀ کالمونو کښې د حل تجویز کول ، لیکل ، تشریح کول : $\begin{array}{r} 26 \\ 13 \\ +\ 35 \end{array}$	
ـ د طالب علمانو نه غوښتنه کول چې د پورتنۍ مشق پانې د پاسنۍ برخې ټول سوالونه حل کړي.	ـ دیوکاونډۍ سره یوځای کار کول ، د نتیجو پۀ بکس کښې د نتیجو ټک کول ، ټول حلونه (محاسبې) کلاسته لوستل	مشق پانه ر2-56-1
	3- د ۹۹۹ پورې د فرضولونه بغیر د درې، درې رقمي عددونو جمع	
پۀ توره تخته لیکل : $421 + 134 + 332 =$ پۀ طالب علمانو دا سوال حلول	ـ بحث کول ، پۀ کالمونو کښې د بیا حسابولو تجویز کول ، لیکل . $\begin{array}{r} 421 \\ 134 \\ +\ 332 \\ \hline 887 \end{array}$	توره تخته
ـ د طالب علمانو نه غوښتنه کول چې همدغسې یو سوال پۀ توره تخته حل کړي مثلاً $231 + 462 + 105 =$ (2)	ـ حسابول یې ، لیکل یې ، د مخکښې پۀ شان یې بیانول	
ـ طالب علمانو نه وښل چې د پورتنۍ مشق پانې پۀ لاندینۍ برخه کښې ټول سوالونه حل کړي	ـ دیوکاونډۍ سره یې یوځای حلول ، نتیجې د نتیجو پۀ بکس کښې ټک کول ، ټولې محاسبې کلاسته لوستل	مشق پانې ر2-56-1

درسي پلان: د 2 - 56	ددې درسي پلان په باب څۀ نورې تبصرې

1، ددرسي پلان د 2 - 23 پۀ پوهې ورپسې درس کښې ددوه رقمي عددونو جمع چې قرضول پکښې وی، معرفي شوې ده . خو یا هم دطریقه کار پۀ ذهن کښې دراوستلو دپاره یوځو نوی مشقونه ضروری دی

2، که چرې داستاذ دا یقین راشی چې طالب علمان اضافی مثال ته ضرورت نۀ لری نو حذف کولے ہُې شی . دامشق او یا نور مشقونه به صرف هغه وخت ورکولے کیږی چې کافی وخت وی او یا تکړه طالب علمانو لومړیے سوال زر ختم کړے وی .



د لومبی وړپی درس	عنوان: د درې ، درې رقمی عددونو جمع ، د مجموعو مقابله کول
خاکه ر2-56	

د شاګردانو/استاد مشغلې	درسی معاونات
1- استاد د درې رقمی عددونو یوه جوړه ورکول مثلاً 840 او 480 ، د طالب علمانو نه پوښتنه کول چې په دې دواړو کښې کوم عددونه کوم کم دی . (الف) د لږ تر لږه طالب علمانو جواب ورکول (که جواب صحیح وو یا غلط خواستاذ به څه نه وائی) (ب) د صحیح جواب اودهغوی د وجهې د معلومولو لپاره د استاذ د غوره دواړو عددونو په توره تخته لیکل (ځکه چې په لومبی عدد کښې پرې سلیزه دی)	توره تخته
2- د عددونو په نورو جوړو سره ګډ جاری سائل مثلاً 246 او 266 ، 537 او 539، په دې عددکښې یا سلیزه او لسیزه او یا لسیزه او یویزه یو شے دی .	
3- استاد دیو درې ملګرو په باب یوه قصه کوی کوموچې دا پته لګوله چې د دوی سره پرې پیسې دی اوکه دهغه درې نورو هلکانو سره چې د دوی سره نزدې ناست دی .د درې واړو ملګرونه یوتن دا تجویز وړاندې کړچې راځئ خپلې ټولې پیسې راوباسو او په ځمکه ګډې کېږدو او وګورئ شمارو . خو نورو ملګرو ورته ویل چې که موږ ته ښه خپلې پیسې په لاس نه راځی نو سره ګډ وولې نه . اوس تاسو دغه ملګری څه کولے شی ؟ (الف) د طالب علمانو بحث کول (ب) شاید تجویز وړاندې کول چې د هرګروپ درې واړه مقداره دې جمع کړے شی اودغه دوه نتیجې دې مقابله کړے شی .	
4- داستاذ طالب علمانو ته وښیل چې دا قصه په دوئمه مشق پانړه کښې جوړه کړے شوېده ، طالب علمانو ته وښیل چې دوئمې مشق پانړې ته ګوری ، ورته وښیل چې دغسې عمل به کوئ لکه څنګه چې په قصه کښې تجویز کړے شوے دے . (الف) د طالب علمانو د صورت حال بیانول ، قیاس کول چې د کوم ګروپ سره د پرې پیسې دی . (ب) حسابول (معلومول چې د بنی اړخ ګروپ سره یوه روپه زیاته ده یعنې 999 روپه ورسره دی اوکښې اړخ ګروپ سره یوه روپه کمه ده یعنې 998 روپه ورسره دی)	مشق پانړه ر2-56-2



دوئیم وړپی درس	عنوان: ددړې رقمی عددونو جمع ، دروپو مختلف مقدارونه سره مقابله کول	خاکه ر2-56

د شاګردانو/استاد مشغلې	درسی معاونات
1- د استاذ طالب علمانو ته وښیل چې درېیمې مشق پانړې ته وګوری ؛ (الف) څۀ چې طالب علمان وینی د هغې بیانول : څلور بکسونه دی ، پۀ هرېکس کښې د روپو مختلف مقدارونه دی ، او د حلولو (حسابولو) دپاره څلور ځایونه دی ، یوځای د هرېکس دپاره . 2- د استاذ طالب علمانو ته وښیل چې قیاس وکړی چې کوم بکس کښې تر ټولو زیاتې پیسې دی (الف) ټولو بکسونو ته د طالب علمانو پۀ غور سره کتل (استاذ به د غۀ کارته یوځۀ وخت وروکوی) (ب) پۀ کوم بکس چې چا د زیاتو پیسو شک راځی هغه د ځانله ځانله طالب علمانو د عدد ونو 1 یا 2 یا 3 یا 4 د چرخۍ کولو پۀ ذریعه پۀ ټاکنه کول . 3- د استاذ پوښتنه کول چې ایا طالب علمانو پۀ صحیح بکس چرخه راښکلې ده (الف) د طالب علمانو وښیل چې د هرېکس د رې واړه مقدارونه به شمېرل کیږی او پۀ متعلقه ځای کښې به جمع کیږی . (ب) د استاذ غوښتنه کول چې همدغسې وکړی (استاذ به طالب علمانو ته اجازه ورکوی چې پۀ بکس کښې عددونه پۀ هرترتیب چې خوښه وی جمع کړی) . (ج) د طالب علمانو دانوی والانو سره یوځای کار کول (د) پۀ آخر کښې د طالب علمانو د دغو محاسبو کلاسته لوستل (هر) چیک کول چې ایا دوی صحیح عدد چرخه کړې دے (بکس) . که چرې دوی غلطی کړې وه نو هغه بکس به چرخه کوی کوم کښې چې د پرې پیسې دی (د روپو مقدارونه عبارت دی له : 1- 889 = 203 + 165 + 521 2- 598 = 122 + 313 + 163 3- 433 = 204 + 133 + 162 4- 329 = 111 + 113 + 105 . د مې شمېره پرې پیسې لری)	مشق پانړه ر2-56-3



ریاضی ـ دویم ټولګی	عنوان: د جمع د "تبادلوی خاصیت" نه کار اخیستل (۱)
ل 2 ـ 57	

د استاد مشغلې	د شاګرد مشغلې	درسي معاونات
ـ داسې وظایف ورکول لکه 3 + 8 + 6 = ، 9 + 2 + 9 = ، 4 + 8 + 5 = اوداسې نور (2) ـ پۀ طالب علمانو جاري سائل ، د استاذ پۀ شان ګمل کول ، هم دغسې مشقونه ورکول .	۱ـ ذهني مشق د درې "یورقمي عددونو" جمع ـ د ټولو طالب علمانو حساب کول ، نتایج راویستل ـ د پورو طالب علمانو د همدغسې سوالونو ورکول ، هرځل د پورو طالب علمانو جواب ورکول	
ـ پۀ توره تخته لیکل : 90 + 6 + 10 = □ ، 10 + 6 + 90 = □ ، 90 + 10 + 6 = □ پۀ دغه سوالونو د فکر کولو د پاره وخت ورکول (3) ـ د طالب علمانو نه غوښتل چې د دغه درې سوالونو نه یو سوال حل کړي ـ پوښتنه کول چې ایا کوم بل طالب علم د باقي پاتې مساواتو مکمل غواړي ؟ که طالب علمان مخې ته نه راځي نو په دوه یا درې درې کسه د مساوات مکمل کړي .	2ـ پۀ مختلفو مساواتو کښې د یو شان حاصل معلومول ـ پۀ غور سره دغه درې سوالونو ته کتل او فکر وړاندې کول . معلومول چې دغه ټول مساوات یو شان عددونه لري . ـ مخې ته راتلل ، د یو مساوات عددونو ته اشاره کول ، پۀ اوچت اواز ځې حسابول ، پۀ خالي بکس کښې د نتیجې لیکل یعني "106" ـ باقي نتایج معلومول ، پۀ توره تخته متعلقه بکسونو کښې ځې لیکل ؛ معلومول چې ټولې نتیجې یو شان دي .	توره تخته سلیټونه
ـ پۀ توره تخته د درې مساواتو ته رجوع کول ، طالب علمانو نه یو بنسټه کول چې پۀ دې کښې د کوم مساوات مکمل پوهیدل وو (4) ـ وښل چې یو سړې د عددونو پۀ بیا ترتیبولو سره حسابول اسانولے شي . پۀ توره تخته لیکل ، 90 + 80 + 20 = □ ، د طالب علمانو نه غوښتنه کول چې د پې عددونو ته څنګه بدل ترتیب ورکولے کهدے شي ـ بل مثال ورکول لکه 30 + 9 + 70 = □	3ـ د مساوات د اسانولو د پاره د عددونو بیا ترتیبول ـ بحث پرې کول ، شاید وښل چې د درې مساوات یعني 90 + 10 + 6 = پوهیدل وو ځکه چې د دوو پورې عددونو پۀ جمع کولو سره سړے "100" ته رسي ـ بحث او تجویز ونو ته وخت ورکول ، شاید پۀ 80 + 20 + 9 = موافقې ته رسیدل چې د حساب اسان ترتیب دے . پۀ دغه ترتیب مساوات پۀ توره تخته لیکل ؛ د مساواتو مکمل یعني 80 + 20 + 9 = 109 ـ بحث کول ، ترتیب ځې بدلول یعني 30 + 70 + 9 = یا 70 + 30 + 9 = ، د مساوات مکمل .	توره تخته
ـ د طالب علمانو نه غوښتنه کول چې پورې مشق پانې پۀ سرکښې دوه سوالونو ته ګوري او د درې عددونو د حسابولو د پاره د ټولو نه اسان ترتیب معلوم کړي (5) ـ پۀ مشق پانو د باقي مساواتو مکمل ، پورې ځې ترتیب بدلول ، پۀ دوه دوه یا درې درې کسانو کار کول	4ـ د عددونو د ترتیب بدلولو مشق کول ـ پۀ کارځان پوهول ، د حسابولو پۀ اسانه طریقه بحث کول ، د شپږ واړو مساواتو مکمل ـ د اسان ترتیب پۀ حقله فیصله کول ، پۀ دغه ترتیب د مساوات بیا لیکل ، ټول مساوات یو پۀ یو حلول ، د چک کولو او بحث کولو د پاره د ټولو مساواتو کلا سره لوستل	مشق پانړه 2-57-1

درسي پلان: ر2- 57	ددې درسي پلان پۀ باب څۀ نورې تبصرې

(1) پۀ دې سبق کښې د "جمع تبادلوی خاصیت" نه کار اخیستل کیږی ، خونۀ به استاذ اونه به طالب علمان دا اصطلاح استعمالوی .

(2) استاذ به پۀ مزه مزه خبرې کوی چې طالب علمان ئې عین پۀ همدغه وخت کښې حساب وکړی. استاذ به دحل تصدیق هله کوی چې اول پوښتنه طالب علمان جوابونه ووائۀ

3- که چرې پۀ دې مرحله کښې کوم یو طالب علم ووائی یا فرض کړی چې د ټولو مساواتو نتیجه یوشان ده نو استاذ به ددې اعلان کوی چې پۀ دې واړو مساواتو کښې ددغه درې واړو عددونو موجودیت ثبوت غواړی .

4- استاذ به دې ته تیاروی چې شاید ټول طالب علمان یوشانته اسان ترتیب پیدا نکړی شی . نوکه چرې دکوم طالب علم دحل یوبل ترتیب خوښ وی نو دهغې دا استعمال اجازه دې ورکړی شی . خودا به وښیل کیږی چې لومړیو دوه عددونو پۀ جمع کولو او مکمل 100 ته په رسیدلو سره خبره اسانیږی .

5- دا مهمه ده چې طالب علمان صرف یو مساوات حل کړی یعنې اسان مساوات ، خونور خالی بکسونه به روسته دحسابولو نه بغیر بیا پوکوی . ددې وجه داده چې پۀ ټولو مساواتو کښې جمع کیدونکی عددونه یو شان دی ، نتیجه به هم یو شان وی.

6- دا مساوات پرته سان نۀ دی ، لۀ دې وجهې به استاذ دپته تیاروی چې دبیل بیل طالب علم سره مدد وکړی او یا دبیل بیل طالب علم نه وغواړی چې سوالونه پۀ توره تخته حل کړی. پۀ ورپسې درس نمبر اول کښې به پۀ دې حصه نور مشقونه هم وی .



د ډرومبۍ وړپۍ درس	عنوان: د 5، د پاړې (ضرب زبانی) نه د ضرب د رقمونو جمع کول رنګه 5×1 + 5×3 = 5×4)
خاکه ر 2-32	

د شاګردانو/استاد مشغلې	درسی معاونات
1- د استاذ پۀ توره تخته مثلاً 2×2 + 2×3 لیکل ؛	
2- د طالب علمانو وئیل/لیکل : 2×2 + 2×3 = 2×5 10 = 2×5	
3- د استاذ پۀ توره تخته 5×3 + 5×2 لیکل ؛ طالب علمانو نه غوښتنه کول چې د کلاس مخې ته راشی اود هم دغه مقدار یا عملیې مطابق عمل وکړی .	
4- 3 ځله 5 طالب علمان د جماعت د کمږې مخې ته پۀ یوه خوا کښې ودریږدل ، 2 ځله 5 طالب علمان د کلاس مخې ته پۀ بله خوا کښې ودریږدل ؛ بیا د 5×5 طالب علمانو د یوګروپ جوړولو د پاره د دواړو یو ځای کېږدل .	
5- د استاذ چې څۀ وشو د هغې د بیانولو غوښتنه کول ؛ د طالب علمانو عددی قضیه وئیل .	
6- د استاذ پۀ توره تخته د مساوات د لیکلو بلنه ورکول ؛ د طالب علمانو لیکل : 5×2 + 5×3 = 5×5 25 = 5×5	توره تخته
7- دوئیمې مشق پاڼې ته کتل ؛ څۀ ډول پکار دی پۀ هغې بحث کول ؛ مشق پاڼه مکمله کول ؛ پۀ آخر کښې نو ټول مساوات کلاس ته لوستل ، چک کول ، اصلاح ټۀ کول .	مشق پاڼه ر 2-32-2

ر ۲-۳۲

۵× = ۵×۴ + ۵×۲ □ = ۵×	
۵× = ۵×۶ + ۵×۳ □ = ۵×	
× = ۵×۳ + ۵×۷ □ = ×	
× = ۵×۸ + ۵×۱ □ = ×	

د ړومبۍ وړتیا درس	عنوان: د اصطلاح د استعمال نه بغیر د جمع د ـ تبادلوی خاصیت» پۀ حقله نور مشق
خاکه ر 2 - 57	

د شاګردانو/استاد مشغلې	درسي معاونات
1- ذهني تربیت: د مکمل سلیزو پورې جمع کول: مثلاً د استاذ وئیل «270»،	
(الف) د طالب علمانو وئیل 270 + 30 = 300،	
(ب) پۀ ټولو مکمل لیزو سو جاري سائل مثلاً 240، 630، 810،	تورہ تخته
2- د استاد پۀ تورہ تخته د خلورو د اسې مساواتو لیکل چې د دوو جوړو نتیجه ئې یو شان وی مثلاً 1- 95 = 23 + 5 + 36 3- 191 = 36 + 9 + 146	
2- 191 = 36 + 9 + 146 4- 23 = 95 + 5 + 36	
(الف) د طالب علمانو نه پوښتنه کول چې پۀ دې کښې د تعجب (حیرانتیا) څۀ خبره ده،	
(ب) د طالب علمانو معلومول چې دویم او دریم مساوات پۀ شان پورې او خلورم مساوات هم یو شان عددونه لري	
3- د استاد پوښتنه کول چې خلورو واړو نتیجو د معلومولو پاره د څو مساواتو حلول پۀ کار دی	تورہ تخته
(الف) د طالب علمانو وئیل چې صرف د دوو مساواتو حلول پۀ کار دی،	
(ب) معلومول چې کومو مساواتو حلول تر ټولو اسان دی.	
(ج) د دې مساواتو حلول، د متعلقه مساواتو د حسابولو نه بغیر باقي بکسونه ډکول	
4- د طالب علمانو نه غوښتنه چې دوې مشق پاڼې پاسنۍ برخې ته وګوري	مشق پاڼه ر 2-57-2 (پاسنۍ برخه)
(الف) معلومول چې د هغه سوال سره مشابه سوال دے چې اوس اوس موپۀ تورہ تخته حل کړو	
(ب) د اسوال هم همدغه شان حلول	
(ج) د دې حسابي عملیو کلاسته لوستل / بحث پرې کول	
5- د مشق پاڼې د لاندینۍ برخې سوال پۀ شریکه حلول (یعنې د نمبر سوال)	مشق پاڼه ر 2-57-2 (لاندینۍ برخه)
(الف) پۀ ځانله ځانله جاري سائل، د نتیجې پۀ بکس کښې د نتیجې ډنګ کول	
(ب) پۀ آخر کښې مکمل حسابي عملیې کلاسته لوستل	

ر ۲ | ۵۷ - ۲

د حسابولو یوہ ډېره اسانه طریقه معلومه کړئ!

① ۲۳۰ + ۷۰ + ۴۷ = ☐ ② ۱۹ + ۵۰ + ۱۵۰ = ☐

③ ۱۵۰ + ۵۰ + ۱۹ = ☐ ④ ۴۷ + ۷۰ + ۲۳۰ = ☐

⑤ ۸۷۰ + ۸۲ + ۳۰ =	☐ =	۹۸۲
⑥ ۵۰ + ۲۵۰ + ۱۷ =	☐ =	۶۲۳
⑦ ۶۰ + ۵۹ + ۶۴۰ =	☐ =	۴۹۵
⑧ ۵۳۰ + ۲۳ + ۷۰ =	☐ =	۵۲۷
⑨ ۹۰ + ۳۱۰ + ۹۵ =	☐ =	۳۴۷
⑩ ۸۰ + ۲۷ + ۴۲۰ =	☐ =	۷۵۹
	☐ =	۲۱۹
	☐ =	۳۱۷

دوئیم وړپسې درس	عنوان: د دغسې سوالونو معلومول ر حسابول چې نتیجه ځ یو شان راځی
خاکه د2-57	

د شاګردانو/استاد مشغلې	درسی معاونات
1- ذهنی تربیت: د استاذ سوالونه ورکول لکه 150 + 5 + 2 = ، 280 + 20 + 6 = ، 340 + 60 + 5 = ، په مزه مزه خبرې کول چې طالب علمان په عین وخت کښې ورسره حساب وکړے شی	
2- په تورو تختـه د جمع درې سوالونه لیکل، په دې کښې د دریو سوالونو حاصل به یو شان وی مثلاً 1- 212 + 112 = 324 ، 2- 324 + 212 = 112 ، 3- 124 + 221 = 313 ، 4- 112 + 324 = 212 د طالب علمانو معلومول چې ولې دے، دویم او څلورم نمبر سوالونه یو شان عددونه لری او نتیجه به ځ یو شے وی.	
3- استاذ د طالب علمانو نه غواړي چې په خپلو سلیټونو د دوهم سوالونه حل کړی خومره چې د ټولو نتیجو د حاصلولو د پاره ضروری دی (الف) د طالب علمانو په ګروپونو کښې حسابول (ب) معلومول چې نمبر اول، نمبر دویم او نمبر څلورم نه یوکار حلول غواړی او بیا دریم نمبرنه (ج) د درې واړونه دیو سوال انتخابول، حلول ځ، دریم نمبر حسابول. (د) ټولې نتیجې په تورو تختـه لیکل مثلاً د 648، 658، او 668 یوځل	سلیټونه تورو تختـه
4- په دریمه مشق پاڼه خبرې کول، د مثال تشریح کول (الف) معلومول چې د درې واړه ترلے شوی مساوات یو شان عددونه لری او نتیجه به ځ هم یو شے وی. (ب) د درې واړونه یو سوال حلول (ج) نتیجې په ترلے شوو بکسونو کښې لیکل (د) معلومول چې ولې حسابونه به دویم نمبر سره ترلے کیږی، او د مخکښې پشان ځ جاری ساتل، مشق پاڼه مکمل. (هـ) په آخر کښې ځ کلاسته لوستل، بحث پرې کول (یو شان سوالونه: 1/14/18 ، 2/4/6 ، 3/8/13 ، 5/7/15 ، 9/10/17 او 11/12/16	مشق پاڼه د2-57-3



ریاضی – دویم ټولګی | عنوان: ۔ نیمائی کاپۍ او ځلورمې ۔ پېژندل ، ۔ د ځلورمې ۔ پېژندل (1)

کال 2 – 58

د استاد مشغلې	د شاګرد مشغلې	درسي معاونات
	1 – نیمول	
– د ډوډۍ یا مېوې یوه ټوټه ښودل .	– د دغه ډوډۍ یا مېوې پۀ باب خبرې کول مثلاً د هغې د ذایقې ، قیمت او د خوړلو د وخت .	یوه ټوټه ډوډۍ یا مېوه
– طالب علمانو ته پوښتنه کول چې دا به دوه طالب علمانو ته څنګه تقسیمېږي .	– وېشل چې دغه ډوډۍ یا مېوه به نیمولے کېږي . یو طالب علم دغه ډوډۍ یا مېوه دوه نیمه کوي .	یو چاقو
– د ډوډۍ یا مېوې دغه دوه نیمې برخې ښودل ، طالب علمانو ته پوښتنه کول چې دغه ټوټې ته څۀ وئیلے کېږي .	– وېشل چې دا د ډوډۍ یا مېوې دوه ، نیمې ټوټې دی ، نیمائی کاپۍ ته اشاره کول ، وېشل چې هره برخه ئې یوه نیمائی ده او دواړه دوه نیمائی کاپۍ دی .	
– د ډوډۍ نیمائی کاپۍ دوه طالب علمانو ته د خوړلو دپاره ورکول .	– دغه نیمائی کاپۍ خوړل .	
– دا یو مستطیل شکله کاغذ ټوټه ښودل ، پوښتنه کول چې دا به څنګه دوه نیمه کېږي (2)	– وېشل چې دا به اول فقط کېږي او بیا به شلوے کېږي ، د یو طالب علم مخې ته راتلل او دغسې کول .	د کاغذ یوه ټوټه مثلاً اخبار
	2 – پۀ مشق پاڼه نیمائی کاپۍ جوړول	
– د طالب علمانو ته غوښتنه کول چې د ډوډۍ مشق پاڼې یا سخه برخې ته ګوري .	– څۀ چې ویې تشریح کوی ئې ؛ پخۀ ځنځله مکمل خیز ونه مثلاً یوه مڼه ، یوه ډوډۍ ، یو کاغذ ، یو لرګے ، یو ګیلاس او یوه پاڼه ، یوه ، نیمه به سوره کړے شوی وی .	مشق پاڼه ر 2-58-1
– غوښتنه کول چې ټول خیزونه د کرښو پۀ رسمولو سره نیمائی کړی او د هر خیز یوه ، نیمه سوره کړی (3)	– خیز ونه پۀ مشق پاڼه کښې تقسیمول ، نیمائی کاپۍ سوره کول ، د چک کولو دپاره یو کاونټر ته ښودل .	
	3 – ځلورمې کول ، ۔ د ځلورمې ۔ پېژندل	
– بله ډوډۍ یا مېوه ښودل ، د طالب علمانو ته پوښتنه کول چې که استاذ دغه ډوډۍ یا مېوه د ځلورو طالب علمانو ته ورکول غواړي نو څۀ به کوی	– وېشل چې خو ټوټې کول پۀ کار دی ، وېشل چې ډوډۍ به څلور برخې کېږي . یو طالب علم همدغسې کوی .	یوه ډوډۍ
– د ډوډۍ دغه څلور ټوټې ښودل ، پوښتنه کول چې د ډوډۍ دې څلورو ټوټو ته څۀ وائی .	– وېشل چې دې څلورو ټوټو ته ربعې یا څلورمې وائی ؛ یو بل پسې ټولو څلورمو ته اشاره کول ، وېشل چې هره ټوټه یوه څلورمه ده او ټولې څلور ربعې دی ، یوه مکمله ډوډۍ تر ځې جوړول .	
– د طالب علمانو ته پوښتنه کول چې دغه د ځلورمې طالب علمانو ته به څو څلورمې ورکولے کېږي (استاذ خپله څلورمه ساتی)	– وېشل چې دغه د ځلورمې طالب علمان به د ډوډۍ د ربعې اخلی (هر یو ته یوه ربعه)	
– یو مستطیل شکله کاغذ ښودل ، د طالب علمانو ته غوښتل چې کاغذ داسې فقط کړی چې یوه څلورمه ټرښه شلوے کېدے شی او د ربعې ربعې پاتې شی (4)	– یو طالب علم ئې پۀ عمل کښې ښۍ : پۀ څلورو مساوی برخو کښې فقط کول ، بیا ټرښه پۀ احتیاط یوه ربعه شلول . د نورو ورته کتل .	د کاغذ یوه پاڼه
	4 – د ځلورمې جوړول	
– د طالب علمانو ته غوښتنه کول چې د ډوډۍ مشق پاڼې لاندې برخې ته ګوري ، د ګلاس مثال پۀ تخته جوړول ، د ګلاس پۀ څلورو مساوی برخو دوېشلو دپاره کرښې ویستل ، د ګلاس ۔ د ځلورمې ۔ برخې سورے کول .	– د ځلورمو ۔ د ښودلو دپاره کرښې ویستل ، پۀ هر شکل کښې د ځلورمې سورے کول .	مشق پاڼه پ2-58-1 تخته
– طالب علمانو ته وېشل چې مشق پاڼه مکمله کړی ، مدد کول ، چک کول (5)		

درسي پلان: ر 2-58	ددې درسي پلان په باب څه نورې تبصرې

(1) طالب علمان د ټيمانۍ کانو او څلورمو د تصور سره په ډومې ټوکې کښې اشنا کړې شوبيدی (ر 1 - 62 وګورئ) ؛ دا درس د دوی زوړ معلومات تازه کوی او د هغې نه علاوه ماشومانو ته د مختلفو هندسی (جيو متری) اشکالو د درې څلورمې سره په پېژندلو کښې معلومات ورکوی .

(2) که چېرې کاغذ ډېر وی نو څومره چې کېدے شوه هغومره طالب علمان دې دغه کاغذونه په دوه ټيمائی برخو څېرې کړی .

(3) په نورو څېزونو کښې د يوځيز يوه ، ټيمه برخه سورے کېدے شی ، کيلاس به د يوې افقی کرښې په ذريعه قطع کيږی او د « نيم کيلاس » د ښودلو دپاره به د کيلاس لاندينه ټيمائی سورے کول کيږی مثلاً نيم کيلاس ډکول .

(4) که ممکن وی نو استاد به دکاغذ (اخبار) ډېرې پاڼې تياروی چې دا مشق د ډېرو طالب علمانو په ذريعه تکرار کړے شی .

(5) د « درې څلورمې » د تصور د پوهېدلو دپاره د امرور نه د « چې کرښې دې په مشق پاڼه بالکل ټيټې (مستقيمې) وی ، خو د طالب علمانو نه به غوښتلے کيږی چې دا کار په ممکنه سخت انجام کړی .



د ریاضی وړتیا درس	عنوان: د یوځیز ، یو درېمه ، او ، دوه درېمه ، پېژندل
خاکه ل 2-58	

د شاګردانو/استاد مشغلې	درسي معاونات
1- استاذ په ټوره تخته یوه دایره جوړوي چې دیوې برخې معنی لري. (الف) پوښتنه کول چې دا به څنګه پېژنو چې دا یوه مساوي نیمو برخو قطع کول کیږي چې دوو کسانو ته مساوي برخې ورسي. (ب) څو طالب علمان د څپلو ګوتو په ذریعه په ټوره تخته د غوڅولو (قطع کولو) چل ښیي. (ج) یو طالب علم یو مرکزي خط رسموي (جوړوي)، وئېل چې دغه برخې نیمائي ګڼي یې، یوې نیمائي ته اشاره کول، بیا بلې نیمائي ته.	ټوره تخته
2- استاذ یوه بله دایره جوړوي چې د ډوډۍ معنی لري، وئېل چې دا ډوډۍ به څلورو طالب علمانو ته په داسې ترتیب وېشلے کیږي چې هر یو ته یوې مساوي برخه ورسیږي. (الف) څو طالب علمان د ګوتو په ذریعه د ډوډۍ د پرېکولو چل بیا بیانی. (ب) یو طالب علم دوه کرښې رسموي (جوړوي)، ډوډۍ په څلورو مساوي برخو تقسیمول، وئېل چې دا څلور ، څلورمې دي. (ج) د څلورو طالب علمانو برخې د ډوډۍ طالب علم د ډوډۍ ، څلورمې ، په ټورولو سره ښودل، بیا دویمه څلورمه د دویم طالب علم دپاره ټورول، دریمه ربع د دریم طالب علم دپاره او څلورمه ربع د څلورم طالب علم دپاره.	ټوره تخته
3- استاذ په ټوره تخته یوه دریمه دایره جوړوي، وئېل چې دا ډوډۍ به درې طالب علمانو ته په درې مساوي برخو وېشلے کیږي (الف) پوښتنه کول چې دا به څنګه پرېکول کیږي. (ب) طالب علمان پرې بحث کوي، کوشش کول چې د دې مشکل کار دپاره یو حل پیدا کړي. (ج) صحیح کرښې رسمول. (د) استاذ پوښتنه کوي چې یو طالب علم ته د ټولې ، ډوډۍ ، نه څومره برخه رسي. (هـ) طالب علمان د ته د یو درېمې ، نوم ورکوي ، ، یوه دریمه ، په ټوره تخته سوري کول. (و) استاذ په باقي پاتې برخو بحث کوي یعنې بحث کول چې د ، یو درېمې ، دوه نورې ټوټې دي یعنې دوه دریمې پاتې دي.	
4- د استاذ د طالب علمانو نه غوښتنه کول چې یو مستطیل شکله کاغذ په درې مساوي برخو قط کړي او وئې ښیي. (الف) طالب علمان د ښیرلو او قط کولو تجویز وړاندې کوي. (ب) همدغسې ئې قط کول/ ښیرل.	کاغذ پوښته
5- د طالب علمانو د دویمې مشق پاڼې په وظائفو ځان پوهول، ټول ښیزونه په درې مساوي برخو (دریمو) تقسیمول، په پاسنۍ برخه کښې یو دریمه او په لاندینۍ برخه کښې دوه دریمه ټورول څنګه چې په دوو مثالونو کښې ښودلے شوي دي.	مشق پاڼه ل 2-58-2



دوئیم وړپسې درس	عنوان: د ـ یوې څلورمې ـ او ـ درې څلورمې ـ ، د ـ یو دریمې ـ او ـ دوه دریمې ـ او د یو څیز ـ نیمائی ـ پېژندل
خاکه ر 2-58	

د شاګردانو/استاد مشغلې	درسی معاونات
1ـ استاذ یو طالب علم ته وائی چې د کلاس پۀ مخکښې یومستطیل شکله کاغذ فط کړی ؛	یومستطیل شکله کاغذ مثلاً اخبار
(الف) بیا طالب علم همدغسې کوی .	
(ب) بل طالب علم کاغذ فط کوی او بیا یې خلاسوی ، او بیا بل پسې دغه دوه نیمائی کاغذونه اشاره کوی .	
2ـ دغه طالب علم ته وئیل چې د څلورمو ـ د لاسته راوستلو دپاره عمل جاری وساتی ؛	
(الف) بیا طالب علم بل وخت دکاغذ دغه ټوټې فط کوی ؛	
(ب) ټول یوې ـ څلورمې ـ ته اشاره کوی ، وئیل : دا دپاڼې ـ څلورمه ـ ده ، (څلور طالب علمان مختلفو څلورمو ته اشاره کوی).	
(ج) یوه ـ څلورمه ـ پخپلو لاسونو پټوی ، وئیل : "که زۀ یوه څلورمه پټه کړم ، باقی برخې یې ـ درې څلورمې ـ دی ـ " .	
3ـ طالب علمان دکاغذ یوه بله ټوټه پۀ ـ دریمو ـ فط کوی ، استاذ مدد کوی : فط کول ، اول ـ یو دریمه ـ بیا دوه دریمې ـ .	دکاغذ یوه بله پاڼه
4ـ استاذ پۀ تخته پنځۀ دائرې جوړوی ،	تخته
(الف) طالب علمان پورې ـ نیمائی کوی ، یوه نیمائی یې سورے کوی ،	
(ب) پۀ ـ څلورمو ـ کښې یوه څلورمه سورے کوی ،	
(ج) پۀ ـ څلورمو ـ کښې ـ درې څلورمې ـ سورے کوی ،	
(د) پۀ ـ دریمو ـ کښې ـ یو دریمه ـ سورے کوی ،	
(ه) پۀ ـ دریمو ـ کښې ـ دوه دریمې ـ سورے کوی .	
5ـ دریمې مشق پاڼې ته کتل ؛ پته لګول چې د بهرنی فریم (چوکاټ) پۀ برخو کښې سورے کړے شوې دائرې "یوه نیمائی" ، "یو څلورمه" ، "درې څلورمې" ، "یو دریمه" ، "دوه دریمې" ښئی .	مشق پاڼه ر 2-58- 3
(الف) پۀ منځنی چوکاټ کښې خیزونه تقسیم شوی دی او څۀ برخې سورے کړے شوی دی : "یوه نیمائی" سورے کړے شوېده ، یا "یوه څلورمه" یا "درې څلورمې" یا "یوه دریمه" یا دوه دریمې . خیزونه به پۀ خارجی چوکاټ کښې د موزونو دائرو سره تړلے کیږی . مثلاً هغه خیزونه او دائرې به چې پۀ یوشان وبستلے شوی سورے کړے شوی وی ، سره تړلے کیږی.	
(ب) طالب علمان همدغسې کوی ، استاذ د ځانله ځانله طالب علمانو سره مدد کوی .	
(ج) پۀ اخر کښې پۀ نتیجو بحث کول .	



ریاضی – دویم ټولګی

عنوان: تکرار: 2 سره ضرب او تقسیم (1)

ل 2 – 59

د استاد مشغلې	د شاګرد مشغلې	درسي معاونات
	۱- د ضرب تصور را په زړه کول	
- لسو طالب علمانو ته وښیل چې د کلاس مخې ته ودریږي، جوړې جوړول او لاسونه ښیول.	- د لسو طالب علمانو دکلاس مخې ته را ټول، جوړې جوړول او لاسونه ښیول.	
- د طالب علمانو نه غوښتنه کول چې د یو یو طالب علم د شمیرلو نه وخپر معلومه کړي چې دا څومره طالب علمان دي (2)	- بحث کول، وښیل چې د دې مطلب دا 2+2+2+2+2 یا 5×2 دے، او نتیجه ئې ۱۰ ده، دا په زړه تورې تختې لیکل.	تورې تختې
- په تورې تختې نړې شوې نقطې جوړول، لکه داسې	- بحث کول، وښیل چې د دې مطلب دے 6×2، او نتیجه ئې ۱۲ ده، رسم سره خوا کښې په تورې تختې لیکل 12 = 2 × 6	تورې تختې
طالب علمانو نه غوښتنه کول چې د ضرب متعلقه شکل معلوم کړي.		
	2- د ضرب مشق کول	
- طالب علمانو ته وښیل چې د پورتنۍ مشق پاڼې پاسنۍ برخې نه وګوري.	- د غه مشق پاڼې نه کتل، وښیل چې کوم سوالونه کول پکار دي.	مشق پاڼه ر2-59-1 (پاسنۍ برخه)
- طالب علمانو نه وښیل چې ځانله ځانله مشق پاڼه مکمله کړي.	- د نړې شوو نقطو د صحیح شمیر جوړولو په ذریعه د مشق پاڼې پاسنۍ برخه مکمله، متعلقه مساوات لیکل، په اخر کښې نتیجې کلاس نه لوستل، چک کول، اصلاح کول.	
	3- د تقسیم تصور را په زړه کول	
- خوارلسو طالب علمانو ته وښیل چې د کلاس مخې ته راشي.	- د خوارلسو طالب علمانو دکلاس مخې نه بغیر د څلورو خاص ترتیب نه ودریدل.	
- د طالب علمانو نه غوښتنه کول چې معلوم کړي چې د دې طالب علمانو نه د دوو دوو څومره ګروپونه جوړیدے شي.	- تمویښ ولاړ دې کول، چې طالب علمان دې په څو جوړه کښې ودریږي، د طالب علمانو د دوو دوو اووۀ ګروپونه جوړول، بیا ئې خپلو ځایونو ټول.	
- په تورې تختې خوارلس نقطې جوړول، طالب علمانو نه غوښتنه کول چې دا د دوو دوو په ګروپونو کښې تقسیم کړي (3)	- د جوړو نه د دائرې تاؤولو په ذریعه د نقطو ګروپونه جوړول، 7 جوړې معلومول، څلور چې دوی کوي هغه بیانول.	تورې تختې
- طالب علمانو نه غوښتنه کول چې د تقسیم متعلقه مساوات ولیکي.	- 14 ÷ 2 = 7 لیکل، دا څو ځله لوستل.	
	4 – د تقسیم مشق کول	
- طالب علمانو ته وښیل چې د پورتنۍ مشق پاڼې لاندینۍ برخې نه وګوري.	- مشق پاڼې نه کتل، څلور چې کول په کار دي هغه بیانول.	مشق پاڼه ر2-59-1 (لاندینۍ برخه)
- طالب علمانو نه وښیل چې مشق پاڼه ځانله ځانله مکمله کړي، مدد کول، چک کول.	- د دوو نقطو د ګروپونو نه دائرې تاؤولو په ذریعه د مشق پاڼې لاندینۍ برخه مکمله.	

درسي پلان: ر 2 - 59	ددې درسي پلان په باب څه نورې تبصرې

(1) مضرب په درسي پلان ر2-28 او تقسيم په درسي پلان ر 2 - 34 کښې معرفي شوې دي . استاذ دې دا درسي پلانونه ښه ولولي چې د تدريس د امسلو يوخو قدمونه پې را ياد شي .

(2) استاذ دې طالب علمان د شمېر کولو نه منع کړي ، هغه دې په دې زور وکړي چې د طالب علمانو جوړوه نه وکوري . استاذ دې طالب علمان دې تنه تيار کړي چې دوارې حلونه معلوم کړي ، يعنې جمع

$2 + 2 + 2 + 2 + 2 =$ او ضرب هم يعنې $5 \times 2 =$

(3)

ر٢	١ - ٥٩



د ډوممې وړپسې درس	عنوان: ۲ـ سره ضرب او تقسیم ، معکوس عملیات معلومول
خاکه د۲-59	

د شاګردانو/استاد مشغلې	درسي معاونات
۱ـ د استاذ پۀ توره تخته لیکل: ☐ = 2 × 3 ☐ = 2 ÷ 16 ؛ ☐ = 2 × 8 ☐ = 2 ÷ 6 ؛ د طالب علمانو مساوات مکمللول .	توره تخته
2ـ د استاذ پوښتنه کول چې د یو اړخ د یومساوات د بل اړخ مساوات سره څۀ تعلق شته ؛ (الف) د طالب علمانو معلومول چې 3 × 2 = 6 تعلق لري د 6 ÷ 2 = 3 سره ، او 8 × 2 = 16 تعلق لري د 16 ÷ 2 = 8 سره ، (ب) د استاذ د طالب علمانو نه غوښتنه کول چې یو تصویر جوړکړي، چې ۳ × 2 ښکۍ . (ج) د طالب علمانو د نقطو درې جوړې جوړول ، (د) د طالب علمانو نه غوښتنه کول چې یو تصویر جوړکړي چې ۶ ÷ 2 ښکۍ . (هـ) د طالب علمانو 6 نقطې جوړول ، ددوی د جوړو نه دائرې تاوول، معلومول/وښول چې د ۳ × 2 مطلب دے د دوو نقطو 3 جوړې، او د ۶ ÷ 2 مطلب دے د دوه دوه نقطو پۀ درې ګروپونو ۶ تقسیمول .	
3ـ هم دغه شان عمل ۸ × 2 او 16 ÷ 2 سره کول ، جوړول ، پۀ مساواتو یو بل پسې بحث کول ، د 2 نمبر (هـ) پشان د دوو عملیاتو پۀ منځ کښې تعلق بیانول .	توره تخته
4ـ دوئیې مشق پاڼې نه کتل ، پۀ مثال بحث کول . (الف) معلومول چې دوه معکوس عملیات یو ځای کړے شوی دی ، (ب) د یې اړخ د مساواتو د مکملولو پۀ ذریعه مشق پاڼه مکمللول ، بیا د ګڼ اړخ د معکوس عملیې پۀ ذریعه د مساوات معلومول ، دوه اړخیزول مساوات سره نژدې . (ج) پۀ اخر کښې پوښتل مساوات کلاس نه پۀ جوړو کښې لوستل لکه: 1 × 2 = 2 ، 2 ÷ 2 = 1 ، 2 × 2 = 4 ، 4 ÷ 2 = 2	مشق پاڼه ۲-59-2



دویم ورپسې درس	عنوان: ۲ سره د ضرب او تقسیم مشق کول
خاکه ر2-59	

د شاګردانو/استاد مشغلې	درسی معاونات
1- د طالب علمانو د ۲۰ د جدول (پیاړې) مخ پۀ وړاندې او مخ پۀ شا خوځله عددونه وښیل . 2- د دریځمې مشق پاڼې پۀ سر کښې د پومبې برخې غیب عددونه لیکل ، مکملې جملې کلاس ته لوستل . 3- د طالب علمانو یو سوال پۀ تخته حلول : $7 \times 2 = \square$ او $\square \times 2 = 20$ 4- د مشق پاڼې پۀ منځ کښې 2 نمبر سوال مکملول ، د چک کولو دپاره ټول مساوات کلاس ته لوستل . 5- 3 نمبر سوال ته کتل ، پۀ کارځان پوهول ، (الف) ټول مساوات مکملول ، نتیجې حسابول ، هر سوال انډول نتیجو سره تړل . (ب) د اخرۍ چک کولو دپاره ټول مساوات کلاس ته لوستل ، داستاذ د ضرورت پۀ وخت د ځانله ځانله طالب علمانو مدد کول .	مشق پاڼه ر2-59-3



دویم ورپسې درس	عنوان: د 2 دپاړې (ضرب زبانی) او د 5 دپاړې (ضرب زبانی) نه د ضرب د رقمونو جمع کول
خاکه ر 2-32	

د شاګردانو/استاد مشغلې	درسی معاونات
1- د استاذ غوښتنه کول چې د 2 دپاړې (ضرب زبانی) نه مخ پۀ وړاندې او مخ پۀ شا ټول رقمو ووائی.	
2- د استاذ د 2 دپاړې (ضرب زبانی) نه د ډیرو کارونو غوښتنه کول مثلاً $\square = 2 \times 3$ ، $\square = 2 \times 8$	
3- د استاذ غوښتنه کول چې د 5 دپاړې نه مخ پۀ وړاندې او مخ پۀ شا ټول رقمونه ووائی.	
4- د استاذ د 5 دپاړې (ضرب زبانی) نه د ډیرو کارونو غوښتنه کول مثلاً $\square = 5 \times 7$ ، $\square = 5 \times 3$	
5- د درېیمې مشق پاڼې پاسنۍ برخې ته کتل، پۀ کار ځان پوهول؛ د طالب علمانو ټول حلونه پخپله ټول حلونه معلومول.	مشق پاڼه ر 2-32-3
6- د استاذ چک کول؛ د کرښو جوړکړې شوې تصویر که صحیح وی نو د اسې به ښکاری:	
7- د درېیمې مشق پاڼې لاندینۍ برخې ته کتل؛ پۀ کار ځان پوهول؛ د طالب علمانو ټول حلونه پخپله معلومول.	مشق پاڼه ر 2-32-3
8- د استاذ چک کول، که د کرښو جوړکړې شوې تصویر صحیح وی نو د اسې به ښکاری:	



ریاضی ـ دویم ټولګی	عنوان: تکرار : "5" سره ضرب او تقسیم (۱)
ل 2 ـ 60	

د استاد مشغلې	د شاګرد مشغلې	درسي معاونات
ـ طالب علمانو ته غوښتنه کول چې "5" خوځلې جمع کړي، نتیجې ټ توره تخته ټ یوکالم کښې لیکل یعنې 5، 10 .... 50 . ـ طالب علمانو ته وئیل چې عددونو سره خواکښې اصطلاح د ضرب ټ طریقه لیکل.	۱ـ د "5" جدول (پاڼه) ټ ډډه کول ـ وئیل 0 + 5 = 5، 5 + 5 = 10، 10 + 5 = 15، 15 + 5 .... تر 45 + 5 = 50 پورې ـ 5 سره خواکښې لیکل 1 × 5 = ، 10 سره خواکښې لیکل 2 × 5 = اوداسې نورتر 10 × 5 = 50 پورې ـ ټول مساوات ټ یادونه کول، زده کول یعنې د 1 × 5 = نه 10 × 5 = ... پورې	توره تخته
ـ طالب علمانو ته غوښتنه کول چې توره تختې نه وګوري او 5 ضرب زباني (پاڼه) یاده کړي، د یادولو د پاڼې څخه ورکول (2) ـ طالب علمانو ته پوښتنه کول چې زباني ضرب (پاڼه) څوک په یادونه کارول غواړي (ټول مساوات دې ټ یادونه وایي)	ـ دیوخو طالب علمانو یوبل پسې د کلاس مخې ته راتلل، ټ یادونه د 5 زباني ضرب (پاڼه) تکارول، وئیل: 1 × 5 = 5، .... دنورو ټ توره تخته چک کول	
ـ طالب علمانو ته وئیل چې د "5" سره د ضرب مشق پاڼې پاسنۍ برخې وګوري ـ طالب علمانو ته وئیل چې مشق پاڼې د برخه مکمله کړي (3)	2ـ "5" سره د ضرب مشق کول ـ مشق پاڼې ته کتل، ټ کارځای پوهول ـ ځانله ځانله د مشق پاڼې پاسنۍ برخه مکمل، د پوښتې ټ دائره کښې د 5 د ضرب زباني (پاڼې) د عددونو سلسله ډکول، بیا ټ یکسونوکښې متعلقه مساوات لیکل، یوکاوندې سره یوځای چک کول	مشق پاڼه ل 2-60-1 (لاندینۍ برخه)
ـ ټ توره تخته 35 نقطې (وړې دائرې) جوړول، طالب علمانو ته پوښتنه کول چې د دوی د پینځو نقطو څومره ګروپونه جوړولے شی (4) ـ طالب علمانو ته وئیل چې متعلقه مساوات ولیکی (5)	3ـ "5" سره د تقسیمولو تکارول ـ وئیل چې نقطې به د پینځو ټ ګروپونو کښې تقسیمولے شی، د پینځو ګروپونو نه دائره تا وګل، ګروپونه شمېرل، وئیل چې پینځو نقطو 7 ګروپونه دی ـ بحث کول، کوشش کول، مساوات معلومول یعنې 35 ÷ 5 = 7، ډاډه کول توره تخته لیکل	توره تخته
ـ طالب علمانو نه غوښتنه کول چې د "5" مشق پاڼې لاندینۍ برخې وګوري ـ طالب علمانو ته وئیل چې مشق پاڼې دا برخه ځانله ځانله مکمله کړي	4ـ ټ "5" د تقسیمولو مشق کول ـ مشق پاڼې ته کتل، ټ کارځای پوهول ـ مشق پاڼه مکمل، د نقطو عدد شمېر، د 5 نقطو ګروپونه جوړول یاد 5 ګروپونه شمېرل، مساوات مکمل، نتیجې کلاسرته لوستل، چک کول، اصلاح کول.	مشق پاڼه ل 2-60-1 (لاندینۍ برخه)

درسي پلان: د ۲ - 60	ددې درسي پلان پۀ باب څۀ نورې تبصرې

(1) «5» سره ضرب او تقسیم پۀ درسي پلانونو د 2 - 30 او د 2 - 35 کښې معرفي شوې دي. د تدریسي اصولو د یوځای قدموتو د رایۀ زیرۀ کولو د پاره دې استاذ دا دواړه درسي پلانونه ولولي.

(2) د سبق دې مرحلې تۀ پر وخت نۀ دې ورکول پکار ځکه چې ددې مطلب صرف یو مختصر تکرار دي.

(3) کلاچې طالب علمان نتیجې چې کوي یا کلاسته لولي، نو پۀ آخر کښې دې بکسونه دوه ځله پۀ مختلفو شکلونو کښې ولوستلے شي مثلاً $5 \times 1 = 5$ او $1 \times 5 = 5$

4- استاذ دې د طالب علمانو د تقسیمولو د عبارت د رایادولو پۀ ذریعه مدد وکړي.

5- استاذ د صحیح مساوات بنودلو پۀ ذریعه هم مدد کولے شي مثلاً طالب علمانو ته ددې د رایادولو پۀ ذریعه چې کله دوې پۀ «2» تقسیمول کول نو څۀ پۀ کې وو.



د ړومبی وړپسې درس	عنوان: تکرار: "10" سره ضرب او تقسیم
خاکه ړ 2-60	

د شاګردانو/استاد مشغلې	درسی معاونات
1- د استاذ د طالب علمانو نه غوښتنه کول چې 100 پورې دلیزو په ذریعه شمېرو کړي، د اعددونه په تخته کې یو کالم کښې لیکل یعنې 10، 20، 30 100	تور تخته
2- د استاذ وېنل چې لسو سره ضرب وکړي د 1 × 10 = 10 نه شروع کول (2 × 10 = 20 .... 10 × 10 = 100)،	
(الف) د ړومبی کالم د عددونو سره خواکښې متعلقه عددونه لیکل	
(ب) د طالب علمانو معلومول چې لسو سره د شمېرلو او 1، 2، 3 ... 10 سره د ضربولو هم یو شان نتیجې وي.	
3- د خاموشه جواب" لوبه کول، د استاذ عددونه وېنل لکه 3×10= 7×10= 6×10= ،....	تور تخته
(الف) د یو طالب علم تورې تختې ته وتلل، متعلقه عددته په خاموشۍ اشاره کول	
(ب) د نورو وړته په خاموشۍ کتل، که چرې یو طالب علم غلطی کړی نو صحیح عددته د اشارې کولو په ذریعه ئې اصلاح کول	
4- د استاذ د یوبل "خاموشه جواب" لوبې تشریح کول:	
(الف) په یو قطار کښې لیکل په کالم کښې نه: 1، 2، 3 ... 10	
(ب) د اسې سوالونه ورکول لکه 40 ÷ 10، 80 ÷ 10، 20 ÷ 10	
(ج) ځانله ځانله طالب علمانونه غوښتنه کول چې صحیح عددته په خاموشۍ اشاره وکړي	
5- د وېښې مشق پانې ته کتل، په کارځان پوهول	مشق پانې ړ 2-60-2
(الف) انډول نتیجو سره د سوالونو ترلو په ذریعه مشق پانې مکمل کول	
(ب) د چک کولو د پاره نتیجې کلاس ته لوستل	



دوئیم وړپسې درس	عنوان: د 2، 5 او 10 جدولونو متعلق کلي او پ مشقونه
خاکه ر 2-60	

د شاګردانو/استاد مشغلې	درسي معاونات
1- د درېیمې مشق پانې پاسنۍ برخه کتل (الف) طالب علمانو ته وئیل چې څۀ دوی وینی هغه بیان کړی (ب) د طالب علمانو وئیل چې 10 داسې یکسونه دی چې ضرب عددونه (ضربي اصطلاح کاپي) لري، او 6 دائرې عددونه لري، د "30 = عدد 3 × 10" سره تړلے شوے دے ځکه چې 3 × 10 = 30 (ج) طالب علمانو نه غوښتنه کول چې کربنې داسې وباسی چې پوټل یکسونه د نتیجو د دائرو سره وتړلے شی 2- د طالب علمانو مشق پانې مکمول (الف) معلومول چې 3 دائرې یعنې 12، 18، 25 د هرې دائرې یو یکس سره تړل پکار دی یعنې پوټل درې یکسونه، 2 دائرې د هرې دائرې دوو یکسونو سره تړل پکار دی یعنې پوټل څلور یکسونه، او یو دائرو یعنې 10 دریو یکسونو سره تړل پکار دی. (ب) نتیجې کلاسته لوستل	مشق پانې ر 2-60-3 (پاسنۍ برخه)
3- د استاذ طالب علمانو نه غوښتنه کول چې د درېیمې مشق پانې لاندینۍ برخه وکوری (الف) د طالب علمانو معلومول چې پۀ یو دائرو کښې به شمېر کولے شی، د "100 ته 10" نه شروع کول، نتیجه پۀ یکس کښې لیکل، دې ته پۀ 2 ... کښې ضرب ورکول او داسې نور، د استاذ وئیل چې که چرې پوټې نتیجې پۀ خالې یکسونو کښې صحیح لیکلے شوې وی نو حساب به پۀ "100" ختمیږی. (ب) د طالب علمانو مشق پانې مکمول: (ج) د استاذ دې هغه طالب علمانو ته اجازت ورکړی چې خپل سوالونه پۀ صحیح ختم کړی وی چې دهغه طالب علمانو مدد وکړی چې سوال حل کول ورته ګران وی.	مشق پانې ر 2-60-3 (لاندینۍ برخه)
4- د استاذ غوښتنه کول، د طالب علمانو بحث کول، وئیل کوم درسي پلان یا مشق پانې یا کار دوی پرې خوښ وو (د اخري ډکار کتاب نه یا د پوټل دوئیم پوټلګي نه) - که یو خو ځله دور بحث شروع شو نو دادې پۀ بل سبق کښې جاري وساتلے شی، کله چې طالب علمان د دوئیم پوټلګي د کار کتاب وینه ختم کړی.	



ریاضی - دوہم ټولګی

د موضوعاتو فهرست

درسی پلان	عنوان	ورپسې درسونه	مخه
31	د 2 او 5 د پاړې (زیانی ضرب) مشق کول.	1- د دوو او پینځو د پاړو مخلوط مشقونه	4 - 7
		2- د پینځو او دوو د پاړو مخلوط مشقونه	
32	د دوه د پاړې (ضرب زیانی) نه د ضرب دوه رقمونه جمع کول.	1- د 5 د پاړې (ضرب زیانی) نه د ضرب د رقمونو جمع کول (لکه 5×1 + 5×3 = 5×4)	8 - 11
		2- د 2 د پاړې (ضرب زیانی) او د 5 د پاړې (ضرب زیانی) نه د ضرب د رقمونو جمع کول.	
33	د ضرب د رقمونو تفریق کول	1- د 2 د پاړې نه د ضرب د رقمونو د جمع او تفریق مشق کول.	12 - 15
		2- د 2 او 5 د پاړې نه د جمع او تفریق د رقمونو مشق کول.	
34	د تقسیم بنودنه (پۀ 2 تقسیمول)	1- پۀ 2 د تقسیمولو مشق کول.	16 - 19
		2- د تقسیم مشق کول، ضرب ته ورته تعلق ورکول.	
35	پۀ 5 تقسیمول.	1- پۀ 5 تقسیمولو کښې مشق کول.	20 - 23
		2- پۀ تقسیم او د 5 ضرب / تقسیم کښې مهارت حاصلول.	
36	پۀ 2 او 5 باندې د تقسیمولو مشق کول.	1- د داسې عددونو مساوات پۀ معلومولو/ حلولو مشق کول چې پۀ 2 او 5 د تقسیم قابلیت ولري.	24 - 27
		2- نور مشق.	

د موضوعاتو فهرست

درسی پلان	عنوان	ورپسې درسونه	صفحه
37	د 10ـ د پاڑې معرفي کول.	1- د لسو د ګروپونو په پیدا کولو کښې نور مشق	31 - 28
		2- د 10ـ په پاڑه مشق کول.	
38	په 10ـ تقسیمول	1- د لسو په ګروپونو کښې تقسیمول یا په 10ـ تقسیمول.	35 - 32
		2- د 10ـ تقسیم او ضربونه یوبل سره یوځای کول.	
39	د ضرب د مبادلوی خاصیت مشق کول	1- د 2، 5 او 10 د پاڑونه د ضرب د مبادلوی خاصیت په رقمونو مشق کول.	39 - 36
		2- د 10ـ/ مخلوط مشقونو په مبادلوی خاصیت کښې مشق.	
40	د ضرب مشق کول، د مساواتو د لیکلو نوے شکل استحمالول.	1- ضرب او تقسیم، په نوی شکل کښې د ضرب د مساواتو د لیکلو مشق کول.	43 - 40
		2- په مخلوطو عملیو کښې مشق.	
41	په دوه بعده (دوه اړخیزه) اشکالو کښې په فرق پوهېدل (مربع کانې، دائرې، مثلثونه).	1- د مستطیلونو او مربع کانو منځ کښې فرق کول؛ تصویرونه د اشکالو له مخې نن تیبول.	47 - 44
		2- د مثلثونو، مستطیلونو، مربع کانو اودائرو د پېژندلو دپاره نور مشق.	
42	د 100 په قدمونو کښې تر 1000 پورې د عددونو سلسلې ته پراختیا ورکول.	1- د 1000 پورې د مکملو سلیزو د لیکلو او لوستلو مشق کول.	51 - 48
		2- د 1000 پورې سلیزو ته ترتیب ورکول.	

د موضوعاتو فهرست

درسی پلان	عنوان	ورپسې درسونه	صفحه
43	1000 پورې د مکملو سلګونو جمع او تفریق کول؛ د 1000 نقطو یو جدول استعمالول.	1- د مکملو سلګونو د جمع او تفریق مشق کول.	55 - 52
		2- د 500 او 1000 روپو نوټونه معرفي کول، مکمل سلګونه ښودل.	
44	د 2000 پورې د لسو لسو پۀ قدم شمېر کول.	1- د لسو لسو پۀ قدم تر 500 پورې شمېرل.	59 - 56
		2- د لسو لسو پۀ قدمونو تر 1000 پورې شمېرکول.	
45	د 300 پورې سلسله کښې د مکملو لسیزو جمع او تفریق	1- د 1000 پورې سلسله کښې د مکملو لسیزو جمع او تفریق.	63 - 60
		2- 1000 پورې پۀ سلسله کښې د مکملو دهائیو پۀ ذریعه د جمع او تفریق مشق کول.	
46	1000 پورې پۀ سلسله کښې د یو یو پۀ قدم شمېرکول.	1- د 1000 پورې سلسله کښې د شمېر مشق کول.	67 - 64
		2- 1000 پورې سلسله کښې پۀ دوه دوه قدمونو کښې شمېر کول.	
47	پۀ عددی جدول کښې تر 1000 پورې عددونه پۀ صحیح ترتیب لیکل.	1- 1000 پورې عددونه مقابله کول، د دې ترتیب صحیح کول.	71 - 68
		2- خوا پۀ خوا عددونه او خوا پۀ خوا لسیزه معلومول.	
48	1000 پورې پیسې شمېرل؛ د 1 روپه، 2 روپه جمع اوتفریق کول.	1- 1000 پورې روپۍ شمارل؛ 1 روپه د مکملولسیزونه تفریق کول.	75 - 72
		2- 1000 پورې روپۍ شمېرل؛ 10 روپه د 3 هندسی عددونو نه تفریق کول.	

د موضوعاتو فهرست

درسی پلان	عنوان	ورپسې درسونه	صفحه
49	د ۱۰ او ۲۰ جمع او تفریق، د ۱۰۰۰ پورې سلسله کښې د لسیزو اړول.	1- لسیزه د درې رقمی عددونو سره جمع کول او تړې تفریق کول ځې.	76 - 79
		2- د درې رقمی عدد سره د 1، 2، 10 عددونو جمع کول او تړې تفریق کول ځې؛ چک کول.	
50	1000 پورې پۀ سلسله کښې د مکملو سلیزو سره د یو رقمی، دوه رقمی او درې رقمی عددونو جمع.	1- مکملو لسیزو سره د یو رقمی، دوه رقمی او درې رقمی عددونو د جمع مشق کول.	80 - 83
		2- پۀ درې قدمونو کښې مکملو سلیزو سره د درې رقمی عددونو جمع.	
51	1000 پورې کږو وړو دوه رقمی عددونو سره د سلیزو او لسیزو جمع	1- پۀ دوه قدمونو کښې د دوه رقمی عددونو سره جمع.	84 - 87
		2- د سلیزو د اړولو نه بغیر 1000 پورې د درې رقمی عددونو جمع.	
52	د دوه، دوه رقمی عددونو او د دوه درې رقمی عددونو جمع د اړولو نه بغیر، پۀ کالمونو (ستونونو) کښې حسابول.	1- پۀ کالمونو کښې بغیر د اړولو نه د درې رقمی عددونو د جمع مشق کول.	88 - 91
		2- پۀ کالمونو کښې د درې رقمی عددونو جمع، یو ساده شکل استعمالول، نتیجې قیاس کول.	
53	د سلیزو د اړولو نه بغیر 1000 پورې د عددونو نه د کږو وړو دوه رقمی عددونو تفریق.	1- د سلیزو د اړولو نه بغیر د دوه رقمی عددونو د تفریق اسانول.	92 - 95
		2- د سلیزو نه بغیر د اړولو 1000 پورې عددونو نه د کږو وړو درې رقمی عددونو تفریق.	
54	د دوه رقمی او درې رقمی عددونو تفریق کول بغیر د قرضولو نه، پۀ کالمونو کښې حلول (حسابول)	1- پۀ کالمونو کښې د درې رقمی عددونو د تفریق مشق کول؛ بغیر د قرضولو.	96 - 99
		2- پۀ کالمونو کښې د درې رقمی عددونو تفریق، یو ساده شکل استعمالول.	

د موضوعاتو فهرست

درسی پلان	عنوان	ورپسې درسونه	صفحه
55	پۀ کالمونو کښې ددرې رقمی عددونو د جمع د چک کولو دپاره د برعکس عملیو استعمالول	1- پۀ کالمونو کښې د درې رقمی عددونو د تفریق د چک کولو د پاره د برعکس عملیو استعمالول .	103 - 100
		2- د چک کولو دپاره د برعکس عملیاتو د حسابولو مشق کول ، درې رقمی عددونه استعمالول.	
56	د 999 پورې ددرې ، دوه رقمی او درې ، درې رقمی عددونو جمع	1- د درې ، درې رقمی عددونو جمع ، د مجموعو مقابله کول .	107 - 104
		2- د درې رقمی عددونو جمع ، دروپو مختلف مقدارونه سره مقابله کول .	
57	د جمع د ۀ تبادلوی خاصیت ۀ نه کار اخیستل	1- د اصطلاح د استعمال نه بغیر د جمع د ۀ تبادلوی خاصیت ۀ پۀ حقله نور مشق .	111 - 108
		2- د دغسې سوالونو معلومول/ حسابول چې نتیجه ئې یوشان راځي .	
58	ۀ نیمائی کاپی ۀ او ۀ خلورمې ۀ پېژندل ، ۀ درې خلورمې ۀ پېژندل	1- د یو څیز ۀ یو درېمه ۀ او ۀ دوه درېمه ۀ پېژندل .	115 - 112
		2- د یوې خلورمې ۀ او ۀ درې خلورمې ۀ ، د ۀ یو درېمې ۀ او ۀ دوه درېمې ۀ او د یو څیز ۀ نیمائی ۀ پېژندل .	
59	تکرار : ۀ 2 ۀ سره ضرب او تقسیم	1- ۀ 2 ۀ سره ضرب او تقسیم ، معکوس عملیات معلومول.	119 - 116
		2- ۀ 2 ۀ سره د ضرب او تقسیم مشق کول.	
60	تکرار : ۀ 5 ۀ سره ضرب او تقسیم	1- تکرار : ۀ 10 ۀ سره ضرب او تقسیم .	123 - 120
		2- د 2 ، 5 او 10 جدولونو متعلق کارونو مشقونه .	

ریاضی ـ دویم ټولګی	عنوان: د ضرب د رقمونو تفریق کول (۱)
ل 2 ـ 33	

د استاد مشغلې	د شاګرد مشغلې	درسي معاونات
	۱ ـ د ضرب د رقمونو د جمع کولو مشق کول	
	ـــ دوو طالب علمانو مخې ته راتلل او خواپۀ خوا ودریدل ، یوبل ته لاسونه ورکول (2)	تورو تختــه
ـــ پۀ تورو تختــه ۲×۱ = لیکل ، غوښتنه کول چې دغه شمیر طالب علمان دې مخې ته راشي .		
ـــ دې وروسۍ رقم پۀ خواکښې ۲×۱ = لیکل ، د طالب علمانو نه غوښتنه کول چې همدغه شان عمل وکړي .	ـــ بحث کول ، تجویزونه وړاندې کول ؛ دوو نورو طالب علمانو مخې ته راتلل ، دې وروسۍ دوو طالب علمانو خواکښې ودریدل .	
ـــ د مساوات علامه ګې پۀ خواکښې لیکل یعنې ۲×۱ + ۲×۱ = □	ـــ معلومول : ۲×۱ + ۲×۱ = ۲×۲ ، دغه پۀ تورو تختــه لیکل (3)	
ـــ دې وروسۍ دوو مخې ته راتلل او نورو جوړو شاته ودریدل .	ـــ د دې نورو جوړو مخې ته راتلل او نورو ـــ د غیږنو طالب علمانو جواب ورکول ، دې وطالب علم پۀ تخته لیکل « ۲×۲ + ۲×۳ = ۲×۵ » ، د جوړو پۀ شمیرلو سره . دې وطالب علم چک کول چې آیا پۀ ړ شتیا سره ۵ × ۲ طالب علمان مخې ته ولاړدی .	
ـــ لاندې « ۲×۵ + ۲×۵ » لیکل	ـــ د طالب علمانو ښځۀ نورې جوړې مخې ته راتلل او د نورو شاته ودریدل .	
ـــ د حــل غوښتنه کول	ـــ جواب ورکول ، لیکل ۲×۵ + ۲×۵ = ۲×۱۰ ؛ دې طالب علم چک کول (د پاس پۀ شان)	
	۲ ـ د رقمونو د تفریق کولو بنسټونه	
ـــ پۀ تورو تختــه لیکل : « ۲×۱۰ ـ ۲×۱ »	ـــ تجویز وړاندې کول چې د مخې ته ولاړ طالب علمانو یوه جوړه به ببرته خپل ځای ته دځي ؛ دې وې جوړې خپل ځای ته ټلل .	تورو تختــه
ـــ د مساوات د مکمللولو غوښتنه کول .	ـــ بحث کول ، پۀ تورو تختــه لیکل ۲×۱۰ ـ ۲×۱ = ۲×۹ « ؛ د طالب علمانو د پاتې جوړو په شمیرلو سره چک کول .	
ـــ پۀ تورو تختــه لیکل : « ۲×۹ ـ ۲×۲ »	ـــ د طالب علمانو د دوو جوړونه غوښتنه کول چې ببرته خپلو خپلو ځایونو لاړې شي . ټلل ګې .	
ـــ د مساوات د مکمللولو غوښتنه کول .	ـــ بحث کول ، پۀ تورو تختــه لیکل : ۲×۹ ـ ۲×۲ = ۲×۷ « ؛ د نورو پاتې جوړو پۀ شمیرلو سره چک کول .	
ـــ د مخې ته ولاړو طالب علمانو دې وې جوړې نه غوښتنه کول چې ببرته خپل ځای ته لاړ شي .	ـــ د طالب علمانو دې وې بل جوړې ببرته خپل ځای ته ټلل ؛ د نورو اندازه کول چې اوس پۀ تخته ځۀ لیکل پۀ کار دی ، بالاخره پۀ تخته لیکل : ۲×۷ ـ ۲×۱ = ۲×۶ ؛ د باقي پاتې جوړو پۀ شمیرلو سره چک کول .	
ـــ د نورو د دې جوړو پۀ کښولو سره د همدغه عمل غوښتنه کول .	ـــ بحث کول ، لیکل ، ۲×۶ ـ ۲×۳ = ۲×۳ ، چک کول	
ـــ د پاتې نورو جوړو کښول .	ـــ بحث کول ، د حل معلومول : ۲×۳ ـ ۲×۰ = ۲×۳ ؛ پۀ تورو تختــه ګې لیکل (4)	
	3 ـ پۀ مشق پانو د رقمونو تفریق کول	
ـــ د مشق پانې پۀ پاسنې برخــه د طالب علمانو نه کارکول غوښتل او معلومول چې څۀ کول پۀ کار دی .	ـــ مثال تدکتل ، د کار معلومول	مشق پانه ل 2-33-1
ـــ غوښتنه کول چې د مشق پانې پاسنې برخــه دې پۀ دوه دقیقو کې مکمله کړې شي . (5)	ـــ د مشق پانې پاسنې برخــه د دانو یال سره یوځای مکمللول	
ـــ د مشق پانې لاندینۍ برخې ته د کتلو غوښتنه کول که ضرورت وو د کار تشریح کول (6)	پۀ اخر کښې د تولو حلونو کلاس ته پۀ لوستلو سره چک کول .	
ـــ د دې برخې د مکمللولو د پاره بلنه ورکول .	ـــ پۀ دې برخــه چې څۀ کول کیږي بحث پرې کول .	
	ـــ د دې برخې مکمللول ؛ بالاخره د حلونو لوستل .	

درسي پلان: ر 2-33	ددې درسي پلان پۀ باب څۀ نورې تبصرې

(1) 2 × 2 یا 3 + 1 یا 8 − 4 ته رقمونه وئیل کیږی

(2) پۀ آخرکښې به ۱۰ × ۲ = ۲۰ طالب علمان دکلاس مخې ته پۀ هغه کافی پراخ ځای کښې ودریږی کوم چې ورته استاد تیارکړے دے ، که ضرورت وو نودا مشق به دکلاس نه بهرچرته کیږی .

(3) استاد به دغه لیکلو ته پۀ خاص ډول ترتیب ورکوی چې بیاپۀ آخرکښې دیوبل دلاندې لیکلے کیږی .

(4) داقسم رقم ډېر نه دے لیکلے شوے او طالب علمان ورسره ډېره اشنائی نلری ، نوددې وجې نه به استاددې پوښتنې پۀ ذریعه مرسته کوی : که چرې هیڅ باقی پاتې نشی نودکوم عدد لیکل پۀ کار دی؟ .

(5) دکښې اړخ ځینې مساوات ډېر فکرغواړی - نواستاد به دبېل بېل طالب علم سره مدد کوی .

(6) که چرې طالب علمان دمشکلاتوسره مخامخ شی نود ډومبی کار (10×5 − 2 × 5) مشق به پۀ تورې تخته کیږی .

ر ۲	۱-۳۳
۲ × ۸ − ۲ × ۵ =	×
۲ × ۶ − ۲ × ۴ =	×
۲ × ۷ −	× = ۲ × ۵
۲ × ۹ −	× = ۲ × ۰

۲ × ۱۰ − ۲ × ۱ =	۲ × ۹
۲ × ۹ − ۲ × ۳ =	۲ ×
۲ × ۶ − ۲ × ۴ =	۲ ×
۲ × ۰ = ۲ × − ۲ ×	۲ ×

۵ × ۹ − ۵ × ۸ =	×
۵ × ۶ − ۵ × ۳ =	×
۵ × ۷ −	× = ۵ × ۴
۵ × ۳ −	× = ۵ × ۰

۵ × ۱۰ − ۵ × ۲ =	۵ × ۸
۵ × ۸ − ۵ × ۳ =	۵ ×
۵ × ۵ − ۵ × ۱ =	۵ ×
۵ × ۰ = ۵ × − ۵ ×	۵ ×

د ټولګي وړتیا درس	عنوان: د 2 ، ډیاړې نه ضرب درقمونو جمع او تفریق مشق کول
خاکه	ر 2-33

د شاګردانو / استاد مشغلې	درسي معاونات
1 - داستاد پۀ تورو تخته لیکل : $6 \times 2 + 3 \times 2 = \boxed{2\times}$ $2 \times 4 - 2 \times 9 = \boxed{2\times}$ د طالب علمانو نه غوښتل چې همدغه شان عمل به دماشومانو پۀ جوړولو خنګه وکړي شي .	تورې تخته
2 - د طالب علمانو بحث کول ، خۀ چې کول پۀ کاردی تجویز ځې وړاندې کول (اول به د طالب علمانو شپږ جوړې منې ته راځي ؛ بیا به د طالب علمانو د ډې نورې جوړې ددوی خواته ودریږي ، بیا به د طالب علمانو نه هم وړې جوړې بیا کښینې)	
3 - داستاد غوښتنه کول چې د خپل تجویز مطابق دې عمل وکړي شي (د جوړې په ترتیبولو کښې مدد کول) ، طالب علمان تشویق کول چې پۀ منزه منزه عمل وکړي خوښۀ پوهه سره ؛ د مساوات هغه برخې ته پۀ اشاره کولو سره مدد کول د کوم مشق چې اوس اوس وشو . پۀ تورې تخته دخالي بکسونو کول ؛ د طالب علمانو دباقي پاتې جوړو پۀ شمېر لو سره چک کول .	
4 - داخري مساوات پۀ خواکښې داستاد د یوبل بکس جوړول : $2 \times 9 - 2 \times 4 = \boxed{2\times 5} = \square$ ؛ د طالب علمانو د نتیجې مونډل / لیکل یعنې ، " 10 "	تورې تخته
5 - پۀ دوو نورو مساواتو سره همدغه شان عمل جاري ساتل . مثلاً $2 \times 8 - 2 \times 3 = \boxed{2\times}$ $2 \times 5 + 2 \times 2 = \boxed{\times}$ د طالب علمانو همدغه شان عمل کول ، د طالب علمانو بحث کول ، تجویزونه وړاندې کول چې خۀ کول پۀ کاردی ، بیا عمل کول او د بکسونو پوکول ؛ چک کول .	
6 - داخري مساوات پۀ خواکښې بالاخره داستاد د یوبل بکس جوړول (= □) ، د طالب علمانو د نتیجې معلومول / لیکل یعنې " 16 "	مشق پاڼه ر 2-33-2
پۀ طالب علمانو د ورځنۍ مشق پاڼه مطالعه کول ، بحث کول / پۀ کار پوهېدل ، ځانله ځانله د مشق پاڼې مکمل ول ، د استاد چک کول / مرسته کول د مشق پاڼې د نکتې خوا نقطې به ځانله ځانله د کومک پۀ حیث استعمالېږي . (د نقطو د جوړو متعلقه شمېر پوتل / ښکاره کول)	

ر ۲-۳۳ ر ۲

$2 \times 7 + 2 \times 1 = \boxed{2 \times 8}$

$\boxed{2 \times 8} - 2 \times 5 = \boxed{2\times} = \square$

$2 \times 9 - \boxed{2\times} = \boxed{2\times}$

$\boxed{2\times} + 2 \times 2 = \boxed{2\times} = \square$

$2 \times 1 + \boxed{\times} = 2 \times 4 + \boxed{\times}$

$\boxed{\times} - 2 \times 4 = \boxed{\times} = \square$

$2 \times 2 + \boxed{\times} = 2 \times 7 + \boxed{\times}$

$\boxed{\times} - 2 \times 3 = \boxed{\times} = \square$

دویم وربښې درس	عنوان: د "2" او "5" دپاڼې نه د جمع او تفریق درقمونو مشق کول
خاکه د2- 33	

د شاګردانو/استاد مشغلې	درسی معاونات
1 ـ داستاد پۀ توره تخته لیکل؛ $\square \times 5 = 5 \times 2 + 5 \times 1$ $\square \times = 5 \times 2 - 5 \times 3$ داستاد پوښتنه کول چې څنګه عمل پۀ ځنې ته راتلونکو شاګردانو ځنګه کیږي.	توره تخته
2 ـ دطالب علمانو تجویز ویاندې کول چې پدې جمیعه به یوځل "5" طالب علمان وړاندې راځي، بیابه وربښې دوه څلۀ پنځۀ پنځۀ طالب علمان مخې ته راځي، دغه عمل ترسره کول، پدې جمیعه بکس پرکول، مخې ته ولاړو دطالب علمانو د جوړو پۀ شمیر لو سره چک کول؛ بیا دطالب علمانو تجویز ویاندې کول چې بیا دوه څلۀ پنځۀ پنځۀ طالب علمان دې کښینې؛ دویم بکس پرکول ـ چک کول.	
3 ـ بالاخره داستاد یوبل بکس جوړول (رسمول) دآخری مساوات خواکښې ($= \square$)؛ د طالب علمانو دنتیجې موندل ر لیکل یعنې "5".	
4 ـ دطالب علمانو نه ددریمې مشق پاڼې دمطالبو غوښتنه؛ دمساواتو مکمللول؛ که ضرورت وو د پټولو ر بکان کولو پۀ ذریعه د جوړ کړې شوو نقطونه کاراخیستل؛ داستاد مدد کول، چک کول.	مشق پاڼه ر2- 33-3
5 ـ داستاد پۀ توره تخته لیکل: $\square = \boxed{\times} = 5 \times 1 + 5 \times 2 - 5 \times 8$ دطالب علمانو دغه کار قدم پۀ قدم حلول، (وئیل: $5 \times 1 + 5 \times 6 = 5 \times 2 - 5 \times 8$؛ $= 5 \times 7 = 35$)؛ پۀ توره تخته بکسونو پرکول.	توره تخته
6 ـ د طالب علمانو نه غوښتنه کول چې دشلورې مشق پاڼې لومړۍ وظیفه دې پۀ همدغه شان مکمللو کړې شي؛ دمشق پاڼې دنتیجې پۀ بکس کښې دې پۀ نتیجود ټک (ـ) نښه وکړې شي یعنې "35".	مشق پاڼه ر2- 33- 4
7 ـ دطالب علمانو پۀ مشق پاڼه دنورو ټولو وظیفو مکمللول، دنتیجو پۀ بکس کښې پۀ نتیجود ټک (ـ) نښه کول؛ داستاد دبل بهل طالب علم سره مدد کول.	





ریاضی ـ دویم ټولګی	عنوان: د تقسیم بنودنه (پۀ „2“ تقسیمول)
ل 2 ـ 34	

د استاد مشغلې	د شاګرد مشغلې	درسي معاونات
	۱ـ د ضرب د رقمونو مطابق عمل کول	
ـ لس طالب علمان د کلاس مخې ته په یوکتګ کښې ودروئ ، هر طالب علم ته دوه دوه کانۍ ورکړئ، بیا پۀ تور تخته مثلاً لیکئ : 2 × 3 ، غوښتنه کول چې د دې پۀ شان عمل دې وکړي شي .	ـ د لسو طالب علمانو نه د درې طالب علمانو نیوپۀ یې د استاد مېز ته تلل ، د درې ځله د درې کانۍ پۀ مېز ایښودل ، د نورو تشریح کول چې څۀ پېښ شول ، شمېرل .	20 کانۍ
ـ د مساوات د مکمللو غوښتنه کول	ـ 3 × 2 = 6 پۀ تور تخته لیکل (بیا کانۍ اوچتول)	تور تخته
ـ پۀ نورو رقمونو هم د غه شان عمل کول مثلاً „8 × 2 „	ـ د 8 طالب علمانو خپل خپل کانۍ ایښودل یعنې پوټل 16 کانۍ ، د نورو تشریح کول چې څۀ پېښ شول ، پۀ تور تخته لیکل „8 × 2 = 16 “ (کانۍ اوچتول)	کانۍ
	2ـ د تقسیم معرفي کول : د دوو پۀ ګروپونو کښې تقسیمول “	
ـ پنځۀ طالب علمانو خپل کانۍ د څۀ خاص ترتیب نه پۀ غیر پۀ مېز ایښودل ، بیا د غه نورو مخې ته ولاړو طالب علمانو ته ښېرته ورتلل .	ـ پنځۀ طالب علمانو خپل کانۍ د څۀ خاص ترتیب نه پۀ غیر پۀ مېز ایښودل ، بیا د غه نورو مخې ته ولاړو طالب علمانو ته ښېرته ورتلل .	
ـ پۀ کلاس کښې ناستو د پوټو طالب علمانو ستړکې پټول ، بیا د غه لسو طالب علمانو نه چې مخې ته ولاړ دي پنځۀ طالب علمانو ته ویئل چې خپل کانۍ پۀ مېز باندې کېږدي .	ـ تجویزونه وړاندې کول ، بحث کول چې څۀ کول پۀ کار دي ، د غه کانۍ شمېرل او دوو دوو پۀ ګروپ کښې پې تقسیمول ، د ګروپونو شمېرل ، ویئل چې پنځۀ طالب علمانو خپل کانۍ پۀ مېز ایښې دي .	
ـ پۀ یو کلاس کښې ناستو د پوټو طالب علمانو ستړکې پټول ، بیا د غه لسو طالب علمانو نه چې مخې ته ولاړ دي پنځۀ طالب علمانو ته ویئل چې خپل کانۍ پۀ مېز باندې کېږدي .	ـ پۀ طالب علمانو ستړکې خلاصول ، پوښتنه ترینه کول چې خو طالب علمانو خپل کانۍ پۀ مېز ایښې دي .	
ـ د چکۀ کولو غوښتنه کول	ـ پته لګول چې د څومره طالب علمانو سره نور کانۍ نشته .	
ـ لس کانۍ پۀ تور تخته جوړول ، د دې تشریح کول د غوښتنه کول چې طالب علمانو د حل پیدا کولو د پاره څۀ وکړي !	ـ ویئل چې دوی د غه لس کانۍ پۀ دوو ګروپونو ووېشلې . (1)	تور تخته
ـ د دوو دوو ګروپونو نه کرښه چاپېرول : ⊙ ⊙ ⊙ ⊙ ⊙	ـ مشاهده کول ، څۀ چې معلم وکړل د هغې تشریح کول د نوی رقم بیا استعمالول (1)	
ـ ویئل چې د پا ډنډه طریقه هم لیکلے کیږي ، د دایرو خواکښې 10 ÷ 2 = 5 لیکل ، کلاس ته پې لوستل چې „10 “ پۀ دوه برابرو برخو ویشل „5 “ کیږي ، متعلقه عددونو/علاموته اشاره کول ؛	ـ څۀ چې استاد وویل د طالب علمانو د هغې څو ځله تکرارول ، پۀ هغه وخت کښې پۀ تخته متعلقه ټبنې / رقمونو ته اشاره کول .	
	3ـ پۀ بل مثال کار کول .	
ـ پۀ طالب علمانو بیا ستړکې بندول ، پۀ خاموشۍ سره بل شمېر طالب علمانو ته چې مخې ته ولاړ دي بلنه ورکول چې خپل کانۍ پۀ مېز باندې کېږدي (مثلاً لس طالب علمانو ته) بیا د کلاس نه پوښتنه کول چې د پنځو څومره طالب علمانو پۀ مېز کانۍ ایښې دي .	ـ د لسو طالب علمانو خپل کانۍ پۀ مېز ایښودل ، بیا ښېرته هغه ځای ته تلل چې مخکښې یکښې ولاړ وو ، د نورو بحث کول ، بیا د غه شل کانۍ پۀ دوو ګروپو تقسیمول ، شمېرل ، ویئل چې لسو ولاړو طالب علمانو خپل کانۍ پۀ مېز ایښې دي .	کانۍ
ـ غوښتنه کول چې کانۍ دې د مخکښې پۀ شان پۀ تور تخته د غې ته پۀ مشابه ډول جوړ کړے شي .	ـ شل کانۍ پۀ تور تخته جوړول ، دوه دوه کانۍ نه کرښه چاپېرول :	تور تخته
ـ بلنه ورکول چې څۀ کړے شوی د هغه پۀ یوه لنډه طریقه پۀ خواکښې ولیکے شي . ویئل چې د حسابولو دې نوې طریقې ته تقسیم وائي . (2)	ـ د دایرو پۀ خواکښې 20 ÷ 2 = 10 لیکل ، د هغې تشریح کول : 20 پۀ دوه برابرو برخو ویشل لس کیږي ، خو ځله پې تکرارول ، پۀ هغه وخت کښې متعلقه رقمونو او علاموته اشاره کول .	
ـ د مېز پاڼو مشق پاڼه پۀ طالب علمانو مطالعه کول ، تشریح کول چې د مشق پاڼې پۀ پاسنۍ اولاندنۍ برخه څۀ کول پۀ کار دي .	ـ د مشق پاڼې ډکول	مشق پاڼه ر 2-34-1
	ـ پۀ کارځان پوهول ، د دوه ګروپونو نه کرښه چاپېرول ، د مساوات لیکل یعنې 14 ÷ 2 = 7 ، خو ځله پې کلاس ته لوستل ، هغه وخت پۀ مشق پاڼه کښې رقمونو او علاموته اشاره کول .	

درسي پلان: ر 2-34	ددې درسي پلان په باب څه نورې تبصرې

(1) شاید طالب علمان نور اصطلاحات هم استعمال کړي مثلا ددوو دوو کانړو ډکرو پونو تشکیلول اوداسې نور. استاد به یوه طریقه یا لاره پیدا کوي چې طالب علمان د پټه رهنمائي کړي چې ددووګروپ شکل د تقسیم دپاره استعمال کړي خود نورو اصطلاحاتو پهٔ پیدا کولو کښې وربسره کومک کول. کهٔ چیرې دغه ضروري اصطلاحات یعنې « تقسیم پهٔ ګروپ ددوه کښې » طالب علمان نشي پیدا کولے نواستاد به ئې ورتر پخپله کړي. پهٔ راتلونکو مشقونو کښې به دا اصطلاح بار بار استعمالیږي. رڼسته به بیا مختصر کیږي یعنې « تقسیم پهٔ دوه »

(2) ددې دپاره چې طالب علمان ددې اصطلاح سره عادت شي نواستاد به وخت پهٔ وخت دا اصطلاح استعمالوي.

ر ۲ | ۳۴ — ۱



د ورځې وړتیا درس	عنوان: په 2. د تقسیمولو مشق کول
خاکه ر 2-34	

د شاګردانو / استاد مشغلې	درسي معاونات
1 ـ لسو طالب علمانو ته بلنه ورکول چې د کلاس مخې ته ودریږي ، د هر یو سره به دوه دوه کانړي وي (لکه چې په تېر درس پلان کښې تشریح شوې ده)	20 کانړي
2 ـ د استاد د کلاس په طالب علمانو ستړې بندول ، بیا په خاموشۍ سره دغه مخې ته ولاړو یو خو شاګردانو ته ویئل چې خپل خپل کانړي په مزو په میز کېږدي . بیا دنورو طالب علمانو نه یو بوښتنه کول چې څوتنه طالب علمانو کانړي په میز اینبې دي .	
3 ـ د طالب علمانو د تېر درس په شان عمل کول : د دوه دوه شګو ګروپونه جوړول ، د دغه ګروپونو شمېرل ، دغه شمېر کانړي په تور تخته جوړول ، د دوه دوه کانړو ګروپونو نه کرښې چاپېرول ، شمېرل ئې ، بالاخره په تور تخته د هغوی متعلقه مساوات لیکل ، کلاس ته ئې لوستل ، په همدغه وخت کښې د هغوی متعلقه رقمونو / علامو ته اشاره کول ، هرځل د صحیح اصطلاح ګانو استعمالول .	تور تخته
4 ـ په میز باندې په اینبودلو سره د استاد دا فعالیتونه څوځله په مختلف شمېرکانړو سره تکرارول . هرځل د طالب علمانو جوړول (رسمول) ، لیکل او کلاس ته ئې د مخکښې په شان لوستل .	
5 ـ د طالب علمانو په دوه دوه کسه په دوئه مشق پاڼو کارکول ، بالاخره د ټولو مساواتو کلاس ته لوستل ؛ د استاد مدد کول ، چک کول .	مشق پاڼې ر 2-34-2

ر 2 | 34 — 2

 □ ÷ ۲ = □	 □ ÷ ۲ = □
 □ ÷ ۲ = □	 □ ÷ ۲ = □
□ ÷ ۲ = □	 □ ÷ ۲ = □

دویم وړپی درس	عنوان: د تقسیم مشق کول ، ضرب ته ورته تعلق ورکول
خاکه د 2-34	

د شاګردانو/استاد مشغلې	درسی معاونات
1 - ذهنی تربیت : د „2" د پاړې نه د ضرب درقمونو حلول لکه : $6 \times 2 = \square$ ، $2 \times 7 = \square$ اوداسې نور .	
2 - داستاد پۀ توره تخته $2 \times 4 = \square$ ، غوښتنه کول چې د دې مساوات اندازه کا نۍ دې پۀ توره تخته جوړ کړې شی ، همدغه شان د طالب علمانو څلور څله دوه دوه کا نۍ جوړول، ګربنې به تري چاپېره نۀ تاوه ول کیږي وئیل/لیکل $4 \times 2 = 8$	توره تخته
3 - داستاد د هغې پۀ خواکښې لیکل $8 \div 2 = \square$ ، اوغوښتنه کول چې اوس دې پۀ مناسبت سر ترینه کرښې تاوکړې شی ، د طالب علمانو د دوو دوو ګروپونو نه کرښې تاوه ول ، شمېرل ئې لیکل ئې $8 \div 2 = 4$	
4 - داستاد غوښتنه کول چې د غه دواړه مشغلې دې تشریح کړې شی کومې چې مخکښې وکړې شوې ، مثلاً مونږ پوهیږو پۀ توره تخته څلور څله دوه دوه کا نۍ جوړ کول چې ټول „8" کا نۍ شول ، بیا مونږ غواړو پۀ ګروپ وویشل ، معلوم موکړل چې ګروپونه څلور دی .	
5 - د دریمې مشق پاڼې مطالعه کول ، پۀ کارځان پوهول (یعنې پۀ اول کښې دوه دوه کا نۍ هومره څله جوړول څومره څله چې غوښتې شوی دی ؛ بیا ترې کرښه چاپېرول ، حسابول ئې ، د استاد مدد کول ، چک کول ؛ د طالب علمانو پۀ آخر کښې تشریح کول / کلاس ته ئې لوستل څۀ چې دوی کړی دی .	مشق پاڼه د 2-34-3

د 2 | 34-3

$\square = 2 \div$ 14	$14 = 2 \times 7$
$\square = 2 \div$ 6	$\square = 2 \times 3$
$\square = 2 \div \square$	$\square = 2 \times 4$
$\square = 2 \div \square$	$\square = 2 \times 9$
$\square = 2 \div \square$	$\square = 2 \times 8$
$\square = 2 \div \square$	$\square = 2 \times 6$
$\square = 2 \div \square$	$\square = 2 \times 5$

ریاضی ـ دویم ټولګی	عنوان: پۀ 5 ـ تقسیمول
ل 2 ـ 35	

د استاد مشغلې	د شاګرد مشغلې	درسی معاونات
	1 ـ پۀ 2 د تقسیمولو تکرارول	
ـــ پۀ تورو تختـه 4 × 2 = □ لیکل . یوطالب علم تـه بلنـه ورکول چې دامساوات پۀ تورو تختـه دنقطو دجوړولو پۀ ذریعـه حل کړي ؛	ـــ دیوطالب علم 8 نقطې جوړول ، پۀ ځلورو ګروپونو کښې هرپو دوه نقطې ، پۀ بکس کښې صحیح ځوابونه ږکول .	تورو تختـه
ـــ پرومبی مساوات یعنې 4 × 2 = 8 سره خواکښې 8 ÷ 2 = □ لیکل ؛ غوښتنه کول چې دا پۀ تورو تختـه دجوړو شوو نقطوپۀ مدد څخه حل کیدے شی .	ـــ دیوبل ماشوم د دوو پۀ ګروپونو کښې دجوړو شوو نقطونه دایره تاوه ول ، دجواب معلومول ، دا پۀ بکس کښې لیکل ، دنورو ورتـه کنټل ، کـه ضرورت وو اصلاح ئې کول .	
ـــ دنورو مساواتو پۀ ذریعـه ددې مشغلې تکرارول مثلاً 8 × 2 = □ ، 16 ÷ 2 = □ 5 × 2 = □ ، 10 ÷ 2 = □ (1)	ـــ دیوځو ماشومانو د کلاس مخې تـه راتلل چې مختلف مساوات حل کړي ، دنورو ورتـه کنټل ؛ بحث کول ؛ چک کول ئې .	
	2 ـ د پنځو پۀ ګروپونو کښې تقسیمول	تورو تختـه
ـــ پۀ تورو تختـه یوځومساوات لیکل مثلاً 8 × 5 = □ ، 4 × 5 = □ ، 9 × 5 = □	ـــ جواب ورکول ، بکسونـه ږکول	
ـــ پۀ ځلورو ماشومانو 4 + 5 پنسلونه یا البنتې تقسیمول (هرپو 5 پنسلونه یا البنتې نیولی دی) ؛ ماشومانوته بلنـه ورکول چې دکلاس مخې تـه ودریږي .	ـــ ویـل چې 4 ماشومانو 4 × 5 = 20 پنسلونـه یا البنتې نیولی دی ، هرپو 5 پنسلونه یا البنتې نیولی دی .	پنسلونه یا البنتې
ـــ کلاس کښې ناستو ماشومانو تـه دسترګو پټولو دپاره ویـل . دکلاس مخې تـه ولاړو ماشومانونـه 3 ماشومانوته پۀ خاموشـه سره ویـل چې خپل پنسلونه یا البنتې پۀ مـیز کیږدی ؛ بیامخې تـه د ټولو ولاړو ماشومانو خپلې شـانـه د لاسونو پټول .	ـــ سترګې پټول	
ـــ ناستو ماشومانوته ویـل چې خپلې سترګې وغړوی او معـلوم کړی چې څومره ماشومانوپنسلونه پۀ مـیز اینبی دی .	ـــ دماشومانو مشاهده کول ، قیاس کول ، پۀ مـیز د پرتو پنسلونو یا البنتو د شمیر لو تجویز ورکول او د 5 پۀ ګروپونو ئې تقسیمول ؛ معـلومول چې د 5 درې ګروپونـه دی ، ویـل چې 3 ماشومانو خپل پنسلونـه یا البنتې پۀ میز اینبی دی .	
ـــ ماشومانوته ویـل چې پۀ تورو تختـه 15 کرښې جوړې کړي او د 5 ګروپونونـه دایره چاپیره کړي ، د پنسلونو یا البنتو بنکاره کول .	ـــ پۀ تورو تختـه 15 کرښې جوړول ، د 5 پۀ ګروپونو کښې تړې دایره تاوول (2)	تورو تختـه
ـــ ماشومانوته ویـل چې د تقسیم پۀ شکل کښې مساوات ولیکی	ـــ پۀ تورو تختـه 15 ÷ 5 = 3 لیکل ، خوځـلـه مساوات لوسـتل (3)	
ـــ هم پۀ دغسې مشقونو دامشغـلـه تکرارول ؛ اوس پۀ خاموشـه سره ټولو 4 ماشومانوتـه ویـل چې خپل پنسلونـه یا البنتې پۀ مـیز کیږدی .	ـــ سترګې پټول ، بیاد مخکښې پۀ شان عمل کول یعنې شمارل ، د 5 ګروپونـه جوړول ، کرښې جوړول او دایره تړې تاوول ؛ مساوات لیکل (یعنې 20 ÷ 5 = 4) ؛ خوځـلـه ئې کلاس تـه لوسـتل ، د تقسیم پۀ ..." اصطلاح / شکل تقسیمول شکل استعمالول .	پنسلونـه یا البنتې تورو تختـه
	3 ـ پۀ مشق پـانـه د تقسیم مشق کول	
ـــ د پرومبی مشق پـانې د خلاصولو غوښتنـه کول ، دکار پوهولو کښې مدد کول .	ـــ بحث کول پۀ کارځـان پوهول	مشق پـانـه ر 2 ـ 35 ـ 1
ـــ د مشق پـانې د سرډبی اړخ د برخې مکمـلول ، مرسـتـه کول ، چک کول ئې .	ـــ دماشومانو معـلومول چې د مشق پـانې پۀ سر کښې بنی اړخ تـه ینمـه برخـه کښې 35 سره دی ، د 5 ګروپونـه جوړول او د ګروپونو عدد معـلومول (یعنې 7) ؛ بیا مساوات مکمـلول .	
ـــ طالب علمانوته ویـل چې د مشق پـانې پاسنـه بنی طرف تـه برخـه اوبیا لاندینـه برخـه مکمـله کړئ .	ـــ همدغه عمل کښې طرفـته برخې سره ؛ اوبیا لاندینـه برخې سره کول ، پرومبې وړې دایرې یا نقطې جوړول ، د 5 ګروپونو نه دایره تاوول ، بیا مساوات مکمـلول اوپۀ 5 تقسیمول " داستعمالولو پۀ ذریعـه دا څوځـلـه کلاس تـه لوسـتل .	

(4)

درسی پلان: د 2 - 35	ددې درسی پلان پۀ باب څۀ نورې تبصرې

1 - هرځل استاذ له پۀ کار دی چې د ضرب د رقم د حل کولونه پس د تقسیم رقم ولیکی . مثلاً $4 \times 2 = \square$

$8 \div 2 = \square$

2 - دابه پۀ آخر کښې داسې ښکاری .

3 - طالب علمان دې مساوات پۀ اوچت آواز څوځله د " تقسیم پۀ " د اصطلاح د استعمالولو پۀ ذریعه ولولی، بیا استاذ له دا ویځل پۀ کارډی چې دداسې مساوات د لوستلو یوه مختصره طریقه هم شته ، ویځل " 15 چې پۀ 5 تقسیم شی نو د 3 برابر به وی " ، متعلقه عددونو اوعلاماتونه اشاره کول . دې نه پس به دا مختصره اصطلاح پۀ باقاعدګی سره استعمالیزی .

4 - استاذ له دا خبره واضح کول پۀ کار دی چې پۀ دې کار کښې دوه عملونه شامل دی ؛ یوه بې قاعده ښودل کښې د متعلقه عددونو د نقطو جوړول (25 ، تر 50 پورې پۀ ترتیب) ، دویم د 5 نقطو ډګروړونه دا ځکه چې تاوول .

د ۲	۱ - ۳۵
 $\square = 5 \div \square$	 $\square = 5 \div 35$
$\square = \boxed{2 \div 25}$	$\square = \boxed{5 \div 50}$

د ړومبۍ وړتیا درس	عنوان: پهٔ 5 تقسیمولو کښې مشق کول	
خاکه	ر-2-35	

د شاګردانو/استاد مشغلې	درسي معاونات
1 - داستاد د ماشومانو د کلاس نه بهرته ښول، مثلاً 30 طالب علمانو ته ویل چې پهٔ یوه دایرو کښې ودریږئ، 30 پوښې پهٔ اوچت اواز لوستل؛ د نورو کښې نا ستل اولوڅ ته پهٔ غور کتل. داستاد تشریح کول چې کله هغه لاسونه وپرقوی، نو کوم ماشومان چې پهٔ دایرو کښې ولاړدی هغوی به اوس چاپیر منډې وهي خو چې کله لاسونه پرقول بند شي، دا ماشومان به د پنځو ګروپونه جوړوی.	
2 - داستاد د ټولو ماشومانو نه غوښتنه کول چې قیاس وکړی چې د ټولو څومره ګروپونو جوړول ممکن کېدے شي.	
3 - لوبه شروع کول اوچې کله لاسونه پرقول بند شي نو دماشومانو د پنځو ګروپونه جوړول، د نورو وړتیا پهٔ غور کتل، شمېرل، ویل چې، ګروپونه جوړ کړئے شو چې پهٔ هر یو ګروپ کښې 5 ماشومان دی.	
4 - مشغله یو یا دوه نورو عددونو اونورو طالب علمانو سره تکرارول (یعنې 20، 40).	
5 - طالب علمان بیاد جماعت کمرې ته را وستل، داستاد د ماشومانو نه غوښتنه کول چې څهٔ دوی ولیدل هغه تکرار کړی، پوښې د ماشومانو د دې ویل، بیاد مشغلې د متعلقه مساوات معلومول، پهٔ آخر کښې د ټول مساوات $30 \div 5 = 6$ ویل؛ دایهٔ نوره تخته کیکل، دا پهٔ صحیح طریقه کلاس ته لوستل.	نوره تخته
6 - نورې کوچې مشغلې/لوبې چې د سکول نه بهر میدان کښې وکړے شوې، د هغوی متعلق پهٔ عددونو 20/40 همدغه شان کار کول.	
7 - پهٔ دوښه مشق پاڼه کار کول، ګروپونه جوړول چې پهٔ هر ګروپ کښې 5 کېږي وی، مساوات مکمل کول.	مشق پاڼه ر 2-35-2

ر ۲ | ۳۵ - ۲



دویم وړپسې درس	عنوان: پۀ تقسیم اود 5 ـ ضرب / تقسیم کښې مهارت حاصلول
خاکه ر-2-35	

د شاګردانو/استاد مشغلې	درسي معاونات
1 ـ داستاد پرمخې د ضرب اوتقسیم کارونه ورکول څنګه چې لاندې بنودلے شوی دی، داپۀ توره تخته لیکل ؛ ددې د مکملولو غوښتنه کول : $\square = 5 \times 7$ $\square = 5 \times 10$ $\square = 5 \times 6$ $\square = 5 \times 4$ $7 = 5 \div \square$ $10 = 5 \div \square$ $6 = 5 \div \square$ 6 $4 = 5 \div \square$	توره تخته
2 ـ دریمې مشق پاڼې ته کتل ؛ پۀ کارځای پوهول ، بنې طرف ته مساوات مکملول ، د مشق پاڼې کښې اړخ ته پۀ صحیح عددونو دانښه (ـ) لګول (2 دهرې وظیفې دپاره)	مشق پاڼه ر2- 35-ج

ر ۲ | ۳۵ - ۳

۳۵ ۴۰ ۵ ۷ ۳۰ ۳۵	۳۵ = ۵ × ۷ □ = ۵ ÷ ۳۵
۳ ۱۵ ۷ ۱۵ ۲۵ ۵	□ = ۵ × ۳ □ = ۵ ÷ □
۲۰ ۴ ۲۵ ۶ ۲۰ ۵	□ = ۵ × ۴ □ = ۵ ÷ □
۴ ۵۰ ۳۰ ۳۰ ۵ ۶	□ = ۵ × ۶ □ = ۵ ÷ □
۴۰ ۹ ۴۵ ۸ ۴۰ ۵	□ = ۵ × ۸ □ = ۵ ÷ □
۷ ۲۵ ۳۵ ۲۵ ۶ ۵	□ = ۵ × ۵ □ = ۵ ÷ □
۴۵ ۷ ۴۵ ۹ ۸ ۴۰	□ = ۵ × ۹ □ = ۵ ÷ □

ریاضی ـ دویم ټولګی	عنوان: پۀ „2" او „5" باندې د تقسیمولو مشق کول.
ل 2 ـ 36	

د استاد مشغلې	د شاګرد مشغلې	درسي معاونات
	1- پۀ „2" د تقسیمولو مشق کول	
ـ لس طالب علمان مخې ته رابلل چې د ټولګي مخې ته پۀ یو قطار ودریږي ؛ هر یو طالب علم ته دوه کانړي ورکول.	ـ دکلاس مخې ته پۀ ښې خوا کښې دلسو طالب علمانو ودرېدل ، د هر یو پۀ لاس کښې دوه کانړي ښیل.	شل کانړي
ـ پۀ کلاس کښې نا ستو شاګردانو ته وېښل چې ستړکې موبندې کړئ ! ، بیا دلسو ولاړو طالب علمانو نه شپږو ته پۀ خاموشۍ سره وېښل چې کانړي مو پۀ مخ پۀ مخ کېږدئ !	ـ دشپږو طالب علمانو پۀ مخ باندې خپل کانړي پۀ مخ اینبودل ؛ دنورو ستړکې بندول ؛ بیا ګټل چې پۀ مخ „12" کانړي اینبودلے شوی دی	
ـ بلنه ورکول چې معلومه کړي چې څوکسانو پۀ مخ خپل کانړي اینبی دی.	ـ بحث کول ، څۀ چې کول پۀ کاردی تجویز ځې کول ، بیا دیو طالب علم پۀ مخ کانړي جوړه جوړه کول ، دنورو طالب علمانو د نتیجې معلومول یعنې „6".	
ـ دعددی قصې وېښلو غوښتنه کول	ـ وېښل چې دولس کانړي پۀ جوړو جوړو تقسیم شول ؛ دشپږو ګروپونو نتیجه حاصلېدل ددې معنی لرې چې شپږو طالب علمانو خپل کانړي پۀ مخ اینبودی وو.	
ـ غوښتنه کول چې دغه دې دیومساوات پۀ شکل کښې ووېښلے شی.	ـ د 12 ÷ 2 = 6 وېښل ، پۀ توره تخته لیکل ، کلاس ته ځې لوستل : „12" تقسیم پر „2" مساوي کیږي پۀ „6" سره (1)	توره تخته
	2- پۀ „5" باندې د تقسیمولو مشق کول	
ـ دلسو نورو طالب علمانو مخې ته راتلل او دکلاس مخې ته پۀ ګڼ اړخ کښې ودرېدل ؛ دهر یو پۀ لاس کښې پنځۀ پنځۀ کانړي دی.	ـ دلسو نورو طالب علمانو مخې ته راتلل او دکلاس مخې ته پۀ ګڼ اړخ کښې ودرېدل ؛ دهر یو پۀ لاس کښې پنځۀ پنځۀ کانړي دی.	50 نور کانړي
ـ دخلورو طالب علمانو خپل پنځۀ پنځۀ کانړي پۀ مخ پۀ مخ اینبودل ، دنورو ستړکې بندول ، بیا ځې شمېرل ، وېښل چې پۀ مخ شل کانړي اینبودلے شوی دی.	ـ دخلورو طالب علمانو خپل پنځۀ پنځۀ کانړي پۀ مخ پۀ مخ اینبودل ، دنورو ستړکې بندول ، بیا ځې شمېرل ، وېښل چې پۀ مخ شل کانړي اینبودلے شوی دی.	
ـ ددې معلومولو بلنه ورکول چې څوک سره طالب علمانو خپل کانړي پۀ مخ اینبی دی ، دهغې پۀ شان عمل جاري ساتل.	ـ بحث کول ـ تجویزونه وړاندې کول ، بیا د پنځو پنځو ګروپه دکانړونه جوړول او دنتیجې معلومول یعنې „4" „دعددی قصې وېښل ؛ د مساوات وېښل یعنې „20 ÷ 5 = 4" ، پۀ توره تخته لیکل.	توره تخته
	3- پۀ „2" او „5" د تقسیمولو مخلوط فعالیتونه	
ـ دپنځو کانړو ګروپ دیوخاص شمېر طالب علمانو نه پۀ خاموشۍ غوښتنه کول چې خپل خپل کانړي موپۀ مخ کېږدئ ! بیا د دوو کانړو ګروپ طالب علمانو نه غوښتنه کول چې همدغه شان مشق وکړي ؛ دغه شان مشقونه د دوو ګروپونو سره مخلوط ول (2)	ـ پۀ کلاس کښې دنا ستو طالب علمانو د مخکښې پۀ شان عمل کول ، خو د ستړګو د پرانیستلو نه روسته دا معلومات کول چې کوم ګروپ کانړي پۀ مخ اینبی دی ، پۀ آخر کښې هر ځل پۀ توره تخته د مساوات لیکل. (3)	
	4- دغه شان مشقونه پۀ مشق پاڼه کول	
ـ ددې معلومولو پوښتنه کول چې پۀ مشق پاڼه کښې څۀ کول پۀ کاردی ؛ مرسته کول ، چک کول. (4)	ـ پته کول چې تصویرونه هغه شان صورت حال- ښئ د کوم مشق چې مخکښې وکړے شو (پۀ مخ کانړي د پنځو یا دوو ګروپ دکانړي) ؛ دانو ټول سره یوځای دکانړو نو حلول.	مشق پاڼه ر-2-36-1

درسي پلان: ر 2 - 36	ددې درسي پلان پۀ باب څۀ نورې تبصرې

(1) کله چې یوطالب علم د تقسیم کوم مساوات پۀ تخته لیکی نوپۀ اوچت اواز به ئې ولولی ، ددې پاره چې طالب علمان د تقسیم پر « اصطلاح سره زیات اشنا شی . د مخې ته ولاړو طالب علمانو ته اړتیا نه پیښیږی چې مساوات پۀ تخته ولیکی .

(2) یعنې استاد به د پنځو کانړو ډګروپ درې ته طالب علمانوته وائی چې کانړې موپۀ میز کښږدئ اوداسې نور . بل ځل به د دوو کانړو ډګروپ اته طالب علمانوته وائی چې همدغه شان عمل وکړئ اوداسې نور ؛ هرځل به استاد طالب علمان د متعلقه مساوات پۀ تخته دلیکلو پورې رهنمائی کوی .

(3) پۀ میز باندې پرتو 15 کانړو نه به طالب علمان دا معلومات کوی چې دا کانړې خو د « پنځو ګروپ دکانړو نه « اینبودل شوی دی ځکه چې « 15 » د پنځو پاپې پۀ شمېر (عددونو) پورې تعلق لری .
د « 16 » کانړو د شمېرنه به طالب علمان دا نتیجه اخلی چې دا کانړې د « دوو ګروپ دکانړو » نه اینبودل شویدی ځکه چې « 16 » د دوو پاپې پورې اړه لری .

(4) استاد به دمشق پانړې د لاندینه برخې د کښې خوا پۀ صورت حال پته خولۀ پاتې کیږی ؛ ماشومان به دا معلومات پخپله کوی چې کېدے شی دالس کانړې د « دوو ګروپ دکانړو » نه اینبودل شوی وی (10 ÷ 2 = 5) ، اویا به د « 5 ګروپ دکانړو » نه اینبودل شوی وی (10 ÷ 5 = 2)



د ریاضی وړتیا درس	عنوان : د ماښې عددونو مساوات په معلومولو/حلولو مشق کول چې په "2" او "5" د تقسیم قابلیت ولري .
خاکه ر 2 - 36	

د شاګردانو/استاد مشغلې	درسي معاونات
1- د استاد 20 طالب علمان مخې ته راښل	
2- د استاد په توره تخته 20 ÷ 2 = □ لیکل، په عملي ډول د دې مساوات د حلولو غوښتنه کول ، د طالب علمانو فکر کول ، دهغه طریقې قیاس کول د کومې په ذریعه چې دمخې ته ولاړو شاګردانو په مرسته حل پیدا کیږي. د "دوو" ګروپونو جوړولو تجویز ورکول ، همدغه عملي کول ، ګروپونه شمېرل ، د نتیجې معلومول یعني "10" ، د بکس ډکول .	توره تخته
3- 20 ÷ 5 = □ په توره تخته لیکل . بیا د حل معلومولو د پاره بلنه ورکول ، د ماشومانو همدغې مشابه ګروپونه تشکیلول ، د ماشومانو د "5" ګروپونه " جوړول ، د ګروپونو شمېرل یعني "4" ، د بکس ډکول	
4- پوښتنه کول چې په دوو یا څو باندې تقسیمېدونکی بل عدد د پیدا کولو د پاره د څومره طالب علمانو کښاستل په کار دی ، د طالب علمانو پته لګول چې د "2" طالب علمانو کښاستل په کار دی چې "18" ته راشي. په توره تخته 18 ÷ 2 = □ لیکل . د ماشومانو د "دوو ګروپ" په بیا جوړولو سره حل پیدا کول ، بیا د بکس ډکول .	
5- داستاد دبل هغه عدد پوښتنه کول چې په "2" یا "5" د تقسیم قابلیت ولري یعني "16" ، د طالب علمانو د مخکښې په شان عمل کول (د دوو کښاستل ، بیا 16 ÷ 2 = □ حسابول . په ټولو دې عددونو (15، 16، 12، 10، 8، 6، 5، 4، 2) سره جاري ساتل. د "10" په حالت کښې د دوو حلونو بنودل په کار دی .	
6- په طالب علمانو دوښه مشق پانړه پرانیستل . د طالب علمانو پته لګول چې په دوميې د "5" او "2" ګروپونو په جوړولو او بیا د ګروپونو په شمېرلو یعني د هغو بکسونو په شمېرلو چې د دوو یا څو دایرو په ګروپ سره ډک کړے شوی وی ، نتیجه پیدا کېدے شی ؛ د دانو پوال سره پې مقابله ، په اوچت اواز پې لوستل .	مشق پانړه ر 2-36-2



دویم وړپسې درس	عنوان: نور مشق
خاکه د 2-36	

د شاګردانو/استاد مشغلې	درسي معاونات
۱. داستاد د طالب علمانو نه دوه ګروپونه جوړول چې په هر ګروپ کښې خلور خلور کسان وی، مخې ته ئې ودرول. د "2" یا پنځو دپاړې نه دکار ورکولو په ذریعه داستاد یوه لوبه شروع کول مثلاً 25 ÷ 5 . کوم ګروپ چې جواب ورکوی، بل ګروپ ته یو ورکړے شوے کار ورکول (مثلاً 14 ÷ 2). دیوځانګ وخت نه روسته دوو نورو ګروپونو مخې ته راتلل چې همدغه شان عمل وکړی اوداسې نور.	
2- په دویمه مشق پانړه کار کول: دمساواتو مکمل کول، په بکسونو کښې دنیټجو لیکل، په لاندې دوو بکسونو کښې د ټولو نیټجو چرخه کول؛ په آخر کښې د ټولو مساواتو کلاس ته لوستل.	مشق پانړه د 2-36-3

د ۲	۳۶-۳	
۱۵ ÷ ۵ = □		۱۲ ÷ ۲ = □
□ × ۵ = ۱۵		۶ × □ = ۱۲
۴۰ ÷ ۵ = □		۸ ÷ ۲ = □
□ × ۵ = ۴۰		۴ × □ = ۸
□ ÷ ۵ = ۷		۶ ÷ ۲ = □
۷ × ۵ = □		□ × ۲ = ۶
۲۵ ÷ □ = ۵		□ ÷ ۲ = ۸
۵ × □ = ۲۵		□ × ۲ = ۱۶
۲۰ ÷ ۵ = □		۱۸ ÷ □ = ۹
۴ × ۵ = □		۹ × ۲ = □
□ ÷ ۵ = ۹		۱۰ ÷ □ = ۵
□ × ۵ = ۴۵		۲ × ۵ = □
۳۰ ÷ □ = ۶		□ ÷ ۲ = ۱۰
۶ × □ = ۳۰		□ × ۲ = ۲۰
۵ ۳۵ ۸ ۴		۳ ۲ ۲ ۱۰
۵ ۴۵ ۹ ۳		۲ ۲۰ ۱۸ ۶ ۴ ۳ ۱۰
۳ ۲۰ ۵ ۸		۲ ۱۶ ۸ ۲
۳۵ ۵		

د استاد مشغلې	د شاګرد مشغلې	درسي معاونات
	1 ـ د پاڼو تکرار	
ـــ د "2" او "5" د پاڼونه پۀ زباني طور پرکارونه ورکول مثلاً 4 × 2 ، 3 × 5، 2 × 8	ـــ د مکمل مساوات وئېل	
ـــ پۀ یو یادوه طالب علمانو ځې جاري ساتل 6 ÷ 2 ؛ 10 ÷ 5	ـــ د طالب علمانو د استاد پۀ شان عمل کول: د "2" او "5" د پاڼونه پرې پوښتنې کول ، د نورو جواب وئېل .	
	2 ـ د "10" د پاڼې معرفي کول	
ـــ لس طالب علمان د کلاس مخې ته راوبلل ، "10" پۀ تخته لیکل ، یوله دوی نه غوښتنه کول چې لس ګوټې وښائي .	ـــ د لسو طالب علمانو د کلاس مخې ته ودرېدل، بیا یو طالب علم د لسو ګوټو نو د بنودلو د پاره خپل دواړه لاسونه اوچتول	تورو تخته
ـــ پۀ تورو تخته لیکل : 10+10=□ ؛ د همدومره ګوټو د بنودلو غوښتنه کول	ـــ د دوو طالب علمانو د خپلو دواړو لاسونو اوچتول ، د نورو وئېل چې اوس شل ګوټې لیدلے کیږي ، پۀ تورو تخته بکس کښې "20" لیکل .	
□ ـــ د 10+10+10=نه تر 10+10+10+10+10+10+10+10+10+10=10+10+10+10+10+10+10+10+10+10 لیکل پۀ همدغه شان جاري ساتل (1) □	ـــ دمخې ته ولاړو طالب علمانو همدغه شان عمل کول ، د نورو حلونه وئېل ، پۀ تورو تخته خالي بکسونو کښې پۀ ګډه لیکل	
ـــ بلنه ورکول چې د لسو د اګروپونه دې د ضرب د مساواتو پۀ شکل کښې ولیکلے شي .	ـــ دماشومانو مخې ته راتلل ؛ 1 × 10 = □ ، 2 × 10 = 20 ، 3 × 10 = 30 (د 10 × 10 = 100 پورې) د جمع د مساواتو پۀ خواکښې لیکل . (2)	
	3 ـ د "10" پۀ پاړه مشق کول	
ـــ لس نور طالب علمان مخې ته راوبلل	ـــ د لسو طالب علمانو مخې ته راتلل ، د نورو کښې ناست	
ـــ داستاد 2 × 10 = "20" وئېل ، د طالب علمانو نه غوښتنه کول چې د مساواتو مطابق عمل وکړي.	ـــ دمخې ته ولاړو طالب علمانو "20" ګوټې بنودل، د نورو مشاهده کول ؛ 10 × 2 = "20" وئېل .	تورو تخته
ـــ پۀ غیر ترتیب نه د نورو ټولو رقمونو غوښتنه کول	ـــ پرمیږ متعلقه شمېر ګوټې بنودل ، بیا مساوات وئېل .	
ـــ یو طالب علم ته بلنه ورکول چې د استاد پۀ شان عمل جاري وساتي .	ـــ همدغه شان عمل کول : د یو طالب علم پوښتنه کول ، د مخې ته ولاړو طالب علمانو ګوټې بنودل ، د نورو د مساواتو وئېل .	
	ـــ د خواست مطابق عمل کول ، د ټولو طالب علمانو پۀ خپلو ځایونو کښې ناست .	
ـــ وئېل چې دوه دوه کسان کښې ځي د "10" د پاړې نه وړاندې وار د یوبل نه پوښتنې وکړي او جوابونه ورکړي .		
ـــ پرمیږ مشق پاڼې ته د کتلو غوښتنه کول	4 ـ د لسو د مساواتو مکمل	
ـــ پۀ ځانله ځانله د مشق پاڼې د مکمل لو او د اندیوالانو سره یوځای د نتیجو چک کولو بلنه ورکول .	ـــ مشق پاڼې ته کتل ، بحث کول او پۀ کارځان پوهول : اول د لسو د ګروپ نه کرښه تاوول ، بیا صحیح عددونه پۀ بکسونو کښې لیکل .	مشق پاڼې ل 2-37
	ـــ د ټولو بکسونو چکول ، اصلاح کول ؛ پۀ آخر کښې کلاس ته د ټولو نتایجو لوستل .	

درسي پلان: ر ۲ - 37	ددې درسي پلان په باب څه نورې تبصرې

(1) په دې مرحله کښې به توره تخته داسې بنکاری .

10

20 = 10 + 10

30 = 10 + 10 + 10

40 = 10 + 10 + 10 + 10

50 = 10 + 10 + 10 + 10 + 10

60 = 10 + 10 + 10 + 10 + 10 + 10

100 = 10 + 10 + 10 + 10 + 10 + 10 + 10 + 10 + 10 + 10

(2) په دې مرحله کښې به توره تخته داسې بنکاری .

10 = 10 × 1

20 = 10 × 2

30 = 10 × 3

40 = 10 × 4

50 = 10 × 5

60 = 10 × 6

100 = 10 × 10

(د جمع او ضرب مربوطه مساوات به په همدغه کرښه لیکلے کیږی)

ر ۲ | ۳۷ - ۱

۸ = ۱۰ × ☐	
☐ = ۱۰ × ☐	
☐ = ۱۰ × ☐	
☐ = ۱۰ × ☐	
☐ = ۱۰ × ☐	
☐ = ۱۰ × ☐	
☐ = ۱۰ × ☐	
☐ = ۱۰ × ☐	
☐ = ۱۰ × ☐	

د ړومبۍ وړتیا درس	عنوان: دلسو ګروپونو پۀ پیدا کولو کښې نور مشق
خاکه	ر 2-37

د شاګردانو / استاد مشغلې	درسي معاونات
1 ـ د استاد پۀ توره تخته پۀ افقي ډول دلسولسو نقطو درې قطارونه جوړول ○○○○○ ○○○○○ ○○○○○ ○○○○○ ○○○○○ ○○○○○ ددواړو مساوات ولیکلو غوښتنه کول ، یعنې : $10+10+10 = 10 \times 3 = 30$	توره تخته
2 ـ د استاد پرمهیو درې قطارونو د لاندې دلسولسو نقطو خلور نور قطارونه جوړول ، د نقطو د دغه ټولو قطارونو د مساوات د لیکلو دپاره بلنه ورکول . یعنې : $10+10+10+10+10+10+10 = 10 \times 7 = 70$	
3 ـ د استاد جاري سائل ، پرمهیې دلسولسو نقطو دوه نور قطارونه د نورو قطارونو د لاندې جوړول ، بیا یې بل قطار جوړول ؛ د طالب علمانو پۀ یوبل پسې پۀ توره تخته د متعلقه مساوات لیکل .	
4 ـ د نقطو پۀ میدان د استاد د بحث غوښتنه کول ، ماشومان به معلوموي چې د چې نقطې ستونو پۀ ستون (کالم پۀ کالم) پۀ عمودي ډول د شمیرو نو د نقطو همغه شمیر پۀ لاس راځي کوم چې د قطار پۀ قطار پۀ افقي ډول د شمیرلو نه حاصلیږي .	
5 ـ د استاد دې نا مکمل مساوات لکه $10 \times 2 = \square$ پۀ توره تخته لیکل ، غوښتنه کول چې د نقطو د اسې قطارونه یا ستونونه دې وښودلے شي چې د رقم 2 د 10 × نمایندګي کوي ، د طالب علمانو رهنمائي کول چې د 20 نقطو د دوه قطارونو یا کالمونو د ښودلو پۀ ذریعه د نقطو د میدان پۀ سر یا پۀ منځ یا پۀ آخر کښې دې دوو قطارونو نه دیوې لښتې پۀ ذریعه د کرښې پۀ چاپیریال سره کیږي . بیا د جواب وئیل او نتیجه پۀ بکس کښې لیکل . $10 \times 2 = \square$	
6 ـ پۀ نورو رقمونو سره د دې فعالیت تکرار کول ، مثلاً 10×4 ؛ د قطارونو یا کالمونو د متعلقه شمیر پۀ مختلفو طریقو سره ښودل .	
7 ـ د 10×3 پۀ رقم سره د دې مشغلې تکرارول ، خو د قطارونو یا کالمونو نه به د چاک پۀ ذریعه کرښه چاپیریږي چې ګروپ بندي پۀ ستر ګو بنکاره ولیدلے شي .	
8 ـ د دې مشق پاڼې د مطالبې غوښتنه کول ، معلومول چې د متعلقه مساواتو د ښودلو دپاره به د نقطو ګروپونو نه دائره چاپیریږي ، د هرمساوات دپاره د چاپیریږي ګروپ بندي به ممکنې دی ، د ماشومانو د مشق پاڼې مکمل ، د استاد پۀ طالب علمانو ګرځېدل ، چک کول ، مدد کول .	مشق پاڼې ر2-37- 2



دویم ورځپی درس	عنوان: د 10 پۀ پاړه مشق کول
خاکه ر 2 - 37	

د شاګردانو/استاد مشغلې	درسی معاونات
1 ـ داستاد دلسو تبلو چې پۀ هرویو کښې لس لس کانړی وی ، پۀ میز اینبودل ، بیا دکانړو څلور تبلې پۀ لاس کښې داسې ټیول چې هرماشوم پۀ ولیدلے شی ، ځینې طالب علمان تورې تختې ته رابلل چې یو متعلقه مساوات ولیکی ؛ دماشومانو پۀ تورې تختې 10+10+10+10 = 40 یا 10 × 4 = 40 یا دوارو مساواتو لیکل .	دکانړولس تبلې تورې تختې
2 ـ کوم ماشوم چې دوارو مساوات صحیح ولیکل ترهغه غوښتل کیږی به چې دتبلو یوبل شمېر پۀ لاس کښې ونیسی ، پۀ دې وخت کښې دنورو ماشومانو پۀ تورې تختې دمساواتو لیکل ؛ داخوځلې تکرارېدلے شی .	دکانړو تبلې تورې تختې
3 ـ داستاد دجمع مختلف رقمونه لکه (10+10+10) یادضرب مختلف رقمونه لکه (10×4) وښل ؛ دماشومانو دکانړو د متعلقه شمېر تبلو راخیستل ، کلاس ته پۍ ښودل ، د نتیجو وښل .	
4 ـ غوښتنه کول چې دریمې مشق پانړې ته ګوګورئ ، پۀ پاسنی قطار خبرې کول ؛ څۀ چې پۀ دائرو کښې لیکل غواړی دهغې معلومول یعنې (10 ، 20 ، 30 ، ..... 100)	مشق پانړه ر2-37-3
5 ـ د مشق پانړې پۀ لاندینې برخه کار کول : (الف) پۀ کاربحث کول ، څۀ چې کول غواړی د ماشومانو دهغې معلومول : هغه رسمونه ، رقمونه اوعددونه یودبل سره تړل چې پۀ یوبل پورې تعلق لری . (ب) د صحیحو کړښو پۀ جوړولو سره د مشق پانړې مکمل کول . (ج) کلاس ته د تړلے شوو جنسونو لوستل	



ریاضی - دویم ټولګی	عنوان: په ۱۰ تقسیمول
ل 2 - 38	

د استاد مشغلې	د شاګرد مشغلې	درسي معاونات
	۱- د ۱۰ په پاڼې باندې ذهني مشق	
- د ۱۰ د پاڼې نه په یادو کارونه ورکول ـ مثلاً $10 \times 5 = \square$ $\square = 10 \times 7$ $10 \times 9 = \square$ $\square = 10 \times 2$	- ډیوخو طالب علمانو د هرکار جواب ورکول؛ بیا د طالب علمانو خپلې هم دغه شان عملیې ورکول، د نورو جواب ورکول.	
	2- د ۱۰ په ګروپو تقسیمول	
- لس طالب علمان د کلاس مخې ته را بلل.	- د لسو طالب علمانو مخې ته را تلل، په یو قطار ودریدل.	
- هر طالب علم ته لس لښتې ورکول؛ په نوره تخته $4 \times 10 = \square$ لیکل (۱)؛ غوښتنه کول چې د متعلقه شمېر لښتو عدد وښائي.	- د خلورو طالب علمانو د هر یو لس لښتې ښودل، د نورو ورته کتنل، خۀ چې دوی وینې د هغو بیانول، په اخر کښې ټکس په نوره تخته ډکول.	نوره تخته 100 لښتې
- $10 \times 10 = \square$ لیکل.	- د مخې ته ولاړو طالب علمانو هم دغه شان عمل کول، د نورو چک کول، بیانول ټې، بیا ټکس ډکول.	
- ناستو طالب علمانو ته وئیل چې خپلې ستړکې بندې کړې. بیا په مزه د 6 طالب علمانو ته غوښتنه کول چې په خامو شۍ سره خپلې لښتې په مېز کښې دی.	- 6 طالب علمانو کښې د هر یو 10 لښتې په مزه ایښودل، بیا خپل ځای ته تلل، د مخې ته ولاړو نورلو طالب علمانو خپلې شاته لاسونه پټول.	
- غوښتنه کول چې ستړکې پرانیزې او معلومه کړې چې څۀ وشو.	- معلومول چې د لښتو یو ډېرے په مېز پروت دے، وئیل چې مخې ته ولاړو یو څو طالب علمانو خپلې لښتې په مېز کښودې.	
- غوښتنه کول چې د دې طالب علمانو شمېر به څنګه معلومولے شی.	- بحث کول، د لسو ډ ګروپو جوړولو نخوین وراندې کول او د دې ګروپو شمېرل؛ بیا د یو یا دوو طالب علمانو په مېز د 10 لښتو ګروپه جوړول، د ګروپو شمېر معلومول یعنې 6؛ وئیل چې 6 طالب علمانو خپلې لښتې کښودې دی.	
- د اسې ډ د 60 - داسې کښو جوړول چې د لښتو نمایندګۍ وکړی. - د لسو د ګروپو جوړولو غوښتنه کول.	- د لسو کښو د ګروپونه دائره چاپېرول، معلومول چې په مېز د پرتو لښتو په شمار دا د لسو لښتو 6 ګروپه دی.	
- غوښتنه کول چې دا ټول به د تقسیم د بیو مساواتو په شکل کښې څنګه لیکلے شی.	- بحث کول، کوشش کول، بیا معلومول چې متعلقه مساوات $60 \div 10 = \square$ دے.	
- کلاس ته د ولاړو طالب علمانو خپلې لښتې ښودل (که چا نه ښودلې وی)، د نورو خالی لاسونه ښودل؛ د ناستو طالب علمانو معلومول چې مساوات صحیح دۀ.		
- هم دې مشغلې مختلفو مساواتو سره یوځا دوه څلۀ تکرارول مثلاً 3، 8، 5 د طالب علمانو نه غوښتنه کول چې خپلې لښتې کښې دی.	- مخې ته د ولاړو طالب علمانو خپلې لښتې اوچتول، بیا هم دغه شان عمل کول، د مخکښې په شان د لښتو ګروپونه جوړول، د کښو جوړول، د کښو د ګروپو نه دائره چاپېرول، مساوات معلومول او اصلاح ټې کول، چک کول.	
	3- په مشق پاڼه کښې هم دغه شان مساوات مکمل کول	
- د پورتنۍ مشق پاڼې د مطالعه کولو غوښتنه کول؛ په طالب علمانو ګرځېدل، مرسته کول.	- په کار ځان پوهول، د 10 کښو د نورو ګروپونو نه دائره چاپېرول، د مساواتو مکمل کول، کلاس ته لوستل، مقابله کول، اصلاح ټې کول، چک کول.	مشق پاڼه پ2-38-1

درسي پلان: د 2 - 38	ددې درسي پلان پۀ باب څۀ نورې تبصرې

۱۰ هرکلـه چې پۀ دې سبق او نورو وړاندو سبقونو کښې د لښتو ضرورت دے ، دې د پاره استاذ دې 100 وړې لښتې چې تقریباً 5 انچـه اوږدې وی راپیدا کړی او چرته دې کښې دی۔

د ۲	۱ - ۴۸



د ړومبۍ وړپسۍ درس خاکه د 2-38	عنوان: د لسو پۀ کروپو کښې تقسیمول پاڼه 10 تقسیمول

د شاګردانو/استاد مشغلې	درسي معاونات
1- د استاذ د 60 لښتو یو ډبره (انبار) پۀ میز اېښودل، بیا د طالب علمانو نه پوښتنه کول. د 10 پۀ کروپو کښې پۀ څو طالب علمانو دا لښتې تقسیمېدلے شي؟ د طالب علمانو بحث کول، د څۀ کولو نڅوین وړاندې کول. د یو طالب علم د وړې لښتې شمېرل، بیا پۀ میز د لسو لښتو کروپه جوړول. د نورو د څه کروپه شمېرل یعنې "6" وئیل چې پۀ 6 طالب علمانو 60 لښتې د 10 پۀ کروپو کښې تقسیمېدلے شي.	لښتې
2- د استاذ پۀ تخته د متعلقه مساوات یعنې 60 ÷ 10 = 6 د لیکلو غوښتنه کول.	تخته
3- پۀ میز د مختلف شمېر د لښتو د اېښودلو پۀ ذریعه خوځلې د مشق تکرارول (مثلاً 80، 100، 40، 30)، هرځل غوښتنه کول او د محکښې پۀ شان عمل کول (یعنې شمېرل، جواب ورکول، لیکل ....)	
4- پۀ تخته 50 ÷ 10 = ☐ لیکل؛ د عددي قمې د ډیلو غوښتنه کول؛ د طالب علمانو وئیل چې 50 لښتې د 5 نه 10 پورې د طالب علمانو پۀ کروپو تقسیمول پکار دي. معلومول چې 50 پۀ 10 تقسیم شي نو د 5 برابر شي (که څۀ مشکل پېښ شو نو استاذ دې د محکښې پشان متعلقه مشغلې تکرار کړي)	
5- د دویمې مشق پاڼې د مطالعه کولو غوښتنه کول، د استاذ د مشق پاڼې پۀ سر کښې د 100 نقطو د جدول (ټېبل)، د استخالولو عملي مظاهره کول، د ړومبۍ کار مطابق عمل کول یعنې 60 ÷ 10 = ☐؛ پۀ بنې یا کڼ اړخ کښې د 40 نقطو یعنې د لسو نقطو د څلورو کالمونو پټول او 60 نقطو یعنې د لسو نقطو د شپږو کالمونو ښکاره پاتې کېدل چې نتیجه یعنې 6. پۀ اسانه سره ولیدلے شي.	مشق پاڼه ږ-38-2
6- پۀ کار د پوهېدلو نه پس د طالب علمانو د مشق پاڼې مکملول، د 100 نقطو د استعمال نه کار اخیستل؛ د عملیې لوستل، د نتیجې د معلومولو دپاره د نقطو استخالول، د مساواتو د مکملولو دپاره د بکسونو ډکول.	

ږ ۲ | ۳۸ - ۲



☐ = ۱۰ ÷ ۶۰	☐ = ۱۰ ÷ ۱۰۰	☐ = ۱۰ ÷ ۹۰
☐ = ۱۰ ÷ ۴۰	☐ = ۱۰ ÷ ۱۰	☐ = ۱۰ ÷ ۲۰
☐ = ۱۰ ÷ ۷۰	☐ = ۱۰ ÷ ۸۰	☐ = ۱۰ ÷ ۵۰
	☐ = ۱۰ ÷ ۳۰	

دویم ورېښې درس	عنوان: د ۱۰- تقسیم او ضربونه یو بل سره یوځای کول
خاکه د 2-38	

د شاګردانو/استاد مشغلې	درسی معاونات
1- ذهنی مشق : د استاذ د ۱۵ دپاړې نه د ضرب مختلف رقمونه وښیل (مثلاً 7 x 10 ، 2 x 10 ، 9 x 10 .....) ؛ د ځانله ځانله طالب علمانو د نتیجې وښیل .	
2- د استاذ غوښتنه کول چې ماته پۀ غور وګورئ چې زه څۀ کوم . بیا پۀ مزه پۀ خاموشۍ او دډولو ماشومانو محکښې پۀ یو لاس کښې ۱۵ لښتې اخیستل ، دا اوچتول بیا پۀ بل لاس ۱۵ نورې لښتې اوچتول . انتظار کول . بیا ټولې 20 لښتې پۀ میز ایښودل ، د لښتو یو ډېرې (انبار) جوړول ؛ بیا دوباره د ۱۵ لښتو دوه ګروپه جوړول ، پۀ خپلو دواړو لاسونو کښې ټې راخیستل ، لاسونه اوچتول . دا ټول عمل هم دغه شان یو ځل بیا تکرارول ، بیا یې څۀ طالب علمانو ولیدل د هغې د بیا ټولو غوښتنه کول .	20 لښتې
3- د طالب علمانو بیا ټول یې چې استاذ زومه پخپل لاس کښې 2 x 10 لښتې راواخیستې ، بیا ټې پۀ میز کښودې ، بیا ټې د لسو لښتو پۀ دوه ګروپه کښې دوباره تقسیم کړې .	
4- د استاذ وښیل چې ما څۀ وکړل دا د دوو مساواتو پۀ شکل کښې کیدے شی ؛ د طالب علمانو کوشش کول ، پۀ ډېرو جوابونو بحث کول ، د دوی د دوو مساواتو پۀ توره تخته لیکل یعنې 20 = 10 x 2 20 ÷ 10 = 2 ؛ بیا پۀ اخر کښې چې استاذ څۀ وکړل د هغې بیا ټول ، بیا پۀ همدغه وخت پۀ توره تخته مساوات ته اشاره کول .	توره تخته
5- د طالب علمانو د درئمې مشق پاڼې پۀ کار ځان پوهول ؛ د یکسونو ټول کول ؛ پۀ اخر کښې ټول مساوات کلاس ته لوستل ، مقابله کول ، اصلاح کول .	مشق پاڼه ر2-38-3

د۲ | ۳۸-۳



۲ = ۱۰ ÷ ۲۰	۲۰ = ۱۰ × ۲
۷ = ۱۰ ÷ ۷۰	۷۰ = ۱۰ × ۷
= ۱۰ ÷ ۸۰	۸۰ = ۱۰ × ۸
= ۱۰ ÷	= ۱۰ × ۱۰
= ۱۰ ÷	= ۱۰ × ۴
٦ = ۱۰ ÷	= ۱۰ × ٦
۹ = ۱۰ ÷	= ۱۰ × ۹
= ۱۰ ÷	= ۱۰ × ۵
= ۱۰ ÷	= ۱۰ × ۳
= ۸۰ ÷ ۱۰	= ۱۰ ×
= ۱۰ ÷	۵۰ = ۱۰ ×

ریاضی ـ دویم ټولګی	عنوان: د ضرب د مبادلوی خاصیت مشق کول (1)
ر 2 ـ 39	

د استاد مشغلې	د شاګرد مشغلې	درسي معاونات
ـ د 2، 5 او 10 د پاڑې مختلف رقمونه وټول، یعنې 2 × 3 ، 2 × 7 ؛ 2 × 6 ؛ یا 4 × 5 ؛ 8 × 5 ..... 2 × 10 . ـ بوطالب علم ته وټیل چې د معلم پۀ شان عمل وکړي ، داسې رقمونه وټیل لکه : 4 × 2 ؛ 3 × 5 ؛ 7 × 2 ؛ 4 × 10 .	1ـ د 2، 5، 10 د ضرب تکرار ـ ځانله ځانله د مساوانو مکمللول . ـ د مخکښې پۀ شان عمل کول .	
ـ پۀ نوره تخته 2 × 5 = □ ، 5 × 2 = □ لیکل (2) ـ د بکسونو د ډکولو اودې د معلوملولو عنوښتنه کول چې د 10 × 2 = ؛ 2 × 10 = پۀ لیدلو سره د حیرانتیا وړ کومه خبره ده . ـ اعلانول چې طالب علمان پۀ غور سره د لاندې عملي مظاهرې د مشاهدې نه وجوهات معلوملے شئ ؛ 10 طالب علمان مخې ته رابلل او د حوالې وړکولو مطابق پرې عمل کول . ـ د متعلقه مساوات عنوښتنه کول .	2ـ د ضرب د مبادلوی خاصیت مشق کول ـ معلومول چې د دواړو رقمونو حاصل ایکې یو شان دے یعنې 10ـ ؛ بکسونه ډکول . ـ وټیل چې بیا هم د دواړو رقمونو حاصل ایکې یو شے یعنې 20ـ دے . ـ د 10 طالب علمانو مخې ته جوړه جوړه ودریدل ؛ جوړو به یوبل ته لاس ورکړي وي . ـ بحث کول ، د صحیح مساوات معلومول یعنې 2 × 5 = 10 ؛ پۀ نوره تخته د هغې لیکل . ـ بنې اړخ ته راګرځېدل ، اوس 5 طالب علمانو پۀ دواړو قطارو کښې یوبل ته لاسونه ورکړي دي . ـ بحث کول ، صحیح مساوات معلومول یعنې 2 × 5 = 10 ؛ دا پۀ نوره تخته لیکل . ـ بحث کول ؛ وټیل چې طالب علمانو یوا ځې خپل پوزیشن بدل کړے دے ، د طالب علمانو شمېر صحیح بدل شوے نۀ دے . ـ پوښتنه د طالب علمانو لس دوه کسیزې جوړې جوړول (جوړو به یوبل ته لاسونه ورکړي وي) ؛ بیا بنې اړخ ته راګرځېدل ، د لسو طالب علمانو دوه قطارونه جوړول (دهر ګروپ طالب علمانو به لاسونه ورکړي وي) ؛ د متعلقه مساوانو پۀ نوره تخته لیکل .	نوره تخته
ـ پۀ نوره تخته 3 × 5 = لیکل ؛ د نتیجې یا حاصل عنوښتنه کول . ـ پوښتنه کول چې بل کوم داسې مساوات شته چې حاصل یې همدغه راشي . ـ د مخکښې پۀ شان پۀ عمل کښې د نتیجو رسولو د پاره بلنه ورکول چې ایا دا قیاس صحیح دے او کنه . د ضرورت د اندازې پورې دوغه عمل لا ریښودنه کول .	3 ـ د ضرب د مبادلوی خاصیت نورمشقونه ـ د حاصل وټیل ، پۀ آخر کښې 15ـ پۀ خالی بکس کښې لیکل . ـ بحث کول ، قیاس کول چې شاید د 5 × 3 = حاصل هم 15ـ وي . ـ د 15 طالب علمانو پۀ درې قطارونو کښې ودریدل چې پۀ هر قطار کښې پنځه پنځه طالب علمان وي ، د هر قطار پنځو ماشومانو به لاسونه سره ورکړي وي ، دیوماشوم پۀ نوره تخته لیکل : 3 × 5 = 15 ؛ بیا د نورو 15 طالب علمانو بنې اړخ ته راګرځېدل ؛ اوس د درې درې طالب علمانو پنځه قطارونه جوړول ؛ دیوماشوم پۀ نوره تخته لیکل : 5 × 3 = 15	نوره تخته
ـ د پورتنۍ مشق پاڼې پۀ پاسنۍ برخه بحث کول . ـ عنوښتنه کول چې د مشق پاڼې لاندنۍ برخه د اتو یوال سره یوځای مکمله کړي .	4ـ پۀ مشق پاڼه نور مشق کول ـ خپۀ چې دوی وپخې د هغو بیانول ، پۀ کارځان پوهول ، بکسونه ډکول . ـ د مشق پاڼې مکمللول ، نورو مساوات کلاس ته لوستل ؛ مقابله کول ، که ضرورت وُو نو اصلاح ئې کول .	مشق پاڼه ر2-39-1

درسي پلان: ر2-39	ددې درسي پلان پۀ باب څۀ نورې تبصرې

(1) د ضرب مبادلوی خاصیت ـ اصطلاح به ماشومانو ته پۀ دې مرحله کښې نه بتودل (معرفی) کیږی. کوم څیز چې دلته د ماشومانو دپاره مهم دے هغه د ضرب د مبادلوی خاصیت نفس دے چې د مشغلو پۀ ذریعه هغی ته وده ورکول پۀ کار دی. د دوی همدومره پوهه پۀ کار ده چې کله دلاسه 2 x 5 = 10 پېژنی نو ددې مساوات پۀ فوت پدې هم پوهه شی چې 5 x 2 = 10 کیږی یعنې د دواړو مساوانو جواب یو شے دے. دا د ضرب د اصطلاح شمېر راکموی د کوم چې پۀ یادو سائل پۀ کار وی.

(2) مساوات به د یوبل خواکښې لیکلے کیږی.

(3،4) د مخې ته ولاړو طالب علمانو ته چې کوم عمل غوښتلے کیږی نو ددې حوالہ به پۀ وضاحت سره ورکوی:

(3)

پۀ اول کښې به دوی جوړه جوړه ودریږی؛ جوړو به یوبل ته لاسونه ورکړی وی، پنځۀ جوړې به دیوبل شاته ولاړې وی د دوه دوه کسو پنځه قطارونه به جوړوی.

(4)

اوس به نور طالب علمان پیدا سې طریقه ښی یا کښې اړخ ته راګرځی چې د پنځو پنځو طالب علمانو دوه قطارونه جوړ شی؛ د هرګروپ پنځه واړو طالب علمانو به یوبل ته لاس ورکړی وی.



د ډومبی وړپسې درس	عنوان: د 2، 5 او 10 د پاړونه د ضرب د مبادلوی خاصیت پۀ رقمونو مشق کول
خاکه د 2-39	

د شاګردانو/استاد مشغلې	درسی معاونات
1- د استاد 15 کانړې پۀ مېز ایښودل د درې څله پنځه پنځه کانړو یو میدان جوړول؛ د طالب علمانو نه غوښتنه کول چې د کانړو د درې میدان یو تصویر پۀ تخته وباسی ؛ طالب علمان ځې د اسې تصویر وباسی :	15 کانړې
2- د استاد طالب علمانو ته بلنه ورکول چې د مېز مخې ته ودریږی او ووائی چې څۀ لیدل کیږی (یعنې د پنځو پنځو کانړو درې قطارونه)، د یو طالب علم مخې ته راتلل او د قدمې وټیل ، د یل طالب علم پۀ تخته د نقطو نه لاندې پۀ یو بکس کښې د متعلقه مساوات لیکل یعنې $3 \times 5 = 15$	تخته
3- د استاد یوځو نورو طالب علمانو ته بلنه ورکول چې د مېز مخې اړخ ته ودریږی، د کانړو میدان ته کتل ، څۀ چې وینی د هغې تشریح کول یعنې وټیل : (د درې درې کانړو پنځه قطارونه دی) ؛ د متعلقه مساوات د پیدا کولو د پاره بحث کول ؛ د استاد د نقطو د میدان د خوا بکس کښې د مساوات $5 \times 3 = 15$ لیکل (د ر2 - 39 - 2 مشق پاڼې پۀ شان) ؛ د نورو مشاهده کول ، د دواړو مساواتو د پاره د ابکی یوشان نتیجې بیان کول).	
4- د مساواتو پۀ حقله د طالب علمانو سره د استاذ بحث کول ، معلومول چې د ضربولو پۀ وخت کښې د عددونو د ځای بدلول پۀ حاصل کښې تغیر نه راولی.	
5- د استاد یو ځل پسې د نورو میدانونو پۀ تخته جوړول (یعنې 5×10 ؛ 4×2 ، 5×6 ، .....) د هغو څخه کښینو نقطو د لاندې او ورسره خوا کښې د استاد د دوو نورو بکسونو جوړول ؛ د طالب علمانو تشریح کول ، د بکسونو پرکول.	
6- دوې مشق پاڼې ته کتل ؛ معلومول چې ښی اړخ نه د مشق پاڼې د اړولونه روسته د ښی اړخ بکسونه پۀ اسانۍ سره پرکیدے شی . د طالب علمانو د کار معلومول ؛ پۀ آخر کښې ځې کلاس نه لوستل ؛ چک کول .	مشق پاڼه ر2-39-2



دویم وړیې درس	عنوان: د ۱۰ـ/ مخلوطو مشقونو پۀ مبادلوی خامیت کښې مشق
خاکه ر2-39	

د شاګردانو/استاد مشغلې	درسی معاونات
1- مثلاً د 3×5 ، 9×2 ، 8×10 ، 5×2 ، 6×5 ، 7×10 ..... د پاڼونه طالب علمانو ته د استاد پۀ زباني لور کارونه ورکول چې څومره ممکن وی هغومره زر ئې حل کړی .	
2- د استاد پۀ تور تختې 5×7 لیکل ؛ بیا د دې رقم پۀ عوض د هغه مساوات غوښتنه کول چې پۀ اسانۍ سره مکمل کړے شی ؛ 7×5=35 پۀ تور تختې لیکل ؛ اوس د اول رقم بیا لیکل او د مساوات مکملول : 5×7=35	تور تخته
3- مشق د بل مثال پۀ ذریعه تکرارول (مثال د مشق پاڼې نه اخیستل کیدے شی)	
4- د طالب علمانو د دریمې مشق پاڼې پاسنۍ برخه وکول ؛ پۀ آخر کښې ئې کلاس ته لوستل ، که ضرورت وۀ اصلاح کول .	مشق پاڼه ر2-39-3 پاسنۍ برخه
5- د استاد پۀ تور تختې 5×8 = ☐ لیکل ، د دې د حلولو غوښتنه کول ؛ د ماشومانو د ذهن کښې پۀ 5×8 اړول ، حلول ئې یعنې 40 ؛ پۀ خالي بکس کښې نتیجه لیکل ، کلاس ته د مساوات لوستل .	
6- د ماشومانو د مشق پاڼې لاندینۍ برخه مکملول ؛ بیا کلاس ته د مساواتو لوستل ، مقابله کول ، که ضرورت وو اصلاح کول .	مشق پاڼه ر2-39-3 لاندینۍ برخه

ر2 | 39-3

۵×۹ = ۵×۹ = ۴۵	۱۰×۴ = ۴×۱۰ = ۴۰	۲×۸ = ۸×۲ =	۵×۴ = ۴×۵ =
۲×۸ = ۲×۸ =	۲×۷ = ۷×۲ =	۱۰×۳ = ۳×۱۰ =	۱۰×۹ = ۹×۱۰ =
۱۰×۶ = ۶×۱۰ =	۵×۹ = ۹×۵ =	۵×۷ = ۷×۵ =	۲×۶ = ۶×۲ =
۲×۳ = ۳×۲ =	۵×۸ = ۸×۵ =	۱۰×۴ = ۴×۱۰ =	۵×۹ = ۹×۵ =
۵×۴ = ۴×۵ =	۲×۹ = ۹×۲ =	۵×۶ = ۶×۵ =	۵×۷ = ۷×۵ =
۱۰×۶ = ۶×۱۰ =	۱۰×۸ = ۸×۱۰ =	۲×۶ = ۶×۲ =	۱۰×۳ = ۳×۱۰ =
۵×۷ = ۷×۵ =	۲×۷ = ۷×۲ =	۱۰×۹ = ۹×۱۰ =	۲×۴ = ۴×۲ =

ریاضی – دویم ټولګی | عنوان: د ضرب مشق کول، د مساوات نو د لیکلو نورې شکل استعمالول

ل 2 – 40

د استاد مشغلې	د شاګرد مشغلې	درسي معاونات
	1 – د ضرب د مساواتو د نوې شکل د لیکلو معرفي کول	
– د څېښنو مساواتو په نوره تخته لیکل: مثلاً $8 \times 2 = \square$ ، $4 \times 5 = \square$ ، $3 \times 10 = \square$ ، $5 \times 2 = \square$ ، $7 \times 5 = \square$ ، $9 \times 10 = \square$	– نورې تختې ته کتل، استاد ته جواب ورکول، د نتیجو بکسونه ډکول.	نوره تخته
	– ورته په غور کتل، د ښې ښې طالب دا نوې شکل په نوره تخته لیکل.	
– تشریح کول ددې عملي مظاهرې کول چې $8 \times 2 = \square$ داسې هم لیکلے کیږي: $\frac{2}{8} \times$ دا ټیک د 8×2 مساوات لاندې لیکل.		
– بلمنه ورکول چې په تخته لیکلے شوې نور مساوات هم په نوې شکل کښې ولیکي (1)	– په تخته لیکلے شوې مساوات په همدغه طریقه سره لیکل، په همدغه ډول وخت کښې نور عددونه او علامات کلاس ته لوستل (یعنې: $\frac{4x}{20}$ ، $\frac{3x}{30}$ ، $\frac{5x}{10}$ ، $\frac{7x}{30}$ ، $\frac{9x}{20}$) 5 10 2 10 5	
	2 – په دواړو طریقو سره د ضرب د مساواتو د لیکلو مشق	
– په نوره تخته د دوه دوه نقطې شپږ قطارونه جوړول، غوښتنه کول چې دواړه ممکن مساوات وواځي.	– 6×2 او 2×6 ، وئېل، دواړه مساوات په عادي شکل کښې لیکل یعنې $2 \times 6 = 12$ ، $6 \times 2 = 12$	نوره تخته
– په نوې شکل کښې د دواړو مساواتو د لیکلو غوښتنه کول.	– د $2 \times 6 = 12$ خواکښې 2 لیکل $\frac{2}{6x}$ $\overline{12}$ اود $6 \times 2 = 12$ خواکښې 6 لیکل $\frac{6}{2x}$ $\overline{12}$	
– د شغلې تکرارول، د 2، 5، 10 د پاڼو نه مختلف مساوات په نوره تخته لیکل یعنې $7 \times 5 =$ ، $9 \times 10 =$ ، $6 \times 2 =$ ، $3 \times 10 =$	په همدغه وخت کښې ټې کلاس ته لوستل.	
– یو څو مساوات په نوې شکل کښې په نوره تخته لیکل لکه $\frac{6x}{}$ 5 7 10	– د ما شومانو دغه مساوات حلول، بیا – یو په یو – په خوا کښې د نوې اشکالو لیکل، په غور سره ټې کلاس ته لوستل.	
د حلولو اوکلاس ته په غور د لوستلو غوښتنه ټې کول.	– د $\frac{6x}{}$ 5 په لیکلو سره رومبے مساوات حلول، د نورو کلاس ته لوستل، چک کول، هم دغه شان نورو مساواتو سره ټې جاري ساتل، که ضرورت وو نو اصلاح کول	
	3 – په مشق پاڼه د دواړو اشکالو مشق کول	
– د رومبے مشق پاڼې رومبے مثال ته د کتلو غوښتنه کول، په نوره تخته د هغې لیکل.	– په مثال بحث کول، دواړه شکلونه کلاس ته لوستل، په نوره تخته متعلقه عددونو / علاماتو ته اشاره کول.	مشق پاڼه 2-40-1 نوره تخته
– د مشق پاڼې د مکملولو غوښتنه کول، چک کول، اصلاح کول.	– د مساواتو حلول، بیا ټې په نوې شکل کښې لیکل، د اړوند یوال سره ټې متابله کول، په آخر کښې د مساواتو کلاس ته لوستل، چک کول، اصلاح کول.	

درسي پلان: ر2 - 40	ددې درسي پلان په باب څه نورې تبصرې

۱، کله چې ضرب ۸ × 2 = 16 په عمودي شکل $\frac{8\times}{16}$ 2 لیکلے کیږي نو داسې لوستلے کیږي:

۸ څلـه 2 مساوي کیږي په 16 یا په لنډ ډول: اتهٔ په دوه کښې شپاړس.

د استناد به دې خبرې ته بنهٔ پام وی چې د اتهٔ څلـه دوه (8 × 2) مطلب دے د دوو اته ګروپه.

ر۲ ۱-۴۰			
۱۰ × ۴ =	☐ = ۱۰ × ۴	۵ × ۳ = ۱۵	☐ = ۵ × ۳
☐ × ۶ =	☐ = ۵ × ۶	۲ × ☐ =	☐ = ۲ × ۷
☐ × ☐ =	☐ = ۲ × ۶	☐ × ☐ =	☐ = ۱۰ × ۹
	☐ = ۵ × ۸	_____	☐ = ۱۰ × ۳

د ورځې درس	عنوان: ضرب او تقسیم.
خاکه ر-2-40	پهٔ نوی شکل کښې د ضرب د مساواتو د لیکلو مشق کول

د شاګردانو/استاد مشغلې	درسي معاونات
1- د استاد د دوکاندارۍ دیوې لوبې اعلانول. مختلف خیزونه پهٔ میز ایښودل یعنې شپږ سلیټونه چې د هر یوهٔ سره پنځهٔ روپۍ قیمت لیکلے شوے وی، 8 پنسلونه هر یو د دوه روپو، او 9 کتابونه هر یو د لس لس روپو د قیمتونو سره، د طالب علمانو نه غوښتنه کول چې پهٔ ګروپونو کښې د پنځو، لسو او 2 مضمونی نوټونو پهٔ ذریعه لوبې ته تیار شی.	شپږ سلیټونه 8 پنسلونه، 9 کتابونه مضمونی نوټونه
2- بلنه ورکول چې د خیزونو کوم یو ګروپ مثلاً سلیټونه واخلی، د یو ماشوم مخې ته راتلل، د پنځو روپو شپږ نوټونه استاد ته ورکول.	
3- د استاد کلاس ته وئیل چې دې هلک مانته د پنځو روپو شپږ نوټونه راکړل، پوښتنه کول چې دا ټولې څو روپۍ کیږی؟ پهٔ دواړو شکلونو کښې پهٔ نوره تخته د متعلقه مساواتو د لیکلو بلنه ورکول، د یو ماشوم مخې ته راتلل او پهٔ نوره تخته لیکل: $6 \times 5 = 30$ او $\frac{5}{6\times}$ / 30	
4- پوښتنه کول چې دا ماشوم پهٔ 30 روپو څومره سلیټونه اخیستلے شی، دماشومانو بحث کول چې ددې څنګه حسابول پهٔ کار دی، معلومول چې 30 به پهٔ پنځو تقسیمول عواړی؛ پهٔ نوره تخته لیکل $30 \div 5 = \square$؛ دماشومانو د پنځو پاڑه را پهٔ ذړۍ کول او جواب ورکول یعنې 6؛ د یکس ډکول؛ اوس د استاد مخې ته ولاړ ماشوم ته د شپږو سلیټونو ورکول.	
5- د خیزونو د بل ګروپ مثلاً پنسلونو د اخیستلو د پاره بلنه ورکول، د هر پنسل قیمت دوه روپۍ دے. د یو ماشوم د 2 روپو خلور نوټونه یا دوه "یوګون" استاد ته ورکول؛ اول د استاد د ټول شمیر پهٔ باب بیا پوښتنه کول؛ مساوات به پهٔ تخته پهٔ دواړو شکلونو کښې لیکلے کیږی یعنې $4 \times 2 = 8$ او $\frac{2}{4\times}$ / 8 معلومول چې د پنسلونو شمیر به څنګه معلومیږی. ماشوم پهٔ دغه روپو $8 \div 2 = 4$ پنسلونه اخیستلے شی د استاد دغه شمیر پنسلونه مخې ته ولاړ ماشوم ته ورکول.	
6- د پورې مشق د پاره یو یا دوه مثالونو باندې همدغه شان کارکول.	
7- دوهمې مشق پاڼې ته کتل؛ پهٔ کار بحث کول، دویمه مشق پاڼه د اړوپوال سره مکمل ول، پهٔ آخر کښې ټې کلاس ته لوستل، مقابله کول ټې، اصلاح کول ټې.	مشق پاڼه ر-2-40-2



دویم ورپسې درس	عنوان: پۀ مخلوطو عملیو کښې مشق
خاکه ر2- 40	

د شاګردانو/استاد مشغلې	درسی معاونات
1- ذهنی تربیت: د 2، 5 او 10 د پاڑې نه د استاد د ضرب د مختلفو مساواتو وټیل، خومره چې ممکنه وی هغومره زر د طالب علمانو جواب وټیل.	
2- د استاد د طالب علمانو دوه ګروپه جوړول، دیوګروپ یو ماشوم ته بلنه ورکول چې د 2، 5 او 10 دپاڑې نه کوم یو مساوات پۀ نوی شکل کښې ولیکی مثلاً $\frac{5}{3\times}$ 15 ؛ دبل ګروپ د دې د عکس یعنې تقسیم مساوات لیکل او مکمل ول لکه 15 ÷ 5 = 3	تورہ تخته
3- د درېیمې مشق پاڼې پۀ اول مثال د استاد بحث کول، خۀ چې کول غواړی د هغې معلومول ؛ د مشق پاڼې مکمل ول.	مشق پاڼه ر2-40-3
4- د استاد غوښتنه کول چې یکسونه ډک کړی، د مشق پاڼې پۀ لاندینۍ برخه کښې پۀ یکسونو کښې د نتیجو ټیک (✓) کول.	
5- د استاد مدد کول که ضرورت وو، چک کول ؛ پۀ آخر کښې د ماشومانو د ټولو مساواتو کلاس ته لوستل.	

ر2 | 40 – 3

٥ × ٧ = ٣٥	٣٥ ÷ ٥ = ٧	٢ × ٦ = ١٢	١٢ ÷ ٢ = ٦
١٠ × ٤ = ٤٠	٤٠ ÷ ١٠ = ٤	٥ × ٤ = ٢٠	٢٠ ÷ ٥ = ٤
٨ × ٢ = ١٦	١٦ ÷ ٨ = ٢	٢ × ٥ = ١٠	١٠ ÷ ٥ = ٢
٩ × ١٠ = ٩٠	٩٠ ÷ ٩ = ١٠	٤ × ٥ = ٢٠	٢٠ ÷ ٤ = ٥

٤٠		١٠		٤
	٢		٢٠	
٢٠		١٢		٣٥
	٣٥		٤	
١٠		٤٠		٢
	٥		١٢	

ریاضی – دویم ټولګی	عنوان: په دوه بعده (دوه ارخیزه) اشکالو کښې په فرق پوهېدل (مربع کاپی، دائرې، مثلثونه)
ل 2 – 41	

د استاد مشغلې	د شاګرد مشغلې	درسي معاونات
	1- د خېزونو مختلف شکلونه پېژندل	
- د طالب علمانو نه غوښتنه کول چې د دوکانونو په ماریو کښې چې څه لیدل کیږي هغه بیان کړي.	- یو طالب علمان د هغه دوکانونو په باب چې پېژنې ئې او د هغوی د خېزونو په باب چې پکښې لیدل کیږي، خبرې کوي (1)	
- په طالب علمانو پوهېدو مشق پاڼې مطالعه کول، که ضرورت وو تشریح کول ئې (2)	- په مشق پاڼه کښې چې څه وېنې د هغوی بیانول؛ د خېزونو نومونه اخیستل، خبرې ورباندې کول.	مشق پاڼه ر2-41-1
- وئېل چې د مشق پاڼې خېزونه مختلف شکلونه لري (3)	- وئېل چې دا خېزونه غوښې دی یا کښونه لري؛ د یو طالب علم په تور تخته د یو بال او یو فالین یا یو کتاب او د تصویر یو فریم جوړول (4)	تور تخته
- پوښتنه کول چې کوم طالب علم په تور تخته د چوپ شوو خېزونو نومونه اخیستلې شي؛ که ضرورت وو مدد کول؛ په وضاحت سره د دغه شکلونو نومونه اخیستل.	- دغه شکلونو ته دائرې، مربع کاپی او مثلثونه وئېل؛ متعلقه شکلونو ته اشاره کول، د دغه خېزونو/شکلونو خوځلې نومونه اخیستل یا اشاره ورته کول.	
	2- د مشق پاڼې نه مربع کاپی، مثلثونه او دائرې شلول	
- د طالب علمانو نه غوښتنه کول چې په ملحقه حصه کښې دویمې مشق پاڼې نه وګوري.	- په مشق پاڼه کښې د مختلفو شکلونو پېژندل او صحیح نومونه ئې اخیستل لکه مربع، مثلث، دائره؛ متعلقه شکلونو ته اشاره کول	مشق پاڼه ر2-41-2 (ملحقه حصه)
- د سوري سوري کرښو په اوږدو د قطګولو او شپږ ځای خېرواو عملي مظاهرې کول؛ په شلولو کښې مدد کول.	- د سوري سوري کرښو په اوږدو قطګول او خېروول چې د پاڼې نه شپږ ټوټې په لاس راشي.	
- قدم په قدم د دې عملي مظاهرې کول چې د کاغذ د یخځو ټوټو د قطګولو او خېروولو نه خښکه مربع کاپی او مثلثونه په لاس راځي؛ په اخر کښې د دائرې د لاسته راوړلو د چل عملي مظاهرې کول	- ټولې مربع کاپی او مثلثونه د خېروولو په ذریعه د کتاب نه په لاس راوړل؛ بیا په همدغه شان دائرې هم حاصلول.	
- د طالب علمانو نه غوښتنه کول چې دغه شکلونو کښې څلور ګنجه یوې خوا ته، درې ګنجه بلې خوا ته او چې کښونه نه لري هغه بلې خوا ته کړي او بیا د هرګروپ شکلونه وشماري.	- کوم ګروپونه چې چوپ پدے شي بحث پرې کول؛ د کښونو والا او د کښونو نه بغېر خېزونه بیلول، د مشابه شکلونو ګروپونه جوړول؛ وئېل چې مربع کاپی لس دی، مثلثونه درې دی او دائره یوه ده.	مختلف کاغذی شکلونه
	3- د یو دوکان شتاره په تصویر (رسمولو) او د خېزونو په اېښودلو سره سودل	
- طالب علمانو نه وئېل چې پوهېدو مشق پاڼه بیا یو نظر وګورئ او د ملحقه حصې نه خېرې کړے شوو قالبونو، پلیټونو، تصویرونو او نورو نه کار واخلئ او د دوکان یوه شتاره پخپله ترتیب کړئ.	- مشق پاڼه باندې لنډ نظر بیا اچول، بیا په فرش د دوکان شتاره شودل، د ځینو طالب علمانو خپله شتاره بیانول او وئېل مثلاً: "ما مثلث یو بالښت ګنډلے دے او یوه لوبه مربع په فالین ګنډلې ده. او داسې نور....."	مشق پاڼه ر2-41-1
- د طالب علمانو نه غوښتنه کول چې په فرش شودلے شوي د دوکان شتاره خپلو سلیټونو نه د رسمولو په ذریعه انتقل کړئ؛ په طالب علمانو کښې چکر وهل، پوښتنې کول، شاباسے ورکول، اصلاح کول	- په فرش شودلے شوي د دوکان خپلې خپلې شتاري په سلیټونو جوړول؛ ځینې طالب علمان خپل جوړ کړے شوی (رسم کړی) شکلونه بیانوی؛ خپل سلیټونه نورو ته ښکې (6)	سلیټونه

درسي پلان: ر 2-41	ددې درسي پلان په باب څهٔ نورې تبصرې

(1) په دې ځای کښې د دې خبرې نه مطلب دا دے چې طالب علمان به د دوکان په مارو کښې پرتو څیزونو کله کیږي او نورو باندې ازادانه خبرې کوی. ددې څیزونو هندسي شکلونه به نهٔ ذکر کوی.

(2) ځینې دوکانونه څیزونه د تزئین (شکلا) دپاره ږدی (ښندارې کوی) مثلاً د سنګارۍ، په کپړو کښکارۍ او نور داسې. ځینې کلی داسې دوکانونه نهٔ لری، خو ماشومانو به خامخا ځینې لهٔ دې څیزونو نه په نورو مواقعو کښې لیدلی وی مثلاً د بالښت کڅوړې، د تصویرونو فریمونه، کتابونه، د تزئین (شکلا) پلیټونه اوداسې نور.

(3) پرپرده چې ماشومان په خپله طریقه او انداز په مختلفو شکلونو خبرې وکړی؛ مسلکی اصطلاح کاپي کله مثلث، مربع او داسې نور به روسته معرفي کیږي.

(4) طالب علمان به یوه دائره، یوه مربع او یو مثلث چې هرځنګله شکل ټې وی، جوړوی او بیا به ټې تزئینوی (ښائسته کوی) ددې دپاره چې کار ټې وښئی.

(5) د مثلث په صورت کښې به پو میې اوږده کرښه فقط او شلولے کیږی او بیا به وړه کرښه. د دائرې په صورت کښې پو میې دائره د سوری کرښې په اوږدو قط کول کیږی چې د دائرې دواړه نیمائی کاپي یو پر بل منطبق شی. بیا به په احتیاط د قط کړے شوې برخې نه شروع کیږی او قط کړے شوے کاغذ به د دواړو لاسونو د ګوتو په ذریعه شلولے کیږی. استاد به د نورو په مخکې د عملي مظاهرې نه مخکښې یو ځل پخپله ځان د دغه کاغذ په شلولو کښې بښه کړه کوی.

(6) کاغذی اشکال به چې د ملحقه حصې نه خیږي دی په احتیاط سره سائنل کیږی څکه چې بیا به دا په رومبی او دویم ورځې درسونو کښې هم استعمالیږی.





د ډومبی ورځې درس	عنوان: د مستطیلونو او مربع کانو منځ کښې فرق کول؛ تصویرونه د اشکالو لپاره مخې ترتیبول
خاکه ل 2-41	

د شاګردانو/استاد مشغلې	درسی معاونات
1- استاد د طالب علمانو نه غوښتنه کوی چې ټول خپلوونه راوباسئ او په درې ګروپونو کښې ئې بیا بیل بیل کړئ؛ طالب علمان د مربع کانو، مثلثونو او دایرو پشان وی؛ د ګروپونو نومونه اخلی؛ د هر ګروپ خپلوونه (اشکال) شمیرل.	
2- استاد د طالب علمانو نه غوښتنه کوی چې د سکول د ننه او بهر د هغه خپلوونو نومونه واخلئ چې شکلونه ئې د مربع کانو، مثلثونو او دایرو پشان وی؛ طالب علمان مثالونه پیدا کوی، مثلاً بائی (د دایرو د پاره)، کړکۍ (د مربع کانو د پاره)، ګوډی (د مثلثونو د پاره) او داسې نور.	
3- استاد طالب علمانو ته وائی چې ټول مثلثونه او دایرې لرې کړئ او ټولې مربع کانې په فرش خوا په کښې دئ؛ بیا غوښتنه کوی چې د شکلونو مطابق دوه مختلف ګروپونه معلوم کړئ؛ طالب علمان مربع کانو ته په غور ګوری، په مختلفو ممکن حلونو پخ ګوی؛ د هرممکن حل مطابق مربع کانې ترتیبوی. طالب علمان کولے شی چې مربع کانې د سائز یا د اوږدوالی یا لنډوالی په بنیاد ترتیب کړی او داسې نور. استاد به د ټولو ممکنو حلونو قدردانی کوی خو ان څه هغې پورې به پرې د نورو حلونو پیدا کول جاری ساتی ترڅوچې طالب علمان هغه شکلونه چې د اړخونو اوږدوالی ئې یوشان وی (مربع) د هغه شکلونو نه چې د اضلاعو اوږدوالے ئې مختلف وی (مستطیل) بیل کړی؛ بیابه د مربع کانو او مستطیلونو نومونه اخیستل کیږی او څۀ نمونې به په تخته جوړیږی (رسمیږی). د دواړو شکلونو نومونه به په صحیح توګه د طالب علمانو لپاره خوا اخیستل کیږی.	صرف مربع کانې تخته
4- ټول طالب علمان به د هغه کاغذی شکلونو نه چې د دویمې مشقی پاڼې د خپرولو نه په لاس راغلی دی، د مربع کانو او مستطیلونو ګروپونه جوړوی.	کاغذی مربع کانې او مستطیلونه



دوئیم وړپی درس	عنوان: د مثلثونو، مستطیلونو، مربع کانو او دائرو د پېژندلو د پاره نور مشق
خاکه ر 2 - 41	

د شاګردانو/استاد مشغلې	درسی معاونات
1- استاد یو وړوکے سړے چې د سړی خندا ورته راځی پۀ نوره تخته رسموی (جوړوی) ؛ د سړی پۀ دې تصویر کښې به یوه دایره، یو مثلث، یوه مربع او څلور مستطیلونه لیدلے کیږی ؛ طالب علمان به د دې شکلونو نومونه پیدا کوی او معلوموی به چې هرشکل خو څله پۀ دې تصویر کښې راغلے دے .	نوره تخته هندسی کاغذی اشکال
2- نوټ طالب علمان نور وارۀ سړی جوړوی (یا نور تصویرونه جوړوی) ؛ د دې د جوړولو دپاره د هغه کاغذی اشکالونه کار اخلی چې د ملحقه حمې دوئیمې مشق پاڼې نه شلولے شویدی ؛ ځینې طالب علمان کولے شی چې یو ورکوټے سړے پۀ نوره تخته رسم (جوړ) کړی .	د ملحقه حمې مشق پاڼې ر2-41-2 نه ځیږې شوې اشکال
3- د دریمې مشق پاڼې پاسنۍ خوانه کتل ؛ پۀ تصویر باندې خبرې کول، پۀ کار ځان پوهول ؛ شمېرل چې څومره دایرې، څومره مثلثونه، مستطیلونه ا و څومره مربع کانې پۀ دغه تصویر کښې لیدلے کیږی ؛ هر طالب علم د متعلقه ټبې د لاندې د پیدا کړے شوی شمېر عدد لیکی (مثلاً 14 دائرې، 7 مثلثونه، 4 مستطیلونه، 4 مربع کانې) ؛ د نتیجو مقابله کول .	مشق پاڼه ر2-41-3
4- د مشق پاڼې د لاندینۍ حمې پۀ کار ځان پوهول ؛ هر یو خپله مشق پاڼه مکملوی ؛ بیا نتیجې د خپل اړوپال سره مقایسه کوی، پۀ آخر کښې ټی کلاس ته لولی .	

د پۀ لاس راغلے عددونه عبارت دی لۀ:

4	2	③	4	2	②	2	2	①
3	2		3	3		4	4	
4	3	⑥	4	1	⑤	3	4	④
6	2		7	2		5	1	



ریاضی - دویم ټولګی

عنوان: د 100 په قدمونو کښې تر 1000 پورې د عددونو سلسلې ته پراختیا ورکول

ل 2 - 42

د استاد مشغلې	د شاګرد مشغلې	درسي معاونات
	1- د سلو پورې کانړې شمېرل	
- د استاذ په مېز باندې د 100 کانړو یوه ګڈوړه یا ډبله خالي کول ؛ د طالب علمانو نه غوښتل چې شمېر یې قیاس کړي .	- د حسابولو نه بغیر یې د شمېر قیاس کول ؛ قیاسونه په تخته لیکل .	د 100 کانړو ګڈوړه تخته
- طالب علمانو ته وښایي چې دغه قیاس کړے شوے عدد د کانړو په شمېرلو سره چک کړي .	- یو طالب علم په مېز پرانه کانړې شمېرې؛ دغه نمبر په تخته لیکي .	تخته
- د طالب علمانو نه د تجویزونو غوښتنه کول چې دا به څنګه چک کولے کیږي ، چې ایا کانړې یې صحیح شمېرلې دي؟ د چک کولو د بېلابېلو طریقو په پېدا کولو ټینګ پاتې کېدل (1)	- تجویز وړاندې کول چې کانړې په یو ځل بیا شمېر لے کیږي ، څنګه چې کانړې شمېر لے شویدی د ګای نه یې خوزول چې د لسو لسو کانړو انبار جوړ شي .	
- طالب علمانو ته وښایي چې د ټولو نه د بښه تجویز مطابق کار وکړي .	- یو یا دوه طالب علمان په مېز د لسولسو کانړو انبار جوړوي ، بیا ټول طالب علمان د لسیزو یو ټوکه شماري ؛ صحیح عدد په تخته لیکل او د قیاس کړے شوی عدد سره یې مقابله کول .	تخته
	2- عدد " 200 " معلومول	
- د طالب علمانو نه غوښتنه کول چې پوهې مشق پاڼه مطالعه کړي ؛ د کانړو د شمېر پرې قیاس کول .	- د یو اړخ وال سره پرې بحث کول ؛ قیاس کړے شوے عدد په سلیټونو لیکل .	مشق پاڼه ر 2-42-1
- د طالب علمانو نه غوښتنه کول چې د کانړو د صحیح شمېرلو یوه طریقه پېدا کړي ؛ که ضرورت وو نو ځکه یې استعمال شوې طریقه ورته ورپه زړه کول مثلاً د لسولسو کانړو په یږي جوړول .	- د کانړو د صحیح شمېرلو په طریقو بحث کول ؛ معلومول چې د لسو لسو کانړو ګروپونه جوړول د لسو کانړو نه په د اړه چاپېرلو عوض کېدے شي ؛ همدغسې کول ؛ معلومول چې د مشق پاڼې په دواړو برخو کښې د لسولسو کانړو لس ګروپونه دي (یعنې 100 کانړې)	
- یو ښاګرد کول چې ایا په تاسو کښې څوک داسې شته چې د "دوه سلیزه" عددي نوم واخلي ؛ که چېرې طالب علمان نه پوهیږي نو ورته وښایي چې دا عددي نوم "دوه سوه" دے ؛ عدد 200 په تخته لیکل .	- وښایي چې دا عدد ، عدد " 200 " دے ؛ عدد 200 په سلیټونو لیکل ؛ د خپلو قیاسونو سره دغه عدد مقابله کول .	تخته سلیټونه
	3- د 1000 پورې د ټولو مکملو سلیزو معلومول	
- پوښتنه کول چې کله درې سلیزه وې نو کوم عدد د هغې دپاره استعمالیږي ؛ که ضرورت وو مدد کول .	- وښایي : عدد " 300 " ، په تخته دې لیکلو کوشش کول ؛ که ضرورت وو اصلاح یې کول .	تخته
- د طالب علمانو نه غوښتنه کول چې تر 900 پورې قدم په قدم د نورو سلیزو نومونه واخلي ، بالاخره عدد 1000 معرفي کول (2) ، (3)	- د ټولو سلیزو نومونه اخیستل ، په تخته او سلیټونو د هغوی لیکل؛ د عدد 1000 نوم اخیستل / لیکل یې	تخته سلیټونه
- په طالب علمانو دوبېمه مشق پاڼه مطالعه کول .	- مشق پاڼه مطالعه کول ، په کار ځان پوهول ؛ عدد 500 په بل بکس کښې لیکل .	مشق پاڼه ر 2-42-2
- د طالب علمانو نه غوښتنه کول چې دوېمه مشق پاڼه د یو اړخ یوال سره یوځای مکمله کړي .	- په بکسونو کښې صحیح عددونه لیکل ؛ بیا کلاس ته د نتیجو لوستل ، چک کول ، اصلاح کول .	

درسي پلان: د ۲ - 42	ددې درسي پلان په باب څه نورې تبصرې

(1) پدې ځای کښې اصلي تصور ، په مېز پرتو کانړو ته داسې ترتیب ورکول دی چې شمېرل یې اسان شي . له دې وجهې نه طالب علمان کولے شي چې په مېنځ کانړي لکه څنګه چې شمېرلے شوېدی یو په یو د خپل ځای نه وخوزوی . استاد به طالب علمان پدې پوهوی چې دا طریقه په شمېر لو کښې کومک کوی ، خو تر ټولو ښه طریقه نه ده ، څکه چې کېدے شی یو سړے په شمېر کښې غلط شی او بیل یې د سر نه بیا په شمېرلو شروع وکړی . که ضرورت وو نو استاد کولے شی چې طالب علمانو ته د لسولسو کانړو کڅوړې ورکړي چې په زړه کړی چې په ټهرو درسونو کښې تر بنه کار اخیستل شوے وو : که چرې کانړي د لسولسو په ګروپونو کښې ترتیب کړے شوی وی نو د یو زیات شمېر کانړو شمېرل اسان وی .

(2) کله چې طالب علمان د ۹۰۰ نه تر لس سوه ووائی . کېدے شی چې دا د 1000 په صحیح لیکلو کښې مرسته وکړی ، خو دغه عدد ته سر داول نه د یو زړ نوم اخیستل کیږی .

(3) په اخر کښې به ټول سلیزه د 100 نه تر 1000 پورې د یو بل د لاندې په صحیح ترتیب لیکلے کیږی ، د پرځلې به ټوټکی ته لوستلے کیږی او اشاره به ورته کیږی .





ریاضی – دویم ټولګی	عنوان: د ۲۰ او ۵۰ د پاڼې (زباني ضرب) مشق کول
ل 2 – 31	

د استاد مشغلې	د شاګرد مشغلې	درسي معاونات
	۱- ذهني تربیت	
- پۀ څو کرښو (قطارونو) کښې د ۱۰ نه تر ۵۰ پورې ټول عددونه لیکل ؛ هغه اعدادو ته د اشارې کولو او کلاس ته د هغوی د لوستلو غوښتنه کول چې د ۲۰ پۀ پاڼه پورې تعلق لري.	- تورې تختې ته کتل ؛ د څوتنه شاګردانو یوبل پسې وړاندې راتلل، او د غو عددونو ته د هغو اشاره کول او کلاس ته ټې بیالوستل (یعني 2 – 4 – 6 ..... 20)؛ بیا ټې مخ پۀ شا لوستل (یعني 20 – 18 – 16 ..... 2) .	تورې تختې
- غوښتنه کول چې هغه شان دې هغو عددونو ته اشاره وکړے شی او وۀ دې لوستلے شی کوم چې د پنځو پاڼه پورې تعلق لري.	- د څوتنه ماشومانو د غو عددونو ته اشاره کول ، کلاس ته ټې لوستل (یعني 5 – 10 – 15 ..... 50) ؛ بیا ټې مخ پۀ شا لوستل (یعني 50 – 45 – 40 ..... 5).	
	2- د پنځو او دوه د پاڼو مطابق د عددونو ترتیبول	
- مشق پاڼې ل 2 – 31 – 1 ته د کتلو او پۀ هغې کښې د کار معلومولو غوښتنه کول.	- رومیې د مشق پاڼې د سر پۀ مشقونو بحث کول ؛ پته ټکول چې څۀ کول پۀ کار دی یعني د بنې اړخ د مساوات مکملول (د 5 پاڼه) ؛ پۀ مبکس کښې د نتیجو نه دائره چاپیرول ؛ بیا د کښې اړخ مساوات مکملول (د 2 پاڼه) پۀ ورکړے شوو اعدادو دا ډنبه (5) کول.	مشق پاڼه پ2-31-1
- پۀ طالب علمانو مشق پاڼه مکملول.	- د مشق پاڼې مکملول ، پۀ آخر کښې کلاس ته د نتیجو لوستل .	
- پوښتنه کول چې دلته حیرانوونکے څۀ ښکیې دے .	- معلومول چې ځینې عددونه پۀ دواړو پاڼو پورې تعلق لري (۱، یعني 10، 20، ضرب پۀ اوږده شکل کښې لیکل : 2×5 = 2 + 2 + 2 + 2 + 2 = 10 5×2 = 5 + 5 = 10 (۱	
	3 – د انډیوال سره دیوې لوبې کول	
- لوبه تشریح کول : د یو انډیوال پۀ مشق پاڼه کښې د چرخۍ یا دائرې کړے شوي عددونو نه د یو عدد کلاس ته لوستل ، د بل انډیوال د هغې متعلقه د ضرب رقم ورکول.	- د یو ماشوم مثلاً 30 ، وئیل ، د انډیوال جواب ورکول مثلاً 30 = 6 × 5 ؛ بیا وار پۀ وار.	مشق پاڼه ر2-31-1

د ړومبۍ وړتیا درس	عنوان: د 1000 پورې د مکملو سلیزو د لیکلو او لوستلو مشق کول
خاکه ر-2-42	

د شاګردانو/استاد مشغلې	درسي معاونات
1- د طالب علمانو نه غوښتنه کول چې د 100 په ځ قدمونو کښې تر 1000 پورې شمېر وکړي او بېرته مخ په شا هم؛ طالب علمان په ګډه همدغسې شمېر کوي.	
2- طالب علمان تر 1000 پورې ټول سلیزه په تخته کې صحیح ترتیب لیکي؛ اشاره ورته کول او یوځل بیا یې ټوکلی ته لوستل.	تخته
3- استاد بغیر د کوم خاص ترتیب نه عددونو ته یو بل پسې اشاره کوي، طالب علمان هر عدد په ګډه سره لولي.	
4- یو طالب علم کوم سلیز وائي، بل طالب علم دغه په تخته لیکي؛ تر زرو پورې بغیر د ترتیب نه په ټولو سلیزو سره مشق جاري ساتل.	
5- استاد بغیر د ترتیب نه د ټولو سلیزو املا وائي؛ طالب علمان یې په خپلو سلیټونو لیکي؛ د چک کولو دپاره یې ټوکلی ته لولي.	سلیټونه
6- استاد په خاموشۍ سره درې ګوتې اوچتوي چې د درې سلیزو معنی ورکوي، طالب علمان 300 په خپلو سلیټونو لیکي؛ استاد دا مشق د مختلف شمېرګوتو په ښودلو سره جاري ساتي، هره ګوته به د یو سلیز معنی لري؛ په اخر کښې د ټولو عددونو چک کول، کلاس ته یې لوستل.	
7- دریمې مشق پاڼې ته کتل، په کارځای پوهول، مشق پاڼه د دایرو په ځورولو سره چې سلیزه پکښې لیکلې شوې وي اود معادل (برابر) عددونو په لیکلو سره مکمل، نتیجې د یو اړوال سره مقایسه کول.	مشق پاڼه ر-2-42-3



دویم وړپسې درس	عنوان: د 1000 پورې سلیزو ته ترتیب ورکول
خاکه ر-2-42	

د شاګردانو/استاد مشغلې	درسی معاونات
1- استاد عددونه 400 ..... 600 پۀ ټوره ټخته لیکی ؛ طالب علمان د غیب سلیز عددونو ټومونه اخلی ؛ غیب عددونه پۀ خالی ځایونو کښې لیکی ؛ د عددونو پۀ ټولو جوړو سره مشق جاری ساتل (هر ځل بۀ مکمل سویز عددونه وکی) .	ټوره ټخته
2- د څلورې مشق پانړې پاسنۍ برخې ته کتل ؛ پۀ کار ځان پوهول ؛ غیب عددونه پۀ خالی بکسونو کښې لیکل ؛ د چک کولو دپاره ئې کلاس ته لوستل .	مشق پانړه ر-2-42-4 (پاسنۍ برخه)
3- استاد عددونه 300 ، 900 ، 700 پۀ ټوره ټخته لیکی ؛ پوښتنه کوی چې پۀ دې عددونو کښې تر ټولو وړوکے ، تر ټولو غټ او منځنی عدد کوم یو دے ؛ طالب علمان جواب ورکوی ، بیا دغه عددونه پۀ صحیح ترتیب سره لیکی : 300 ، 700 ، 900 (شروع د ټولو وړوکی عدد نه کوی) ؛ دا مشق د عددونو پۀ یو یا دوه ټولو سټونو سره جاری ساتی لکه : 500 ، 100 ، 200 ؛ 900 ، 1000 ، 100 .	
4- د څلورې مشق پانړې لاندینۍ برخې ته کتل ؛ پۀ کار ځان پوهول ؛ صحیح عددونه پۀ بکسونو کښې لیکل (استاد دغه طالب علمانو سره مدد کوی چې د مشق پانړې دګټې خوا د مکملولو پۀ چل نۀ پوهیږی)	مشق پانړه ر-2-42-4 (لاندینۍ برخه)
5- د چک کولو/ اصلاح کولو دپاره د عددونو ټوله سلسله پۀ مزه مزه یو پۀ یو کلاس ته لوستل .	



ریاضی ـ دویم ټولګی	عنوان: 1000ـ پورې د مکملو سل ګونو جمع او تفریق کول؛ د 1000 نقطو یو جدول ـ استعمالول.	ل 2 - 43

د استاد مشغلې	د شاګرد مشغلې	درسي معاونات
	1ـ د سلو پۀ قدمونو کښې شمېرکول	
ـ طالب علمانو نه غوښتنه کول چې د سلو پۀ قدمونو کښې د 100 نه تر 1000 ، او د 1000 نه تر 100 پورې شمېر وکړي.	ـ ډېر طالب علمان مخ پۀ وړاندې او مخ پۀ شا شمېر کوي.	
ـ څۀ سویښه ورکول مثلاً 500 ؛ 800 ؛ 300 ؛ طالب علمانو نه غوښتنه کول چې ددې عددونه تر 1000 پورې مخ پۀ وړاندې شمېر وکړي.	ـ ډېر طالب علمان همدغسې کوي ؛ بیا د استاذ پۀ شان عمل کول ؛ پخپله شروع کولو دپاره سل ګونه ورکول.	
	2ـ د 1000 نقطو جدول سره اشنا کېدل	
ـ طالب علمانو نه وښل چې د 1000 نقطو جدول نه وګوري او تشریح یې وکړي (1)	ـ وښل چې دغلته ډېرې نقطې او لوی او واړۀ بکسونه دي؛ یاد لرل چې پۀ هر واړو کی بکس کښې لس نقطې ، پۀ هر لوی بکس کښې 100 نقطې او ټولې 1000 نقطې دي.	د 1000 نقطو جدول (د شاګانې پوښ دننه خوا)
ـ د طالب علمانو نه غوښتنه کول چې مثلاً 300، 500 یا 800 نقطې به څنګه ښکاره کوي شي؛ چک کول ، مدد کول ، دوی نه د ټولو نه ښه طریقه ښودل یعنې زیبا ئی بکسونه پېژندل (2)	ـ کوشش کول چې ورکړې شوې عددونه ښائی، مثلاً د غټو بکسونو دغه شمېره د یو کتاب، د کاغذ یا کېږې پۀ ذریعه پېژندل (1)	د کاغذ یا کېږې پنکېږې
	3ـ د 1000 نقطو د جدول پۀ مدد سره د مکملو سل ګونو جمع او تفریق کول	
ـ پۀ نوره تخته لېکل مثلاً 500 + 300 = □ ، غوښتنه کول چې د 1000 نقطو د جدول پۀ مدد سره یې حل معلوم کړي. د ټولو نه د ښې طریقې معلومولو کښې رهنمائی کول مثلاً 500 نقطې ښکاره کول ، بیا نورې 300 نقطې ښکاره کول.	ـ د دوۀ یا درېو پۀ ګروپونو کښې کارکول ؛ روښې 400 نقطې ښودل یعنې 600 نقطې پېژندل، د 400 نقطو څلور غټ بکسونه ښکاره پرېښودل ، بیا د 300 نور ښکاره کول مثلاً کېږې یوخوا ته کول چې درې نور غټ بکسونه ښکاره شي. غټ ښکاره بکسونه شمېرل ؛ نتیجه پۀ نوره تخته لېکل یعنې 700.	نوره تخته د 100 نقطو جدول
ـ د جمع عمل د همدغسې سوالونو پۀ ذریعه جاري ساتل.	ـ د جمع عمل کول، د مخکښې پشان طریقه استعمالول.	
ـ پۀ نوره تخته لېکل مثلاً 600 - 200 = □ ؛ طالب علمانو نه غوښتنه کول چې د جدول پۀ مدد سره حل معلوم کړي؛ د ضرورت پۀ وخت د ټولو نه د ښې طریقې پۀ معلومولو کښې مدد کول.	ـ پۀ ښه طریقه د ددې پۀ کولو بحث کول، یعنې روښې د 600 نقطو د ښکاره کولو دپاره 400 زیا ئی نقطې پېژندل ، بیا د دوۀ نورو غټو بکسونو د پېژندلو دپاره کېږې د پخوا کول ؛ نتیجه پۀ نوره تخته لېکل.	نوره تخته
ـ د تفریق عمل د همدغسې کارونو پذریعه جاري ساتل.	ـ تفریق کول ، د مخکښې پۀ شان طریقه استعمالول.	
	4ـ د مکملو سل ګونو د جمع او تفریق مشق کول	
ـ طالب علمانو نه غوښتنه کول چې د جدول پۀ مدد سره روښې مشق پاڼه مکمله کړي.	ـ جمع او تفریق کول ، د جدول پۀ مدد سره مشق پاڼه مکمله ؛ د نتیجې پۀ بکسونو کښې نتیجې چرخه کول.	مشق پاڼه ر2-43-1 د 1000 نقطو جدول

درسي پلان: ر 2 - 43	ددې درسي پلان په باب څۀ نورې تبصرې

(1) دامشق پاڼې به بار بار استعمالیږي ، دې دپاره داد اخرۍ پاڼې په رومبۍ صفحه ورکړے شوے ده . دغلته به دا محفوظه وي او ماشومان به ئې په اسانه پیدا کولے شي .

(2) په مکملو سلګونو کښې د نقطو یوخاص عدد په مختلفو طریقو ښودلے شي . مثلاً باقی نقطې په کتاب ، سلیټ یا دکاغذ په ټکړې د پټولو په ذریعه .



ر ۲	۴۳ - ۱
۸۰۰ = ۱۰۰ + ۷۰۰	☐ = ۴۰۰ - ۷۰۰
☐ = ۶۰۰ + ۳۰۰	☐ = ۷۰۰ - ۹۰۰
☐ = ۴۰۰ + ۲۰۰	☐ = ۳۰۰ - ۴۰۰
☐ = ۲۰۰ + ۸۰۰	☐ = ۶۰۰ - ۱۰۰۰
☐ = ۳۰۰ + ۴۰۰	☐ = ۱۰۰ - ۶۰۰
۶۰۰ ~~۸۰۰~~ ۷۰۰ ۹۰۰ ۱۰۰۰	۲۰۰ ۳۰۰ ۵۰۰ ۴۰۰ ۱۰۰

د ورځې ورپسې درس	عنوان: د مکملولو سل کونو د جمع او تفریق مشق کول
خاکه ر 2-43	

د شاګردانو/استاد مشغلې	درسي معاونات
1- ذهني تربیت: د استاذ د اسې سوالونه ورکول لکه 500 + 200 = ؟ 700 - 400 = اوداسې نور؛ بیا د ځانله ځانله طالب علمانو هم دغسې کار ورکول.	تورۀ تخته
2- د استاذ پۀ تورۀ تخته 5 غټ فریمونه جوړول چې د "1000 نقطو" دخالی جدولونو نمایندګۍ کوي. بیا 6 غټ بکسونه (= 600 نقطې) پۀ ډوډۍ فریم کښې جوړول، غوښتنه کول چې مانه د سلو سلو نقطو د څومرۀ نورو بکسونو ضرورت دے چې دغه نول جدول پۀ 1000 نقطو ډک شي؟ د طالب علمانو جوابونه ورکول، د یو طالب علم د مطلوبه شمېر غټو بکسونو جوړول، یعنې پۀ فریم کښې څلور بکسونه. د مکمل جمع مساوات لیکل. د استاذ د مختلف شمېر غټ بکسونو پۀ نورو خالی فریمونو کښې جوړول. 1000 نقطو ته د رسېدلو دپارۀ د طالب علمانو د ضرورت وړ شمېر غټ بکسونو جوړول. هرځل دکار تشریح کول.	تورۀ تخته
3- د استاذ پۀ تورۀ تخته لیکل مثلاً 800 + □ = 1000؛ 900 - □ = 300؛ 200 + □ = 500؛ 700 - □ = 100 او داسې نور. د طالب علمانو مساوات حل کول، کۀ ضرورت وي نو د 1000 نقطو خپل جدول استعمالول.	
4- د دوۍ مشق پاڼې پۀ کارونو ځان پوهول، مشق پاڼۀ مکملول، د اړونو عددونو او نتیجو پۀ منځ کښې رابښکل؛ مکمل مساوات کلاس ته لوستل، مقابله کول، اصلاح کول.	مشق پاڼۀ ر2-43-2



د دویم وړپسې درس	عنوان: د 500 او 1000 روپو نوټونه معرفي کول ، مکمل سل‌کونه بېلول
خاکه ر 2-43	

د شاګردانو/استاد مشغلې	درسي معاونات
1- په‌ډېرځله مشق پاڼه کښې پاس نوټونو ته کتل ؛ معلومول چې داخبره دی ؛ بحث کول چې په‌دغومره پېسو څه‌ډول اخیستنل کېدے شي ؛ د 500 یا 1000 او داسې نورو روپو دګڼلو دپاره خومره وخت کارکول په‌کار دی ؟ او داسې نور .	مشق پاڼه ر2-43- 3
2- د هغو خلقو متعلق خبرې کول چې په‌بېنک یا بازار کښې نوټونه ساتي .	
3- د استاذ په‌توره تخته لېکل مثلاً 500 = □ + □ ، 500 = □ - □ ؛ د طالب علمانو په‌دغه مسئله بحث کول ، معلومول چې د مساواتو د مکملولو ډېرې طریقې دی ؛ په‌توره تخته یوځو طریقې لېکل مثلاً	توره تخته
500 = 200 + 300 ؛ 500 = 400 + 100 ..... 500 = 700 - 200 ، 500 = 1000 - 500	
4- د درېمې مشق پاڼې په‌منځنۍ برخه کښې په‌کار ځان پوهول ؛ د پېسو مساوي مقدارونه د کرښو په‌ذریعه تړل (وصلول) د نتیجو مقابله کول .	مشق پاڼه ر2-43- 3
5- د طالب علمانو د درېمې مشق پاڼې په‌اخر کښې په‌کارونو ځان پوهول ؛ ځانله ځانله د مساواتو مکملول ؛ کلاس ته نتیجې لوستل ، مقابله کول ، که ضرورت وی اصلاح ېې کول .	مشق پاڼه ر2-43- 3 د لاندینۍ برخه)


ر 2 ۴۳-۳
دولت حسبه شاراکیږي
ایک ہزار روپے
500
RA308264
۵۰۰
۱۰۰
۵۰۰
۱۰۰
۵۰۰
۱۰۰

عنوان: د 200 پورې د لسولسو پۀ قدم شمېرکول

ل 2 - 44

د استاد مشغلې	د شاګرد مشغلې	درسي معاونات
	1- د 100 پورې پۀ لسولسو کښې شمېرکول	
- د طالب علمانو نه غوښتنه کول چې د 10 نه تر 100 پورې او د 100 نه تر 10 پورې د لسولسو پۀ قدم شمېر وکړي.	- ټول طالب علمان یوبل پسې دغه شمېر کوي.	
- بلنه ورکول چې د شمېرلو پۀ وخت د 1000 نقطو جدول ته وګوري او پۀ همدغه وخت کښې د نقطو متعلقه شمېر پیکښې وښئي، مخ پۀ وړاندې او مخ پۀ شا شمېرکول (1)	- یو طالب علم د لسو لسو پۀ قدم پۀ مزه مزه شمېرکوي، نور ټول طالب علمان د 1000 نقطو پۀ جدول کښې پۀ عین همدغه وخت د لسیزو بکسونه ښکاره کوي. یعنې مخ پۀ وړاندې شمېرل، بیا ئې پۀ همدغه شان پټول یعنې مخ پۀ شا شمېرل.	د 1000 نقطوجدول
- د 10 نه تر 100 پورې ټول لسیزه پۀ نوره تخته پۀ افقي ډول لیکل؛ مختلفو لسیزو ته اشاره کول او غوښتنه کول چې د 1000 پۀ جدول کښې دغه شمېر پیدا کړي (2)	- ټول طالب علمان د 1000 پۀ جدول کښې هغومره نقطې ښکاره کوي خومره ته چې استاد پۀ نوره تخته اشاره کوي.	نوره تخته
	2- د 200 پورې د لسولسو پۀ قدم شمېر کول	
- طالب علمانو ته وښئي چې د 100 نقطونه اضافه 10 نورې نقطې پۀ جدول کښې وښائي؛ ددې شمېرې د نوم اخیستلو غوښتنه کول؛ که ضرورت وو نو وښئي: "یو سل اولس" (3)	- پۀ جدول کښې ئې اولس نقطې ښودل؛ وښئي: "یو سل او لس".	د 1000 نقطوجدول
- پۀ نوره تخته د 10 لاندې 110 لیکل.	- 110 لوستل او دغه عدد پۀ جدول کښې ښودل.	نوره تخته
- پۀ طالب علمانو نورې 10 نقطې بیا ښودل او ددې شمېرې د نوم د پیدا کولو (معلومولو) کوشش پرې کول.	- 120 نقطې ښودل؛ ددغه عدد نوم اخیستل؛ د استاد پۀ مرسته ئې پۀ نوره تخته د عدد 20 لاندې لیکل.	
- غوښتنه کول چې پۀ همدغه شان فدمونو د 200 پورې شمېرل جاري وساتي؛ مرسته کول.	- یو بل پسې ټول لسیزه تر 200 پورې ښودل؛ ټول عددې نومونه ئې اخیستل، پۀ نوره تخته ئې لیکل.	
- د 100 نه تر 200 پورې سلسله کښې هر عدد چې وی اشاره ورته کول؛ د دغه شمېرې د عددی نوم غوښتنه کول او پۀ جدول کښې ئې پۀ هغوی ښودل.	- د اشارې سره سم عددونه لوستل او د 1000 نقطو پۀ جدول کښې ئې ښودل.	
	3- تر 200 پورې ټول لسیزه لیکل/لوستل	
- طالب علمانو ته وښئي چې د پورتنۍ مشق پاڼې پاسنۍ برخې ته وګوري، او غیب عددونه ولیکي او ولولي.	- پۀ کار ځان پوهول، خالي بکسونو کښې د 20 نه تر 90 پورې عددونه لیکل، پۀ دوه دانګروکښې د متعلقه عددونو چرخه کول، بیا ټول عددونه ټولګي ته لوستل.	مشق پاڼه ل2-44-1 (پاسنۍ برخه)

درسي پلان: ر 2-44	ددې درسي پلان په باب څه نورې تبصرې

(1) د 10 قدمونو د بنودلو دپاره د "1000 نقطو جدول" داسې استعمالېدے شی:

"40"



(2) استاد به ټول لسیزه په یو افقی قطار سره لیکی، په ښی خوا کښې به د 10 نه شروع کوی او تر سلو پورې به ځی؛ د عددونو منځ کښې به لږه فاصله پریښودلے کیږی چې روسته ببا د "سل جمع لس" سلسله په اول قطار کښې بالکل د متعلقه عددونو دلاندې په اسانۍ لیکلے کېدے شی.

(3) د پورتنۍ تبصرې پشان دوهیم سلیز، لسیزه په دغې ډول بنودلے کېدے شی.

"140"





د ړومبۍ وړپې درس	عنوان: د لسو لسو پۀ قدم تر 500 پورې شمېرل
خاکه ر 2 - 44	

د شاګردانو/استاد مشغلې	درسي معاونات
1- استاد د طالب علمانو نه غواړي چې د لسولسو پۀ قدمونو تر 200 پورې مخ پۀ وړاندې او مخ پۀ شا شمېر وکړي؛ طالب علمان پۀ ځانله ځانله او یا پۀ ګډه سره شمېر کوي .	
2- استاد پۀ نوره تخته مختلف عددونه لیکي لکه : 140 ؛ 180 ، 160 ..... ؛ طالب علمان دغه عددونه د 1000 نقطو پۀ جدول کښې ښئي .	نوره تخته د 1000 نقطوجدول پاڼې
3- استاد پوښتنه کوي چې ایا څوک د 200 نه تر 300 پورې د لسولسو پۀ قدمونو کښې شمېر کولے شي ؛ (الف) مدرکول ؛ پۀ نوره تخته ټول عددونه پۀ یو قطار لیکل (210 ، 220 .... 300) (ب) طالب علمان دغه عددونه څوځله لولي ، د 1000 پۀ جدول کښې دغه عددونه ښئي .	
4- استاد غوښتنه کوي چې ایا کوم طالب علم د لسو لسو پۀ قدم تر 400 پورې شمېر جاري ساتلے شي ؛ د ډربي شمېرې پۀ شان هغه طریقه کار جاري ساتل . ماشومان بیا همدغه شان عمل د 410 نه تر 500 پورې عددونو سره کوي .	نوره تخته د 1000 نقطوجدول، پاڼې
5- دوهمې مشق پاڼې نه کتل ؛ د طالب علمانو د ړومبۍ قطار خالي ځایونه ډکول ؛ (الف) بیا د چک کولو دپاره ټول عددونه کلاس ته لوستل . (ب) بیا دبا قي دوه قطارونو خالي ځایونه ډکول (310 - 400 ، 410 - 500) ؛ دغه عددونه کلاس ته لوستل .	مشق پاڼه ر2-44-2 (د پاسنۍ برخه)
6- پۀ دغه کار د استاد بحث کول : (الف) د طالب علمانو ړومبۍ غلط عددونه ټک کول ، دیوال سره ئې چک کول . (ب) د استاد چک کول . د طالب علمانو نه غوښتنه کول چې خپلې نتیجې د ړومبۍ او دوهمې مشق پاڼو دپاسنۍ برخې بکسونو سره پرتې ایا صحیح ډک کړے شوی دی ، مقابله کړي . (ج) د شاګردانو نه بیا د غلطو عددونو بکسونه ټول ؛ بالاخره د نور کړے شوو بکسونو پۀ ذریعه د منځ نه راعلی شکل معنی معلومول (پاڼې) .	مشق پاڼه ر2-44-2 (لاندنۍ برخه)

ر ۲ | ۲-۴۴

۳۰۰				۲۶۰		۲۴۰			۲۱۰
	۳۹۰				۳۵۰			۳۲۰	۳۱۰
۵۰۰		۴۸۰				۴۴۰		۴۲۰	

۱۰۰	۹۰	۴۰	۷۰	۶۰	۵۰	۱۰	۳۰	۲۰	۱۰
۲۰۰	۱۹۰	۱۲۰	۱۷۰	۱۶۰	۱۵۰	۱۷۰	۱۳۰	۱۲۰	۱۱۰
۳۰۰	۲۹۰	۳۶۰	۲۷۰	۲۶۰	۲۵۰	۳۸۰	۲۳۰	۲۲۰	۲۱۰
۴۰۰	۳۹۰	۱۴۰	۳۷۰	۱۱۰	۳۵۰	۱۶۰	۳۳۰	۲۵۰	۳۱۰
۵۰۰	۴۹۰	۲۳۰	۲۷	۲۱۰	۴۵۰	۲۶۰	۱۳۰	۲۴۰	۴۱۰

دویم ورېښې درس	عنوان: د لسولسو پۀ قدمونو تر 1000 پورې شمېرکول
خاکه ر2-44	

د شاګردانو/استاد مشغلې	درسی معاونات
1- استاد د طالب علمانو نه غوښتنه کوی چې د لسولسو پۀ قدمونو تر 1000 پورې شمېر وکړی ؛ طالب علمان د کاونټرونو نه کار اخلی او وار پۀ وار هریو پۀ یو وخت کښې یو عدد وائی .	
2- استاد پۀ نوره تخته لیکی: مثلاً 510 — 520 — ☐ — ☐ (الف) طالب علمان غیب عددونه پیدا کوی یعنې 530 او 540 ؛ (ب) د استاد دا عمل پۀ نورو سلسلو سره جاری ساتل چې د 500 نه زیات تر 1000 پورې وی مثلاً 780 — 790 — ☐ — ☐ (ج) طالب علمانو عددونه کلاس نه وئېل ، ځانله ځانله او پۀ ګډه سره .	نوره تخته
3- د طالب علمانو د دریمې مشق پاڼې د پاسنۍ برخې کار معلومول : (الف) پۀ خالی بکسونو کښې غیب عددونه لیکل ؛ پۀ اخر کښې د ټولو قطارونو لوستل . (ب) مقابله کول ، اصلاح کول .	مشق پاڼه ر2-44-3 (پاسنۍ برخه)
4- د دریمې مشق پاڼې لاندینۍ برخې نه کتل ؛ څۀ چې کول غواړی بحث پرې کول : (الف) د طالب علمانو د مشق پاڼې ټول بکسونه ډکول ، پۀ دوه دوه یادرې درې کسانو کار کول . (ب) پۀ اخر کښې کلاس نه د نتیجو لوستل . (ج) مقابله کول ، اصلاح کول ، وئېل چې هره سلسله یو مکمل سلیز نه رسیزې یا نورې تېرېږی .	مشق پاڼه ر2-44-3 (لاندینۍ برخه)



درسي پلان: ر2 - 31	ددې درسي پلان په باب څه نورې تبصرې

۱، هغه نتیجې چې په دواړو برخو پورې تعلق لري په دواړو علاماتو ټې په نښه کول په کار دي لکه

ر۲ | ۳۱ - ۱



۱۰	۹	۸	۷	۶	۵	۴	۳	۲	۱
۲۰	۱۹	۱۸	۱۷	۱۶	۱۵	۱۴	۱۳	۱۲	۱۱
۳۰	۲۹	۲۸	۲۷	۲۶	۲۵	۲۴	۲۳	۲۲	۲۱
۴۰	۳۹	۳۸	۳۷	۳۶	۳۵	۳۴	۳۳	۳۲	۳۱
۵۰	۴۹	۴۸	۴۷	۴۶	۴۵	۴۴	۴۳	۴۲	۴۱

۸ × ۲ = ۱۶

۴ × ۲ = ☐

۱ × ۲ = ☐

۹ × ۲ = ☐

۷ × ۲ = ☐

۳ × ۲ = ☐

۵ × ۲ = ☐

۲ × ۲ = ☐

۶ × ۲ = ☐

۱۰ × ۲ = ☐

۶ × ۵ = ۳۰

۱۰ × ۵ = ☐

۱ × ۵ = ☐

۳ × ۵ = ☐

۵ × ۵ = ☐

۸ × ۵ = ☐

۷ × ۵ = ☐

۴ × ۵ = ☐

۹ × ۵ = ☐

۲ × ۵ = ☐

ریاضی ـ دویم ټولګی	عنوان: د 300 پورې سلسله کښې د مکملو لسیزو جمع اوتفریق
ل 2 ـ 45	

د استاد مشغلې	د شاګرد مشغلې	درسی معاونات
	1- د 100 پورې پۀ مکملو لسیزو کښې جمع / تفریق	
ـ داسې سوالونه ورکول مثلاً 10 + 10 ، 10 + 20 ؛ 10 + 30 ..... 10 + 90 (همدغه شان پۀ داسې سوالونو شروع کول لکه 10+30 ، 20+30 ..... ؛ 10 + 50 .....)	ـ ځانله پۀ ځانله جوابونه ورکول.	
ـ سوالونه ورکول مثلاً 100 ـ 10 ، 100 ـ 20 ، 100 ـ 30 ..... 100 ـ 90 (همدغه شان پۀ داسې سوالونو شروع کول لکه 80 ـ 10 ، 80 ـ 20 ؛..... 60 ـ 10 .....)	ـ ځانله پۀ ځانله جوابونه ورکول.	
	2- د 200 پورې پۀ مکملو لسیزو کښې جمع او تفریق	
ـ 80 + 10 = ☐ ؛ 80 + 20 = ☐ پۀ توره تخته یو بل پسې لیکل ؛ بیا 80 + 30 = ☐ لیکل ؛ د بحث لاندې ونه کول، طالب علمانو ته راپۀ زړۀ کول چې دوی 8 + 3 څنګه جمع کړي وو.	ـ سوالونه یو پۀ بل حلول ؛ بحث کول چې ددې سوالونو حاصل د 100 نه زیات دے ـ زمونږ مشوره داده چې اول 80 + 20 = 100 ، او بیا 100 + 10 = جمع کړے شی .	
ـ د طالب علمانو نه غوښتل چې دد ې محاسبې (حساب) عملي مظاهره د 1000 ټکو د جدول (پاڼې) پۀ مدد وکړي .	ـ د یو اړخیوال سره یوځای کارکول ، د حل دپاره د 1000 ټکو جدول (پاڼه) استعمالول.	د 1000 ټکوجدول
ـ پۀ توره تخته 100 + 10 = ☐ لیکل ؛ د طالب علمانو نه ددې حل غوښتل د 1000 ټکو دپاڼې نه کار اخیستل (1) (2)	ـ ددغه جدول (پاڼې) پۀ مدد حل پیدا کول ؛ حل پۀ توره تخته لیکل.	توره تخته د 1000 ټکوجدول
ـ همدغه شان ئې جاري ساتل ؛ 100 + 20 = ☐ ؛ بیا 100 + 30 = ☐ اوهمدارنګه د 100 + 100 = ☐ پورې لیکل.	ـ د جدول پۀ مدد یو بل پسې د حلونو پیدا کول ؛ حلونه پۀ توره تخته لیکل.	
ـ 200 ـ 10 = ☐ پۀ توره تخته لیکل ؛ د طالب علمانو نه د حل غوښتنه کول (3)	ـ د جدول د مدد حل پیدا کول ، ټول حسابي عمل پۀ الفاظو بیانول ، پۀ توره تخته ئې لیکل.	
ـ همدغه شان ئې جاري ساتل ؛ 200 ـ 20 = ☐ ؛ بیا 200 ـ 30 = ☐ اوهمدارنګه د 200 ـ 100 = ☐ پورې لیکل.	ـ د جدول پۀ مدد د حلونو پیدا کول ؛ پۀ توره تخته د خالي یکسو نو ډکول.	
	3- د 300 پورې سلسله کښې د مکملو لسیزو جمع او تفریق	
ـ د طالب علمانو نه غوښتنه کول چې رومبې مشق پانړه مطالعه کړي او د هغې د بنې اړخ حسابونه وکړي (4)	ـ خالي ځایونه ډکول ؛ د چک کولو پۀ غرض ټولګي نه د ټولو مساوانو لوستل .	مشق پانړه ر2-45-1 (بنې اړخ)
ـ طالب علمانو نه وغږل چې د مشق پانړې ګڼ اړخ مطالعه کړي او د لاندې ورکړے شوې "عددي پټې" پۀ مدد حلونه پیدا کړي .	ـ پۀ کارځای پوهول ؛ د عددي پټې پۀ مرسته د حلونو پیدا کول ؛ پۀ خالي یکسونو کښې نتیجې لیکل ؛ د چک کولو دپاره نتیجې ټولګي ته لوستل .	مشق پانړه ر2-45-1 (ګڼ اړخ)

درسي پلان: د 2-45	ددې درسي پلان په باب څۀ نورې تبصرې

(1) که چرې کوم طالب علم د 1000 ټکو د جدول (ټیبل) نه بغیر صحیح جواب ووایې خو پدې وخت کښې به هم استاد په دې خبره ټینګ پاتې کیږي چې دا عمل د جدول (ټیبل) په ذریعه وکړے شی. دا به طالب علمانو ته د 100نه تر500 پورې پدې لویه سلسله کښې د عمل کولو یو مشخص تصوّر ورکړي.

(2) د 10، 20، 30 اوداسې نورو د جمع کولو دپاره په کار ده چې پټوونکے کاغذ کښې خواته بوتلے شی (د ر2 - 44 نورې تبصرې وګورئ!)

(3) د 200 - 10 = □ د تفریق د شودلو دپاره به باقی اتۀ بکسونه پټول کیږي او

رومبی دوه بکسونه به چې هر یو یې 100 ټکی لري ښکاره پاتې کیږي. بیا دبلې پاڼې په ذریعه دګڼې خوا وړو کے بکس چې 10 ټکی لري پټول کیږي چې 190 ټکی ښکاره پاتې شی.
لاندې عملیې به په همدغه شان کولے کیږي.

(4) استاد به طالب علمان په یوه داسې طریقه رهنمائی کوی چې دکل په منځ کښې عدد 200 وپېژني او دهغې په مطلب پوه شی: پټول نور عددونه به چې دګلانو دپاڼړو په بل قطار کښې دی د 200 سره جمع کول کیږي، نتیجې به په خالی مېدانونو کښې لیکلے کیږي (= ګلپاڼړې)





د پرومبی وړپسې درس	عنوان: د 1000 پورې سلسله کښې د مکملو لسیزو جمع او تفریق
خاکه ر2-45	

د شاګردانو/استاد مشغلې	درسي معاونات
1- استاد د 100 نه تر 300 پورې سلسله کښې د مکملو لسیزو د جمع او تفریق یو څو سوالونه وزکوي مثلا 60+100 ، 200+50 ، 300-30 او داسې نور ؛ طالب علمان دا سوالونه دیادونه حلوي .	
2- استاد په ۀ تورۀ تخته لیکي :	تورۀ تخته
□ = 40 + 300 □ = 40 + 400	
□ = 70 + 600 □ = 70 + 900	
(الف) طالب علمان د1000 نقطو د جدول (ټیبل) په مدد حلوونه پیدا کوي ؛	
(ب) په ۀ تورۀ تخته ئې لیکي ؛	
(ج) ټول مساوات ټولګي ته لولي .	
3- د دویمې مشق پاڼې پاسنۍ برخې ته کتل ؛ په ۀ کار ځان پوهول :	مشق پاڼه ر2-45-2
(الف) د 1000 نقطو د جدول په ۀ مدد یا د هغې نه بغیر حلوونه پیدا کول ؛	(پاسنۍ برخه)
(ب) د چک کولو د پاره ټول مساوات کلاس ته لوستل .	
4- په ۀ تورۀ تخته لیکل :	تورۀ تخته
□ 30 - 900 □ 30 - 500	
□ 80 - 800 □ 80 - 600	
□ 60 - 700 □ 30 - 1000	
(الف) طالب علمان د ټیبل (جدول) په ۀ مدد حلوونه پیدا کوي ؛	
(ب) په ۀ تورۀ تخته ئې لیکي ؛	
(ج) ټول مساوات ټولګي ته لولي .	
5- د دویمې مشق پاڼې لاندنۍ برخې ته کتل ؛ په ۀ کار ځان پوهول :	مشق پاڼه ر2-45-2
(الف) د عددي پټې ۀ په ۀ مدد حلوونه پیدا کول (د هر سوال لاندې یوه مناسبه عددي پټه ۀ ورکړې شوې ده)	(لاندنۍ برخه)
(ب) د چک کولو د پاره ټول مساوات کلاس ته لوستل .	

ر2 | 45-2		
□ = ۸۰ + ۲۰۰	□ = ۸۰ + ۷۰۰	
□ = ۲۰ + ۶۰۰	□ = ۲۰ + ۳۰۰	□ = ۸۰ + ۴۰۰
□ = ۴۰ + ۵۰۰	□ = ۴۰ + ۸۰۰	□ = ۲۰ + ۹۰۰
□ = ۷۰ + ۹۰۰	□ = ۷۰ + ۶۰۰	□ = ۴۰ + ۲۰۰

۷۹۰ = ۱۰ - ۸۰۰		□ = ۱۰ - ۵۰۰
۷۷۰ | ۷۸۰ | ۷۹۰ | ۸۰۰ | ۸۱۰		۴۸۰ | ۴۹۰ | ۵۰۰ | ۵۱۰ | ۵۲۰
□ = ۵۰ - ۳۰۰		□ = ۵۰ - ۶۰۰
۲۵۰ | ۲۶۰ | ۲۷۰ | ۲۸۰ | ۲۹۰ | ۳۰۰		۵۵۰ | ۵۶۰ | ۵۷۰ | ۵۸۰ | ۵۹۰ | ۶۰۰
□ = ۳۰ - ۴۰۰		□ = ۳۰ - ۹۰۰
۳۶۰ | ۳۷۰ | ۳۸۰ | ۳۹۰ | ۴۰۰ | ۴۱۰		۸۶۰ | ۸۷۰ | ۸۹۰ | ۹۰۰ | ۹۱۰

دویم وړپې درس	عنوان: د 1000 پورې سلسه کښې د مکملو لسیزو د جمع او تفریق مشق کول
خاکه ر 2-45	

د شاګردانو/استاد مشغلې	درسي معاونات
1- استاد دا سوالونه ورکوی : 400 + 60 ، 90 - 30 او داسې نور (جمع اوتفریق د 0 نه تر 500 پورې سلسله کښې) ، طالب علمان ټې پهٔ یادو حسابوی .	
2- استاد پهٔ تخته یو شمېر مساوات لیکی ، پهٔ کالمونو (ستونونو) کښې د سل ګونو د ترتیب خیال ساتی .	تخته
☐ = 50 + 140 ☐ = 40 + 110 ☐ = 50 + 240 ☐ = 40 + 210 ☐ = 50 + 340 ☐ = 40 + 310 ☐ = 50 + 440 ☐ = 40 + 410	
3- طالب علمان ټې د 100 او 10 روپو د لوبو د نوټونو ډګروپونو پهٔ مدد حسابوی ؛ نتیجې پهٔ خالی بکسونو کښې لیکل .	د 100 او 10 روپو د لوبو نوټونه
4- د دریمې مشق پاڼې پاسنۍ برخې ته کتل ؛ پهٔ کارځان پوهول ؛ دغه سوالونه حلول ؛ پهٔ ګروپونو کښې د نوټونو پهٔ مدد لوبې کول .	مشق پاڼه ر 2-45-3 (پاسنۍ برخه)
5- استاذ پهٔ تخته لیکی :	تخته
☐ = 30 - 870 ☐ = 20 - 180 ☐ = 30 - 370 ☐ = 20 - 480	
(الف) طالب علمان ټې د لوبو د نوټونو پهٔ مدد حساب کوی ؛	
(ب) پهٔ خالی بکسونو کښې نتیجې لیکی .	
6- د دریمې مشق پاڼې لاندینۍ برخې ته کتل ؛ پهٔ کارونو ځان پوهول :	مشق پاڼه ر 2-45-3 (لاندینۍ برخه)
(الف) دعددی پټنې پهٔ مرسته ټې حلول ؛	
(ب) صحیح عددی جملې پهٔ نښه کول او هغه عددی جملې چې حاصل ټې د عددی جملې پهٔ سر عدد سره یو شی نهٔ وی ، چرخې کول ؛	
(ج) د چک کولو دپاره ټې پوښتنې ته لوستل .	



600	590	580	570	560	550	540	530	520	510	500

550	600	510
500 + 500	20 + 580	20 - 530
30 + 520	60 + 540	10 - 600
~~20 + 540~~	40 + 570	40 - 550
60 - 600	90 + 510	50 - 560
40 - 590	80 + 550	70 - 590
10 - 560	70 + 530	90 - 600

ریاضی - دویم ټولګی | عنوان: د 1000 پورې پۀ سلسله کښې دیویو پۀ قدم شمېرکول

ر 2 - 46

د استاد مشغلې	د شاګرد مشغلې	درسي معاونات
	1- پۀ یادونه د 100 نه تر 310 پورې شمېرکول	
- طالب علمانو نه غوښتنه کول چې د 90 نه 100 پورې او د 80 نه 100 پورې شمېر وکړي .	- ډېر طالب علمان شمېر کوي .	
- پوښتنه کول چې ایا څوک د 100 نه پورته شمېرکولے شي (1) غوږ نیول، اصلاح کول، کله چې 310 ته ورسي نو ودرول ټې .	- ډېرطالب علمان پۀ مزه مزه اوپۀ احتیاط شمېرکوي ، هرطالب علم ډېر عددونه وائي ؛ د نورو غوږ نیول .	
	2- د عددونو پۀ یوه سلسله کښې غلطي معلومول	
- پۀ تخته لیکل: 310 ، 311 ، 312 ، 313 ، 314 ، 315 ، 316 ، 317 ، 318 ، 319 ، 320 ؛ طالب علمانو نه غوښتنه کول چې ټولو عددونو ته یو ځل پسې پۀ غور وګوري او غلطي معلومه کړي (2)	- د طالب علمانو د عددونو د لوستلو کوشش کول ؛ د یو ځل مدد کول ؛ لاسونه اوچتول که چېرې غلطي ټې معلومه کړې وي ؛ استاذ ته ددې پرځای پۀ خاموشۍ سره وښل .	تخته
- دوهمره وخت ورکول چې ډېر طالب علمان غلطي معلومه کړي ؛ بیا یو طالب علم ته وښل چې د عددونو سلسله کلاس ته ولولي اووایي چې څۀ پکښې غلط دی .	- د ډېرو طالب علمانو غلطي معلومول ؛ د یو طالب علم کلاس ته د عددونو سلسله لوستل ، وښل چې د 314 او 313 د یو ځل سره ځایونه بدلول پکار دی ، پۀ تخته د دې اصلاح اول	
- طالب علمانو نه غوښتنه کول چې د عددونو صحیح سلسله خوځله ولولي ؛ د ضرورت پۀ وخت مدد کول .	- صحیح سلسله ځانله ځانله او پۀ ګډه لوستل .	
- پۀ تخته د عددونو یوه بله سلسله لیکل مثلاً 490 ، 491 ، 492 ، 493 ، 494 ، 495 ، 496 ، 497 ، 498 ، 499 ، 500 .	- د څنګېنې پۀ شان عمل کول ، استاذ ته پۀ خاموشۍ وښل که چېرې دوی غلطي معلومه کړې وي ؛ پۀ اخر کښې د سلسلې اصلاح کول او خوځله ټې لوستل .	تخته
	3- د عددونو د سلسلو اصلاح کول ؛ د یوپه قدم شمېرکول	
- طالب علمانو نه غوښتنه کول چې د پومبۍ مشق پاڼې پاس د عددونو سلسلو نه پۀ غور وګوري او د غلطو اصلاح وکړي .	- ځانله ځانله یا پۀ دوه دوه کسه کارکول؛ عددي سلسلې لوستل ، غلطي معلومول او اصلاح ټې کول .	مشق پاڼه ر 2 - 46 - 1 (پاسنۍ برخه)
- طالب علمانو نه یلنه ورکول چې کلاس ته عددي سلسلې ولولي او غلطي معلومې کړي .	- یو ځل پسې پۀ غور سره سلسلې پۀ ګروپونو کښې لوستل ، غلطي معلومول او اصلاح ټې کول ، صحیح سلسلې لوستل .	
	4- د یوپۀ قدم ونو کښې شمېرکول ، د عددونو سلسلې لیکل	
- طالب علمانو نه وښل چې پۀ اوچت اواز شمېر وکړي مثلاً د 415 نه 425 پورې ، د 986 نه 1000 پورې ، د 777 نه 785 پورې او عددونه پۀ تخته - تخته ولیکي .	- پۀ اوچت اواز ځانله ځانله او پۀ ګډه شمېرکول ؛ بیا پۀ تخته تخته عددي سلسلې لیکل ؛ دا بیا لوستل .	تخته
- طالب علمانو نه غوښتنه کول چې د پومبۍ مشق پاڼې لاندینۍ برخه مکمله کړي .	- مشق پاڼه مکمله ، کلاس ته عددي سلسلې لوستل ، مقابله کول ، که ضرورت وي اصلاح ټې کول .	مشق پاڼه ر 2 - 46 - 1 (لاندینۍ برخه)

درسی پلان: ر2-46	ددې درسی پلان پۀ باب څۀ نورې تبصرې

(1) طالب علمان د 100 پورې شمېرکولو سره اشنا دی، دوی به پر زرمعلومه کړی چې د یو پۀ قدموتق کښې د 100 نه زیات شمېر څنګه کولے شی.
استاذ دې شاګردانو نه د 10، 11، 12 او نورو عددونو د شمېرلو دپاره چې څنګه کیږی لږغوندې وخت ورکړی. کله چرې یوطالب علم پخپله عددونه معلوم نۀ کړه نو هغه دې ورته وښائی.

(2) پۀ ورکړے شوې سلسله کښې غلطی معلومېدے شی هرځوکه پۀ شروع کښې نوی عددونه صحیح نۀ شی لوستے کېدے.
د یوطالب علم سره پۀ حل کښې د مددکولو دپاره دې استاذ سل کوته پټ کړی چې دعدد باقی برخه (پاسنی مثال کښې دا 10، 11، 12 دی) پۀ اسانه ولوستلے شی.

ر ۲ | ۴۶-۱

۶۲۶ ۶۲۵

۶۲۷	~~۶۲۵~~	~~۶۲۶~~	۶۲۴

؟

۵۳۸	۵۳۹	۵۳۷	۵۳۶		۷۷۱	۷۶۹	۷۷۰	۷۶۸	

	۹۲۰			۹۱۷		۹۱۵		۹۱۳	۹۱۲
		۴۶۴			۴۶۱		۴۵۹		۴۵۷
	۸۹۶				۸۹۲			۸۸۹	۸۸۸
				۳۲۰					۳۱۵

د ړومبۍ وړې درس	عنوان: د 1000 پورې سلسله کښې د شمېرمشق کول
خاکه ر2-46	

د شاګردانو/استاد مشغلې	درسي معاونات
1- « د شمېرلو او پرېښودلو » لوبه کول : طالب علمان وارپۀ وار د استاذ د یوخاص ورکړې شوی عدد نه مخ پۀ وړاندې شمېر کوی خو ټول هغه عددونه به پرېږدی چې پۀ اخر کښې ئې عدد « 5 » راځی. (پۀ شروع کښې به طالب علمان باچې ، یوبه پۀ شمېرلو شروع کوی مثلاً وښیل « 420 » ، بیا ګوانډی طالب علم وائی « 421 » ، بل وا ئی « 422 » او داسې نور تر « 424 » پورې ؛ د « 425 » دنۀ وښلو دپارۀ به بل طالب علم پۀ خولۀ لاسویله ږدی . او بل طالب علم به « 426 » وائی) کومو طالب علمانو چې غلطی وکړه هغوی به کښینی او دبلې لوبې انتظار به کوی . 2- د نورو عددونو پۀ پرېښودلو دلوبې جاری ساتل ، مثلاً د ټولو عددونو پۀ اخر کښې به « 9 » وی . که وخت وی نو نورې لوبې دې هم وکړے شی ، نور عددونه پرېښودل . 3- دویمې مشق پانې ته کتل ؛ پۀ خالی بکسونو کښې صحیح عددونه لیکل ، هغه عددونه پۀ ذهن کښې کښېنول چې ټول کړے شوی دی . د هغه عددونو ټوموته اخیستل چې ټول کړے شوی دی . 4- د عددونو قطارونو سره نن دې پۀ خالی بکسونو کښې عددونه لیکل : (الف) ټول ټول کړے شوی عددونه کلاس ته لوستل . (ب) پۀ سلسلو کښې ټول عددونه د چک کولو دپارۀ کلاس ته لوستل . (ټول کړے شوی عددونه دپاس نه لاندې دی : 596 ، 260 ، 781 ، 692 ، 804)	مشق پانې ر2-46-2



دویم ورپسې درس	عنوان: 1000 پورې سلسله کښې پۀ دوه دوه قدمونو کښې شمېر کول
خاکه ر2-46	

د شاګردانو/استاد مشغلې	درسي معاونات
1- یوه ټله "د شمېر لو او پرېښودلو" لوبه کول : د طالب علمانو بېلابېلو پۀ وار د استاد د یووړکړې شوې عددونه مخ پۀ وړاندې شمېر کول خو اوس به هر دویم عدد پرېښودی ، یعنې هر دویم طالب علم به خاموشه وي . طالب علمان به پۀ شروع کښې پاڅي ؛ که چرې یو طالب علم غلطی وکړه نو هغه به کښینی . پومبې لوبې به د یوجنت عدد نه شروع کیږي ، مثلاً 242، 768، 390 (یعنې پټول هغه عددونه چې پۀ اخر کښې ئې 0، 2، 4، 6 یا 8 وي)	
2- " د شمېر لو او پرېښودلو " لوبه بیا کول خو اوس به د طاق عدد نه شروع کوي مثلاً 425، 861، 509 (یعنې هغه عددونه چې پۀ اخر کښې ئې 1، 3، 5، 7 یا 9 وي)	
3- د درېیمې مشق پاڼې پاسنۀ برخې ته کتل : (الف) ورکوتی سرې جوړه جوړه شمېرل (یعنې 2 - 4 - 6 - 8 ....) . هرځل د هرې جوړې نه پس یوه نقطه اچول . (ب) قطار سره نن دې پۀ بکس کښې د سرو نغدار لیکل ؛ (ج) لوستل ، خوځله نقطې اچول ځانله ځانله اوپۀ ګډه سره (نتیجې دادی : 24، 44، 60، او 90 ورکوتی سرې)	مشق پاڼه ر2-46-3 (پاسنۀ برخه)
4- د درېیمې مشق پاڼې لاندینۍ برخې نه کتل : (الف) خالی بکسونو کښې غیب عددونه لیکل . (ب) د چک کولو دپاره ئې کلاس ته لوستل . (ج) بغیر د لیکلو نه د نور کړې شوو بکسونو عددونه "لوستل" .	مشق پاڼه ر2-46-3 (لاندینۍ برخه)



ریاضی - دویم ټولګی	عنوان: پهٔ عددی جدول کښې تر 1000 پورې عددونه پهٔ صحیح ترتیب لیکل
ل 2 - 47	

د استاد مشغلې	د شاګرد مشغلې	درسی معاونات
	1- یو نوی عددی جدول (پاڼې) سره اشنا کېدل	
- طالب علمانونه غوښتنه کول چې د پورتنۍ مشق پاڼې پاسنۍ برخې ته وګوري .	- معلومول چې یو داسې نوی عددی جدول دے چې د 101 نه تر 1100 پورې د جدول پهٔ شان یوه عددی سلسله لري ؛ پهٔ افقی ډول یو بل پسې عددونه د یویز وجمع ښائي ؛ یو بل دلاندې عددونه د لسیز وجمع ښائي ؛ پر عددونه غیب دی .	مشق پاڼه (2-47-1) (پاسنۍ برخه)
- طالب علمانو ته بلنه ورکول چې د عددونو پرمیځ قطار کلاس ته ولولي او غیب عدد معلوم کړي ، څنګه چې معلومیږي تشریح ئې کول ، پهٔ بکس کښې د دې د لیکلو غوښتنه کول .	- یو طالب علم د عددونو پرمیځ قطار لولي ، نور ټول د غیب عدد (489) پهٔ پېدا کولو کښې مدد کوي ، تشریح کول چې غیب عدد د "488" نه یو عدد زیات دے او د 490 نه یو عدد کم دے ، دا پهٔ جدول کښې لیکل .	
- طالب علمانونه غوښتنه کول چې همدغه شان بل قطار ولولي او خالي بکس ډک کړي .	- دعددونو بل قطار لوستل ، غیب عدد (500) معلومول ، دا پهٔ خالي بکس کښې لیکل .	
- هم دغه شان څو نورو قطارونو سره جاري ساتل ؛ طالب علمانونه غوښتنه کول چې غیب عددونه پهٔ خالي بکسونو کښې ولیکي .	- د عددونو دوه یا درې نور قطارونه لوستل ، غیب الفاظ لیکل .	
	2 - ځانله ځانله عددی جدول مکمل	
- ټولو طالب علمانونه غوښتنه کول چې پهٔ دوه دوه یا درې درې کسانو کار وکړي ؛ باقی عددونه قطار پهٔ قطار پهٔ خاموشۍ سره ولولي او پهٔ خالي بکسونو کښې غیب الفاظ ولیکي ؛ پهٔ طالب علمانو ګرځېدل ، مدد ټې کول (1)	- قطار پهٔ قطار ټولې عددی سلسلې لوستل ، ټول غیب عددونه معلومول ، دا پهٔ خالي بکسونو کښې لیکل .	مشق پاڼه (2-47-1) (پاسنۍ برخه)
- طالب علمانونه غوښتنه کول چې کوم عددونه دوی لیکلی دی هغه کلاس ته ولولي .	- طالب علمان وار پهٔ وار پهٔ اوچت اواز کلاس ته عددونه لولي ، لیکلې شوي عددونو چک کول .	
- طالب علمانو ته وئیل چې د مشق پاڼې د لاندینۍ برخې پهٔ خالي بکسونو کښې صحیح عددونه ولیکي ؛ تشریح کول چې دا بکسونه د یو عددی جدول نه "شلولے" شوي دی ؛ مدد کول ، چک کول .	- پهٔ خالي بکسونو کښې غیب عددونه لیکل ؛ (طالب علمان دې د مشق پاڼې د پاسنۍ برخې مکمل کړے شوی جدول ته وګوري خو روڼ دې د دې د مدد نه بغیر کوشش وکړي) .	مشق پاڼه (2-47-2) (لاندینۍ برخه)
	3- د عددی جدول جوړښت را پېدا کول	
- طالب علمانونه غوښتنه کول چې دا څوک چک کولے شي چې ایا پهٔ خالي بکسونو کښې صحیح عددونه لیکلے شوی دی (2)	- بحث کول ، مثلاً وئیل چې پهٔ یو قطار کښې د عددونو یو نمونه د یو یو پهٔ حساب زیاتیږي ؛ دیو قطار پهٔ اخري بکسونو کښې همیشه د مکمل لسیزو یو عدد دے ؛ دیو کالم ټول عددونه هم پهٔ دغه بڼه ختمیږي .	
- طالب علمانونه غوښتنه کول چې یوځل بیا پهٔ ګروپونو کښې مکمل کړے شوي جدولونه چک کړي	- پهٔ ګروپونو کښې چک کول ، د جدول د جوړښت د نوي زده کړې نه کار اخیستل .	
(3)		

درسي پلان: ر 2-47	ددې درسي پلان په باب څه نورې تبصرې

(1) استاذ دې د شروع نه د طالب علمانو مدد نه کوی ، خو په غور دې وګوری چې کومو طالب علمانو نه د مدد ضرورت دے . خو ددې باوجود پخپله د خپل سنودلو په ځای په کې ممکن وی ، استاذ دې د شو سوالونو پوښتنه وکړی دا به د طالب علمانو د حل پخپله معلومولو کښې مدد وکړی .

(2) په عددی جدول کښې به د اعدادو نزمنځ ډېرې رابطې معلومول کیږی . استاذ به د یوې یا ډېرو رابطو د معلومولو دپاره طالب علمانو نه پس وخت ورکوی . رابطې دادی: په عمودی قطارونو کښې سلیزه په ځای پاتې کیږی اولسیزه او یونټونه بدلیږی . په افقی کالمونو کښې یونټونه په ځای پاتې کیږی اوسلیزه اولسیزه بدلیږی .

(3) داکلاس ته د ځینې کالمونو د لوستلو په ذریعه کیدے شی ، دې ته خیال چې د هرعدد یونټ په یو شان پاتې شی .

ر 2 | 1-47

۴۸۱	۴۸۲	۴۸۳	۴۸۴	۴۸۵	۴۸۶	۴۸۷	۴۸۸		۴۹۰
۴۹۱	۴۹۲	۴۹۳	۴۹۴	۴۹۵	۴۹۶	۴۹۷	۴۹۸	۴۹۹	
۵۰۱	۵۰۲	۵۰۳	۵۰۴	۵۰۵	۵۰۶	۵۰۷	۵۰۸	۵۰۹	
۵۱۱	۵۱۲	۵۱۳		۵۱۵	۵۱۶	۵۱۷	۵۱۸	۵۱۹	
۵۲۱	۵۲۲	۵۲۳		۵۲۵	۵۲۶	۵۲۷	۵۲۸	۵۲۹	
۵۳۱	۵۳۲	۵۳۳		۵۳۵	۵۳۶	۵۳۷	۵۳۸	۵۳۹	۵۴۰
۵۴۱	۵۴۲	۵۴۳	۵۴۴	۵۴۵					۵۵۰
۵۵۱		۵۵۳	۵۵۴	۵۵۵	۵۵۶	۵۵۷	۵۵۸	۵۵۹	۵۶۰
۵۶۱		۵۶۳		۵۶۵	۵۶۶	۵۶۷	۵۶۸	۵۶۹	۵۷۰
۵۷۱		۵۷۳		۵۷۵	۵۷۶	۵۷۷	۵۷۸	۵۷۹	۵۸۰
۵۸۱		۵۸۳		۵۸۵	۵۸۶	۵۸۷	۵۸۸	۵۸۹	۵۹۰
۵۹۱		۵۹۳	۵۹۴	۵۹۵	۵۹۶				
۶۰۱		۶۰۳		۶۰۵		۶۰۷		۶۰۹	
۶۱۱		۶۱۳		۶۱۵		۶۱۷		۶۱۹	
	۶۲۲		۶۲۴		۶۲۶		۶۲۸		۶۳۰
	۶۳۲		۶۳۴		۶۳۶		۶۳۸		۶۴۰
۶۴۱	۶۴۲			۶۴۵	۶۴۶			۶۴۹	۶۵۰
		۶۵۳	۶۵۴			۶۵۷	۶۵۸		
									۶۸۰



د ورځې وړتیا درس	عنوان: د .دوو، او .پنځو، د پاڑو مخلوط مشقونه
خاکه ر 2-31	

د شاګردانو/استاد مشغلې	درسي معاونات
1- د استاد غوښتنه کول چې د .دوو، پۀ پاڑې پورې مربوط د اعدادو سلسله دې مخ پۀ وړاندې او مخ پۀ شا ووئیلې شي (یعنې 2 - 4 - 6 .... 20 او 20 - 18 - 16 ..... 2) .	
2- د استاد غوښتنه کول چې د .پنځو، پۀ پاڑې پورې مربوط د اعدادو سلسله دې مخ پۀ وړاندې او مخ پۀ شا ووئیلې شي (یعنې 5 - 10 - 15 ..... 50 او 50 - 45 - 40 .... 5)	
3- د کلاس پۀ مخ کښې یوکنج ته د طالب علمانو دوه ګروپه جوړول چې هر ګروپ کښې تقریباً د پنځو نه تر شپږو پورې کسان وی. د یو ګروپ د بل ګروپ نه د پنځو د پاڑې پوښتنه کول مثلاً 7 × 5 = ☐ ؛ بیا د دې بل ګروپ د لومړی ګروپ نه د .2، د پاڑې پوښتنه کول؛ مثلاً 8 × 2 = ☐ د جواب ورکولو نه مخکښې طالب علمان کولے شي چې د خپل ګروپ پۀ منځ کښې پۀ ارام سره پۀ نتیجه بحث وکړی.	
4- د پوښتنو پۀ کولو کښې د ګروپونو وارنیول ؛ د هر ګروپ د پنځو پنځو پوښتنو کولو نه روسته ددغه دوه ګروپونو پوزیشنونه بدلول اوبیا د بلې پاڑې پۀ باب پۀ دغه طریقه د پوښتنو جاری ساتل .	
5- دوئیمې مشق پاڼې نه کښل : پۀ کار ځان پوهول ؛ د مشق پاڼې مکمل، پۀ اخر کښې نتیجې ټوګلی ته لوستل ، چک کول .	مشق پاڼه ر2-31-2 پنسلونه



د ړومبۍ وړې درس خاکه ر2-47	عنوان: 1000 پورې عددونه مقابله کول ، ددې ترتیب صحیح کول	

د شاګردانو/استاد مشغلې	درسي معاونات
1- استاذ په نوره تخته لیکي/ جوړوي : 234 ☐ ☐ 806	نوره تخته
طالب علمانو ته وښیل چې ورکوڼې عدد په پاسني بکس او لوی عدد په لاندینۍ بکس کښې ولیکي .	
2- 1000 پورې په سلسله کښې د عددونو دوه نورو جوړو سره جاري ساتل .	
3- استاذ په نوره تخته درې عددونه لیکي او درې بکسونه جوړوي: 728 ☐ 528 ☐ 406 ☐	
طالب علمانو ته غوښتنه کول چې ورکوڼې عدد د سر په بکس اولوې عدد په اخرۍ بکس کښې ولیکي او دریم په منځنۍ بکس کښې .	
4- دویمې مشق پاڼې ته کتل : په کارځان پوهول ، د سر په بکس کښې د ورکوڼو عددونو د لیکلو ته شروع کول .	مشق پاڼه ر2-47-2
5- حلوینه کلاس ته لوستل ، مثلاً وښیل : عدد "423" د عدد "821" نه کم دے ، دې دپاره یې دا په پاسني بکس کښې لیکلے کیږي ، او داسې نور ؛ مقابله کول ، که ضرورت وو اصلاح کول .	
6- که وخت وي دغسې نور کارونه ورکول (که طالب علمان کولے شي ، نو استاذ دې 4 عددونه ورکړي)	

ر2 ۲-۴۷		
۸۸۱ ~~۴۳۲~~	۶۰۱ ☐ ۳۹۹	۵۸۸ ☐ ۸۵۵
~~۸۲۱~~ ۴۳۲		
۶۱۲ ☐ ۹۰۰ ☐ ۵۹۹ ☐	۳۸۱ ☐ ۱۸۳ ☐ ۸۳۱ ☐	۴۹۰ ☐ ۳۹۵ ☐ ۲۹۹ ☐
۳۸۹ ☐ ۴۷۲ ☐ ۳۹۸ ☐	۹۰۴ ☐ ۸۸۴ ☐ ۹۰۳ ☐	۷۷۷ ☐ ۶۶۶ ☐ ۵۵۵ ☐

دوهم ورځپاڼه درس	عنوان: خوا په خوا عددونه او خوا په خوا لسیزه معلومول
خاکه ر2-47	

د شاګردانو/استاد مشغلې	درسي معاونات
1- دروميځ مشق پاڼې عددي جدول ته بيا کتل ؛ د استاذ غوښتنه کول چې 543 سره يوې خوا اوښې خوا ته (ګاونډي) عددونه کوم دي ، ددې مطلب د 543 نه ښې او کې خ ا ړ خونې ته عددونه دي ، ورپې بکسونه په ټوره تخته جوړول ؛ طالب علمان 543 سره نزدې په بکسونو کښې ددې خوا په خوا (ګاونډي) عددونه ليکي :	مشق پاڼه ر2-47-1 (د عددونو جدول)
544 | 543 | 542	
2- د يو څو نورو عددونو خوا په خوا عددونه معلومول .	
3- طالب علمان د درېيمې مشق پاڼې پاسنۍ برخه کښې عددونه ليکي ؛ که ضرورت وي د مدد د پاره عددي جدول استعمالوي (د 481 او 680 په منځ کښې د عددونو ديارلس)	مشق پاڼه ر2-47-3 (پاسنۍ برخه)
4- استاذ په ټوره تخته 576 ليکي ؛ (الف) طالب علمانو نه غوښتنه کول چې د عددونو د جدول په مدد د دې عدد نه روسته او مخکښې بل مکمل لسيز معلوم کړي ؛ د ضرورت په وخت د استاذ مدد کول ؛	د عددونو جدول
(ب) طالب علمان دا عددونه 576 سره نزدې په بکسونو کښې ليکي:	
580 ..... 576 570	
5- استاذ د طالب علمانو نه غوښتنه کوي چې د دريمې مشق پاڼې پاسنۍ برخه مکمله کړي : (الف) طالب علمان د دوه دوه يا د دريو دريو په ګروپونو کښې کار کوي ، د عددونو جدول په مدد يا د دې د مدد نه پرته ؛ (ب) ټولې نتيجې کلاس ته لوستل ، د عددونو په جدول کښې ټولو متعلقه عددونو ته اشاره کول ؛ (ج) د يومکمل لسيز نه بل مکمل لسيز پورې مکملې سلسلې لوستل ، د لسيزو په منځ کښې په عدد زور ورکول .	مشق پاڼه ر2-47-3 (لاندينۍ برخه) د عددونو جدول



ریاضی ـ دویم ټولګی	عنوان: 1000 پورې پیسې شمېرل ؛ د 1 روپې ، 2 روپې جمع اوتفریق کول
ر 2 - 48	

د استاد مشغلې	د شاګرد مشغلې	درسي معاونات
ـ استاذ دلوبو روپې پۀ تورو تخته جوړوی (رسموی) یا پۀ لکوی : 	1- تر 1000 پورې دلوبو پیسې شمېرل ـ ډېر طالب علمان یوبل پسې مخې ته راځی ، دلوبو پیسوته اشاره کوی اوپیسې شمېری (یعنې 600 روپۍ) .	تورو تخته دلوبو روپۍ
ـ طالب علمانو نه غوښتنه کول چې دغه پیسې (۱) شماری پۀ تورو تخته دلوبو نوټونو د جوړولو یا لکولوپۀ ذریعه د مختلفو قیمتونو د پرو نوټونو جمع کول چې حاصل جمع یې د 1000 نه زیاته نه وی . ـ چرخې کول یا څۀ نوټونه تري لرې کول ؛ طالب علمانو نه د دوباره شمېرلو غوښتنه کول	ـ ډېر طالب علمان بیا یوبل پسې مخې ته راځی ، نوټونو ته اشاره کوی ، شمېری یې ، پۀ هغه ترتیب سره چې محکمې پۀ مشق وشو . ـ طالب علمان د محکمې پشان عمل کوی	
ـ طالب علمانو نه غوښتنه کول چې پۀ ډومبی مشق پاڼه کښې جوړه شوو نوټونو ته ګوری ، ورته وئیل چې پۀ هرکس کښې پیسې وشماری ، پیسې د تصویرونو کښې خوانه پۀ ډوه بکسونو کښې لیکل	2- ځانله ځانله د نوټونو د شمېرلو مشق کول ـ پۀ هرکس کښې یوبل پسې د لوبو روپۍ شمېرل ، د روپۍ پۀ متعلقه خالی بکسونو کښې لیکل	مشق پاڼه ر 2 - 48 - 1
ـ طالب علمانو غوښتنه کول چې د 1 روپۍ یو بل نوټ د مشق پاڼې پۀ ډومبی بکس کښې جوړ کړی ، اوددغه تصویرد لاندې پۀ خالی بکس کښې متعلقه مساوات ولیکی ـ طالب علمانو ته بلنه ورکول چې دوه روپۍ خرڅ کړی اود یوروپۍ دوه نوټونه چرخې کړی ؛ متعلقه مساوات معلومول ؛ د ضرورت پۀ وخت مدد کول	3- د 1 روپۍ ، 2 روپو جمع او تفریق ـ پۀ خالی بکس کښې د 1 روپۍ یوبل نوټ جوړول ؛ شمېرل یې ؛ د تصویر د لاندې یې لیکل : 434 + 1 = 435 ـ دیو روپۍ دوه نوټونه چرخې کول ؛ حساب کول ، د ډومبی مساوات د لاندې لیکل : 435 - 2 = 433 ؛ د چک کولو د پاره نوټونه شمېرل ؛ د چک کولو د پاره دواړه مساوات کلاس ته لوستل .	مشق پاڼې ر 2 - 48 - 1
ـ طالب علمانو نه غوښتنه کول چې پۀ مشق پاڼه کښې ټول مساوات هم پۀ دغه طریقه مکمل کړی ـ طالب علمانو نه غوښتنه کول چې خپلوانو یوالانو سره نتیجې مقابله کړی . پۀ طالب علمانو ګرځېدل اودا چک کول چې تصویرونه او مساوات د یوبل مطابق دی .	4- د 1 روپۍ ، 2 روپۍ د جمع او تفریق مشق کول ـ ډومبی یوه بله روپۍ جوړول ، د جمع متعلقه مساوات لیکل ؛ بیا دوه روپۍ چرخې کول ؛ د تفریق متعلقه مساوات لیکل ـ انډیوالانو سره خپلې نتیجې مقابله کول ؛ پۀ آخر کښې ټول مساوات کلاس ته لوستل .	مشق پاڼې ر 2 - 48 - 1

درسي پلان: ر - 48	ددې درسي پلان پۀ باب څۀ نورې تبصرې

(۱) څنګه چې دا مو ښودلې دي نو زه غواړم چې ستاسو ټولګي ته يو څو ځله وخت ورکړم او صرف دا ضرورت پۀ وخت کښې دې ددوئ مدد کوم هغه دې خاص طور سره طالب علمانو ته د اخبره بنکاره کړي چې د اوچت قيمت د نوټونو نوم شمېرلو نه شروع کول آسان دي ، او د نوټونو د کمېدونکي قيمت مطابق دې جاري وساتي - پۀ بينک او دوکانونو کښې خلق چې اکثره پيسې شماري پۀ دغه طريقه د نوټونو شمېر کوي . کله چې دوي لاندينې نوټونه وينې :

50 5 10 1 1 500 100 100

نو دوئ 500 - 600 - 700 - 750 - 760 - 765 - 766 - 767 شماري او هم پۀ دغه ترتيب نوټونه را اخلي که ضرورت وُ نو نور مثالونه ورکول او دې وخت کښې مخکښې پۀ مشق کول پکار دي .



د ریاضی وړتیایی درس	عنوان: 1000 پورې روپۍ شمارل ؛ ۱۰ روپۍ د مکملولسیزونه تفریق کول
خاکه ر 2 - 48	

د شاګردانو / استاد مشغلې	درسی معاونات
1- استاذ دلوبو روپۍ پۀ توره تخته جوړوی یا ئې لګوی 100 100 10 10 50 (الف) طالب علمانونه غوښتنه کول چې روڼې وشماری ؛ بیا یادوه طالب علمان د کلاس مخې ته راځي، شمېرکوی ، داوچت قیمت د نوټونونه شروع کوی . (ب) لوبو روپو سره نږدې 270 روپۍ لیکل 2- استاد د طالب علمانونه غوښتنه کوی چې یوکس د دغه پیسونه یوه روپۍ څنګه خرڅ کولے شی ؛ د طالب علمانو وئېل چې دلسو روپیو نوټ په دیوې روپۍ پۀ لسو نوټونو کښې بدلولے شی نو یوه روپۍ به واخیستے شی او 269 روپۍ به باقی پاتې شی . 3- داستاذ غوښتنه کول چې دیوې روپۍ پۀ نوټونو کښې دلسو روپیو نوټ د بدلولو عملیه پۀ عمل کښې وښائی یا دې پۀ توره تخته د 10 روپیو یو نوټ چرخه کړی چې دا دیوې روپۍ پۀ لسو نوټونو کښې بدل شی . (الف) بیادې د ۱۰ روپۍ یو نوټ چرخه کړی (ب) صحیح مساوات وئېل (ج) داپۀ توره تخته لیکل 4- نورو پیسوسره هم دغه عمل کول مثلاً 330 روپۍ ، بحث کول ، جوړول (رسمول) حساب کول متعلقه مساوات لیکل 5- دوئېمې مشق پانې ته کتل ؛ پۀ کارځان پوهول (الف) ښې اړخ اوکڼ اړخ ته دجوړو شوو پیسو ترمنځه رابطه (تعلق) معلومول (کڼ اړخ ته ټول نوټونه د یوې اندازه کمے لری ، خو د دوئ ترتیب مختلف دے) د ۱۰ روپۍ د تفریق کولو دپاره به د 10 روپیو نوټ د 5 + 1 + 1 + 1 + 1 + 1 روپو کښې بدلولے شی . که ۱۰ روپۍ ترې لرې شی نو 5 ، ۱ ، ۱ ، ۱ ، ۱ به باقی پاتې شی . د نوټونو تعداد زیاتیزی خو قیمت پې پۀ ځای پاتې کیږی . (ب) پورتنیو مثال مکمل 6- پۀ مشق پانو کښې باقی سوالونه مکمل ، انډیوال سره یوځای کارکول ، نتیجې کلاس ته لوستل، د دې پۀ حقله خبرې کول .	توره تخته دلوبو روپۍ

دویم ورپسې درس	عنوان: 1000 پورې روپۍ شمېرل، 10 روپۍ د 3 هندسي عددونونه تفریق کول
خاکه د 2 - 48	

د شاګردانو/استاد مشغلې	درسي معاونات
۱- د استاذ پۀ توره تخته د لوبو روپۍ جوړول (رسمول) یا لیکول: 100 500 10 10 5 (الف) طالب علمانو نه غوښتنه کول چې د روپۍ د شمارې، د طالب علمانو شمېرل، متعلقه نوټونو نه اشاره کول، د 500 د نوټ نه شروع کول (ب) نتیجه (625 روپۍ) د لوبو روپو سره نزدې لیکل 2- استاذ طالب علمانو نه وائي چې هغه پۀ 10 روپۍ یو څیز اخیستل غواړي (الف) طالب علمان د لوبو د روپونه د 10 روپو یو نوټ لرې کوي (ب) پۀ توره تخته د 10 روپو یو نوټ چرګه کوي 3- طالب علمان پۀ توره تخته متعلقه مساوات: 625 - 10 = 615 لیکي 4- طالب علمان درئیسي مشق پانړې ته ګوري، پۀ کار ځان پوهوي (الف) روميي مساوات مکمليوي. (ب) د دې متعلق خبرې کوي، معلوموي چې دا د «1» روپۍ د تفریق کولو پۀ نسبت اسان دے. 5- طالب علمان د مشق پانړې نور سوالونه مکمليوي، همېشه مساوات مکمليوي. (الف) متعلقه رسم (تصویر) سره د نتیجې بکس یوځای کوي. (ب) مساوات کلاس ته لولي، د دې متعلق خبرې کوي.	توره تخته یادلوبو روپۍ مشق پانړه د 2 - 48 - 3

د 2 | ۳-۴۸



د استاد مشغلې	د شاګرد مشغلې	درسی معاونات
ـ طالب علمانو ته وئیل چې مشق پاڼه (ل 2 - 49-1) اوکوری ـ د طالب علمانو نه غوښتنه کول چې د دې پټیو په عددونو کښې فرقونه معلوم کړی (1)	1 ـ په عددی پټی کښې د اعدادو جوړې معلومول ـ مشق پاڼه مطالعه کول ؛ د 500 نه تر 1000 پورې سلسله کښې مختلفې عددی پټی معلومول . ـ ټولې عددی پټی چلند کول خو اپه خوا او یو بل د پاسه عددونه مقابله کول ؛ دغه جوړې کلاس ته لوستل	مشق پاڼه ل 2-49-1
ـ په توره تخته 510 + 1 = لیکل ؛ پوښتنه کول چې د عددی پټی په مدد د حل معلومول به څوک بیان کړی . ـ په توره تخته 510 - 1 = لیکل . د طالب علمانو نه پوښتنه کول چې حل به د عددی پټی په مدد څنګه پیدا کولے کیږی .	2 ـ د مکمل لیږو سره د عدد "1" جمع کول او تری تفریق کول ـ وئیل چې د یوې پټی د ګڼې خوا آخر کښې 510 پیدا کول کیدے شی او د بل غټ عدد په طرف به څې چې د بل قطار په شروع کښې دے ؛ په توره تخته خالی بکس کښې نتیجه لیکل ـ وئیل چې په عین یو قطار کښې به د 510 نه "1" یو قدم شاته ښوولے کیږی ؛ په توره تخته خالی بکس کښې نتیجه لیکل .	توره تخته مشق پاڼه ل 2 - 49 - 1
ـ په توره تخته 510 + 2 = لیکل ؛ 510 - 2 = غوښتنه کول چې د غه سوالونه په مشق پاڼه کښې د عددی پټیو په مدد څنګه حل کیدے شی ـ همدغه شان په 610 + 2 او 610 - 2 مشق کول . که ضرورت وو مرسته کول	3 ـ د مکمل لیږو سره "2" جمع کول او ترینه تفریق کول ـ وئیل چې د "2" د جمع کولو د پاره یو سړے کولے شی چې د 510 نه دوه قدمه په مخ لاړ شی (په پل قطار کښې) همدغسې کول ؛ 512 ته راتلل ؛ بیا وئیل چې د 510 نه د "2" د تفریق کولو د پاره دوه قدمه شاته تګ په کار دے ؛ همدغسې کول ؛ "508" ته راتلل ؛ همدغه شان تر په خالی بکسونو کښې لیکل . ـ طالب علمانو ته پخپله د حل معلومولو د پاره موقع ورکول	توره تخته
ـ طالب علمانو ته وئیل چې په رومبی مشق پاڼه کښې ټول مساوات مکمل کړئ ؛ په دوه دوه کس کار کول ؛ مدد کول	ـ د مساواتو مکمللول ، د حل د معلومولو د پاره عددی پټی کافی استعمالول ؛ یو بل ته خپل حسابی عملونه چې څنګه پی کړی دی بنودل ؛ نتیجې لیکل ؛ ټولې نتیجې کلاس ته لوستل ؛ که ضرورت وو اصلاح کول	مشق پاڼه ل 2-49-1

درسي پلان: ر2 - 49	ددې درسي پلان په باب څه نورې تبصرې

(1) دلته مطلب دا دے چې د عددي پټو کار بیان کړے شی . سلیزاو یونټونه په عمودي ډول په خپل حال پاتې کېږي خو لیږه بدلېږي . په افقي ډول سلیزه په خپل حال پاتې کېږي خو لیږه او یونټونه بدلېږي .

(2) د دوېم ورځې درس متعلق

د دوېم ورځې درس مطلب د طالب علمانو سره مدد کول دی ، دوی به په دې کښې تربیه کېږي چې حسابونه پخپله وکړي او پخپله ئې غوښتنه وکړي ، داستاذ خاص کومکونه قبول کړي اوکه نورطالب علمان په ډهډول کښې خپله مشکلات لري مدد ورسره وکړي (که چېرې دوئ پخپله پوځه ئ زړه کړي وی) . د دې وجهې نه به استاذ د هر ډول شخصي درجه بندی کولو نه ځان ساتي . کومو طالب علمانو چې ډېرې غلطی کړې وی زړه ئ به ئ کېږي چې درس جاری وساتی او برخه پکښې واخلی .

که نو طالب علم یوځل بیا په یوځیز کښې کمزورے وی کېدے شي چې بل ځل یا په بل څېزکښې تکړه وی . طالب علمانو ته به نوراضافی مشقونه ورکولے کېږي . مثلاً چې دمشق پاڼې په سوالونو بیا حساب وکړي؛ نورطالب علمان بیا استاذ پخپله به ورسره کومک کوی .

نولوستو یا د 1000 فقطود حبه ډول نه به کار اخیستل کېږي .

ر2 / ۱-۴۹									
۵۰۱	۵۰۲	۵۰۳	۵۰۴	۵۰۵	۵۰۶	۵۰۷	۵۰۸	۵۰۹	۵۱۰
۵۱۱	۵۱۲	۵۱۳	۵۱۴	۵۱۵	۵۱۶	۵۱۷	۵۱۸	۵۱۹	۵۲۰
۵۱۰ + ۱ = ☐						۵۱۰ + ۲ = ☐			
۵۱۰ - ۱ = ☐						۵۱۰ - ۲ = ☐			
۶۲۱	۶۲۲	۶۲۳	۶۲۴	۶۲۵	۶۲۶	۶۲۷	۶۲۸	۶۲۹	۶۳۰
۶۳۱	۶۳۲	۶۳۳	۶۳۴	۶۳۵	۶۳۶	۶۳۷	۶۳۸	۶۳۹	۶۴۰
۶۳۰ + ۱ = ☐						۶۳۰ + ۲ = ☐			
۶۳۰ - ۱ = ☐						۶۳۰ - ۲ = ☐			
۷۴۱	۷۴۲	۷۴۳	۷۴۴	۷۴۵	۷۴۶	۷۴۷	۷۴۸	۷۴۹	۷۵۰
۷۵۱	۷۵۲	۷۵۳	۷۵۴	۷۵۵	۷۵۶	۷۵۷	۷۵۸	۷۵۹	۷۶۰
۷۵۰ + ۱ = ☐						۷۵۰ + ۲ = ☐			
۷۵۰ - ۱ = ☐						۷۵۰ - ۲ = ☐			
۸۶۱	۸۶۲	۸۶۳	۸۶۴	۸۶۵	۸۶۶	۸۶۷	۸۶۸	۸۶۹	۸۷۰
۸۷۱	۸۷۲	۸۷۳	۸۷۴	۸۷۵	۸۷۶	۸۷۷	۸۷۸	۸۷۹	۸۸۰
۸۷۰ + ۱ = ☐						۸۷۰ + ۲ = ☐			
۸۷۰ - ۱ = ☐						۸۷۰ - ۲ = ☐			
۹۸۱	۹۸۲	۹۸۳	۹۸۴	۹۸۵	۹۸۶	۹۸۷	۹۸۸	۹۸۹	۹۹۰
۹۹۱	۹۹۲	۹۹۳	۹۹۴	۹۹۵	۹۹۶	۹۹۷	۹۹۸	۹۹۹	۱۰۰۰
۹۹۰ + ۱ = ☐						۹۹۰ + ۲ = ☐			
۹۹۰ - ۱ = ☐						۹۹۰ - ۲ = ☐			

د رومبی وړپسې درس	عنوان : لسیزه د درې رقمی عددونو سره جمع کول او تري تفریق کول ډیر
خاکه ر 2 - 49	

د شاګردانو / استاد مشغلې	درسی معاونات
1- په ټوره تخته 510 + 10 = لیکل ، غوښتنه کول چې دا سوال به د رومبی مشق پانړې، د عددی پټیو په مدد څنګه حل کړی . (الف) طالب علمان وایي چې د 510 نه لس قدمه مخ په وړاندې هغه بکس ته ټک په کار دے چې دوه سوه عدد لاندې دے، یعنې 520 . (ب) په ټوره تخته ډیر لیکل ، د 510 لاندې بکس ته رسېدل یعنې 520 ته .	ټوره تخته مشق پانړه ر2-149 کښې عددی پټۍ
2- نور ډیر کارونه چې په رومبی مشق پانړه ښودلے کېدی شی ، ورکول لکه 630 + 10 ، 760 - 10 ، 870 + 10 ، 1000 - 10 ، 570 - 10 او نور سوالونه چې په مشق پانړه نه شی ښودلے کېدے ، طالب علمان جمع کول او تفریق کول د یادونه کوی ، خو طالب علمان ځانله ځانله جوابونه ورکوی .	
3- د لسولسو په قدمونو کښې په ټوره تخته لاندې عددی پټۍ ګاڼې جوړول : 615 625 635 ..... 695 (الف) طالب علمانو ته وویل چې په ټوره تخته د جوړې کړې شوو عددي پټیو په استعمال دا سوال حل کړی : 625 + 10 = □ (ب) د عددی پټیو په مدد چې څنګه حل موندلے کېږی ، طالب علمان ډیر بیانوی . (ج) جواب په ټوره تخته لیکل .	ټوره تخته
4- 625 - 10 = □ په ټوره تخته لیکل ، د طالب علمانو نه غوښتنه کول چې په یوه هم غسې شان طریقه یې حل کړی ، څنګه چې کول پکار وي ، طالب علمان یې بیانوی . مثلاً وویل شي چې په څوکۍ لس قدمه په شا راشی نو « 625 » د پاسه بکس ته به ورسېږی یعنې « 615 » ته به خالی بکس کښې نتیجه لیکل .	ټوره تخته مشق پانړه ر492 - 2
645 + 10 = □	
5- په ټوره تخته لیکل : 645 - 10 = □ (الف) د طالب علمانو نه دغه سوالونو حل غوښتل (ب) د طالب علمانو د عددی پټیو په مرسته د جوابونو لیکل ، په ټوره تخته صرف عمودی عددی پټۍ ته کتل	
6- په دوهمه مشق پانړه کښې د سوالونو مکمل ، په آخر کښې ټولے نتیجې کلاسته ډیک کولو پاره لوستل	

ر ۲ | ۲-۴۹

۴۳۳ + ۱۰ = □	۱۸۶ + ۱۰ = □	۸۱۹ + ۱۰ = □
۳۳ - ۱۰ = □	۸۶ - ۱۰ = □	۱۹ - ۱۰ = □
۹۵۱ + ۱۰ = □	۹۷۴ + ۱۰ = □	۹۲۷ + ۱۰ = □
۵۱ - ۱۰ = □	۷۴ - ۱۰ = □	۲۷ - ۱۰ = □

دویم وړیې درس	عنوان: د درې رقمي عدد سره د 1، 2، 10 عددونو جمع کول او تړې تفریق کول پې چک کول
خاکه ر2-49	

د شاګردانو/استاد مشغلې	درسي معاونات
1 ـ استاد طالب علمانو ته ورپه ژړه کوي چې تاسو اویس دا زده کړې دي چې د 1000 پورې عددي پټې سره 1، 2 یا 10 څنګه جمع کیږي یا تړې څنګه تفریق کیږي؛ د دې د پاره چې طالب علمان د درېیو مشق پانړې کارته تیارې نولاندې مثالونه په توره تخته لیکل 579 + 10 = ☐ 489 − 10 = ☐	توره تخته
2 ـ طالب علمان خاص جوابونه په توره تخته بکسونو کښې لیکي؛ د درېیو مشق پانړې پې ړومبی کالم (ستون) ځانله ځانله شروع کول.	توره تخته مشق پانړه ر2-49-3
3 ـ کله چې ټول طالب علمان خپل خپل کارونه خلاص کړي نو د هغې نه پس استاد د ړومبی کالم (ستون) ټولې نتیجې پې توره تخته لیکي (الف) طالب علمان مقابله کوي، پې مشق پانړه صحیح نتایج ټک کوي، (ب) خومره سوالونه ئې چې صحیح حل کړي وي حسابوي ئې. (ج) دغه شمیرد کالم سره لاندې دایره کښې لیکي	
4 ـ پې دویم کالم د کارد تیارولو د پاره استاد لاندې مثالونه پې توره تخته لیکي 210 + 2 = ☐ 720 − 2 = ☐ طالب علمان همدغه شان طریقه کار استعمالوي او دویم او دریم کالم مکملوي؛ چک کول به دمخکښې پشان کیږي.	توره تخته
5 ـ استاد د کارټونو کتابونه راټولوي چې د دې پته ولګوي چې د اکثرو طالب علمانو د یاره د کوم قسمونو حساب کولو مشق ضروري دے. کله چې استاد یو ځل داسې طالب علم پیدا کړي چې هغه پې نوخاص قسم محاسبه کښې کمزورے دے نو هغه سره به ځانګړې توګه کومک وکړي د طالب علمانو سره د علیحده مدد کولو د پاره او د داسې طالب علمانو د پیدا کولو د پاره چې د نورو سره مدد کوي، بې بنه دا وي چې د 1000 نقطو د جدول له کار واخیستلے شي، (دویم نمبر تبصره وګوره)	مشق پانړه ر2-49-3

③ ر2 ۴۹-۳	②	①
☐ = ۱ + ۹۵۰	☐ = ۲ + ۹۱۰	۹۸۹ = ۱۰ + ۹۷۹
☐ = ۱ + ۱۵۰	☐ = ۲ + ۴۱۰	☐ = ۱۰ + ۶۷۹
☐ = ۱ + ۷۵۰	☐ = ۲ + ۶۱۰	☐ = ۱۰ + ۲۷۹
☐ = ۱ + ۳۵۰	☐ = ۲ + ۳۱۰	☐ = ۱۰ + ۴۷۹
☐ = ۱ − ۹۸۰	☐ = ۲ − ۹۶۰	☐ = ۱۰ − ۹۳۲
☐ = ۱ − ۴۸۰	☐ = ۲ − ۴۶۰	☐ = ۱۰ − ۵۳۲
☐ = ۱ − ۶۸۰	☐ = ۲ − ۷۶۰	☐ = ۱۰ − ۷۳۲
☐ = ۱ − ۲۸۰	☐ = ۲ − ۳۶۰	☐ = ۱۰ − ۳۳۲
◯	◯	◯

دویم ورځپی درس	عنوان: د ښځو او ،دوو، د پاړو مخلوط مشقونه
خاکه ر2-31	

د شاګردانو/استاد مشغلې	درسی معاونات
۱- د استاد په توره تخته لیکل: 5 × 2 = ☐ 6 = x	توره تخته
2- په طالب علمانو د حلونو معلومول، په بکسونو کښې د هغوی لیکل (یعنې ،10، او ،3×2،) د طالب علمانو د هغه دواړو مساواتو موندل کوم چې په توره تخته لیکلے شویدی. پته لګول چې د صحیحو نتائجو دوه بکسونه یعنې د ،10، او ،3×2، بکسونه تورول یا رنګول غواړی. د طالب علمانو درېڅمه مشق پاڼې مطالعه کول؛ د مشق پاڼې په سرکښې د طالب علمانو د مشق دواړو مساواتو موندل	مشق پاڼه ر2-31-3
3- د استاد غوښتنه کول چې د مشق پاڼې په سرکښې د بنې کڅ په ړومبۍ وظیفه دې همدغه شان کار وکړے شی یعنې: 20 = ☐ × 5 ، د طالب علمانو د خالی بکس پوکول(،40،)، بیا عدد ،40، د مشق پاڼې په منځنۍ برخه کښې لټول، موندل ګې، د غه بکس تورول یا رنګول.	
4- د مشق پاڼې په سرکښې د کڅ کڅ ړومبے کار (یعنې 35 = x) په همدغه شان حلول (یعنې 7 × 5،)؛ د مشق پاڼې په منځنۍ برخه کښې متعلقه بکس تورول یا رنګول غواړی.	
5- طالب علمانو ته د استاد ښه لښته ورکول چې د مساواتو په مکملولو کار وکړی او د مشق پاڼې په منځنۍ برخه کښې متعلقه بکسونه ټول (رنګ) کړی.	
6- په آخر کښې د استاذ پوښتنه کول چې د بکسونو د تورولو نه مراد څه وُو؛ د طالب علمانو معلومول چې که چرې مشق پاڼه سمه مکمله کړے شی نو ټرک او ټریلر به څرګند په سټرګو ولیدل شی.	

که چرې دوخت د کموالی په وجه طالب علمان مشق پاڼه مکمله نه کړے شی نو د مشق پاڼې د مکملولو دپاره دې استاد طالب علمانو ته ښه ورځ د نوی درسی پلان د شروع کولو نه مخکښې وخت ورکړی.



ریاضی ـ دویم ټولګی	عنوان: 1000 پورې پۀ سلسلہ کښې د مکلو سلیزو سره د یو رقمی ، دوه رقمی او درې رقمی عددونو جمع
ل 2 ـ 50	

د استاد مشغلې	د شاګرد مشغلې	درسی معاونات
	ا۔ ذهنی تربیت : شمیر کول	
ـ بهلو بهلو طالب علمانو نه غوښتنه کول چې د یو یو پۀ قدم شمیر وکړی مثلاً د 420 نه 426 پورې ، د 760 نه 772 پورې ، د 910 نه 928 پورې	ـ وار پۀ وار شمیر کول ، د هر طالب علم یو، دوه یا درې عددونه وښل .	
ـ بهلو بهلو طالب علمانو نه غوښتنه کول چې دوه دوه پۀ قدمونو شمیر وکړی مثلاً د 350 نه 370 پورې ، د 600 نه 620 پورې ، د 890 نه 920 پورې	ـ د مخکښې پۀ شان وار پۀ وار عددونه وښل	
	2- د مکلو سلیزو سره د ا۔ ، ۔ 10 ۔ او 100 ۔ جمع	
ـ پۀ تورو تخته 600 + 1 = □ لیکل ؛ طالب علمانو نه غوښتنه کول چې د لوبود روپو شمیر لو پۀ ذریعه مساوات حل کړی (1)	ـ د سلو روپو شپږ نوټونه یا 500 او 100 روپۍ ښودل ، بیا د یو روپۍ یوبل نوټ ښودل ، پۀ تورو تخته خالی بکس کښې 601 ۔ لیکل	تورو تخته دلوبو 500 ، 100 ، 10 ، 5 ، 2 او 1 ۔ روپۍ
ـ د ورومبی مساوات نه لاندې لیکل : 600 + 10 = □ ؛ طالب علمانو نه بیا غوښتنه کول چې د لوبود روپو د استعمالو پۀ ذریعه مساوات حل کړی .	ـ د 100 روپو شپږ نوټونه بیا ښودل ، بیا د 10 روپو یوبل نوټ ښودل ، وښل : د شپږو سره چې لس جمع شی مساوی کیږی پۀ 610 ؛ پۀ تورو تخته پۀ خالی بکس کښې 610 لیکل	
ـ 600 + 100 = □ لیکل ؛ طالب علمانو ته وښل چې مساوات حل کړی .	ـ ورومبی د 100 روپو شپږ نوټونه یا د 500 او 100 روپو یو یو نوټ ښودل ، بیا د 100 روپو یوبل نوټ ښودل ، وښل 600 روپۍ جمع 100 روپۍ مساوی دے د 700 روپو ؛ پۀ تورو تخته بکس کښې 700 ۔ لیکل	
	3- مکلو سلیزو سره دیو رقمی ، دګډو دوه رقمی او دګډو درې رقمی عددونو جمع	
ـ پۀ تورو تخته لیکل : 400 + 5 = □ ؛ طالب علمانو نه غوښتنه کول چې د لوبود روپو د استعمالو لو پۀ ذریعه مساوات حل کړی	ـ ورومبی 500 روپۍ او بیا نورې 5 روپۍ ښودل ؛ نتیجه وښل یا ټې پۀ تورو تخته لیکل	تورو تخته دلوبو روپۍ
ـ د ورومبی مساوات نه لاندې لیکل : 400 + 15 = □ ؛ طالب علمانو نه غوښتنه کول چې همدغه شان عمل وکړی	ـ ورومبی 400 روپۍ ، بیا د 10 روپو یونوټ او د 5 روپو یوبل نوټ ښودل ؛ وښل : 400 + 15 = 415 ، پۀ تورو تخته 415 ۔ لیکل .	
ـ 400 + 115 = □ لیکل ، هم دغه شان د طالب علمانو نه غوښتنه کول	ـ ورومبی 400 روپۍ ، بیا یوبل د 100 روپو نوټ ، بیا د 10 روپو نوټ او بیا د 5 روپو یوبل نوټ ښودل ؛ وښل : 400 + 115 = 515 ، پۀ تورو تخته 515 ۔ لیکل	
	4- مکلو سلیزو سره دیو رقمی ، دوه رقمی او درې رقمی عددونو جمع مشق کول	
ـ طالب علمانو نه غوښتنه کول چې ورومبی مشق پانې ته ګوری ؛ پۀ کار بحث کول ؛ دوئ ته وښل چې ورومبے درې مساوات حل کړی ؛ پۀ طالب علمانو ګرځیدل ، د لوبو پۀ روپو استعمالو لو کښې ټې مدد کول	ـ پۀ کار ځان پوهول ؛ د لوبو د روپو پۀ ذریعه ورومبی درې مساوات حلول ؛ پۀ آخر کښې مساوات کلاسته لوستل ؛ یو طالب علم د کلاس مخته د لوبو روپو پۀ ذریعه د مساوات د حلو عملی مظاهره کوی .	مشق پانې ر 2-50-1 دلوبو روپۍ
ـ طالب علمانو ته بلنه ورکول چې د مشق پانې ټول مساوات مکمل کړی ؛ پۀ طالب علمانو ګرځیدل ، مدد ټې کول .	ـ د باقی جمع کولو پۀ ذریعه ټوله مشق پانه مکمل ؛ پۀ آخر کښې ټول مساوات کلاس ته لوستل .	

درسي پلان: ر2-50	ددې درسي پلان په باب څۀ نورې تبصرې

۱- ددې مشقونو مقصد دادے چې طالب علمان پوهیږي چې د هر قیمت بیاد ورسپې په هر قیمت او داسې نور نوټونه استعمالول زده کړي او مشق ئې وکړي نوټونه به په هغه ترتیب وي چې تراوسه معرفي شوی دی یعنې ۵۰۰ روپۍ ، ۱۰۰ روپۍ ، ۱۰ روپۍ ، ۵ روپۍ ، ۲ روپۍ ، ۱ روپۍ

استاذ ددې طالب علمانو ته ووایي چې کومې د لوړو روپۍ په پرتله سبقونو کښې استعمال شوې ددې مطلب یقیناً روپۍ وو ، خو اوس دا موږ د. تصویرونو ۔ په شکل کښې هم لیدے شو ، دا دا سې بڼکاره هند سې دی لکه: ۱۰۰ ، ۱۰ ، ۵ ، ۲ او ۱. ۔ چې عددونه بنیئ ، ۱۰۰ روپۍ ، ۱۰ روپۍ ، ۵ روپۍ ، ۲ روپۍ او ۱. ۔ روپۍ نۀ بنیئ .

2- دعدد 680 پراخ شکل عبارت دے له: 600 + 80 + 4 . څیر سو ته 600 پونتونه وپکلے شو ، اتیانه 80 پونتې وپکلے شو ، څلور ، 4 پونتې پاتې کیږی ؛ دا دغه عدد پراخ شکل دے .

ر۲ ۵۰ - ۱		
۴۰۰ + ۲ = ☐	۶۰۰ + ۱ = ☐	۳۰۰ + ۵ = ☐
۴۰۰ + ۱۲ = ☐	۶۰۰ + ۱۱ = ☐	۳۰۰ + ۱۵ = ☐
۴۰۰ + ۱۱۲ = ☐	۶۰۰ + ۱۱۱ = ☐	۳۰۰ + ۱۱۵ = ☐
۵۰۰ + ۶ = ☐	۸۰۰ + ۴ = ☐	۷۰۰ + ۸ = ☐
۵۰۰ + ۱۶ = ☐	۸۰۰ + ۱۴ = ☐	۷۰۰ + ۱۸ = ☐
۵۰۰ + ۱۱۶ = ☐	۸۰۰ + ۱۱۴ = ☐	۷۰۰ + ۱۱۸ = ☐

د پومبی وړپسې درس	عنوان: مکمل سلیزو سره دیورقمی ، دوه رقمی اودرې رقمی عددونو د جمع مشق کول
خاکه ر 2 - 50	

درسی معاونات	د شاگردانو / استاد مشغلې
	1- ذهنی تربیت اوتکرار د پاره استاذ دمختلف قسمه مساواتو غوښتنه کوی لکه: 6 + 400 = 90 + 800 ، 200 + 300 = اوداسې نور ؛ د ځانله ځانله طالب علمانو جواب ورکول
تخته	2- استاذ پۀ تخته لیکی: □ = 9 + 200 □ = 39 + 200 □ = 239 + 200
دلوبو پیسې	(الف) غوښتنه کول چې کوم طالب علم به دلوبو روپو سره دکلاس مخې ته راشی اود پومبی مساواتو دحلولو عملی مظاهره به وکړی (ب) یوطالب علم دغسې کوی ، نور دخپلو لوبو روپو سره هم ددې مشغلې تکرارکوی (ج) دباقی دوه سوالونو دحلولو د پاره هم دغه شان عمل کول
مشق پاڼه ر 2-50-2	3- استاذ د طالب علمانو نه غوښتنه کوی چې انډی وال سره یوځای ددوئمې مشق پاڼې پاسنۍ قطار کښې مساوات حل کړی ، دعدد د پاره دلوبو روپۍ استعمالول ؛
دلوبو پیسې	(الف) داستاذ پۀ تخته ټولې نتیجې لیکل ، د طالب علمانو دخپلو نتیجو چک کول ؛ (ب) داستاذ چک کول چې کوم طالب علم ته د مساوات حل کولو د پاره د مدد ضرورت دے .
	4- داستاذ غوښتنه کول چې د مشق پاڼې پۀ لاندینی قطار کښې سوالونه حل کړی ؛ (الف) خاص طور سره د هغو طالب علمانو مدد کول چې د سوال د پومبی برخې حلولو کښې مشکلات لری ، (ب) پۀ آخر کښې داستاذ پۀ تخته نتیجې د چک کولو د پاره بیا لیکل .

ر ۲ | ۵۰ — ۲

۲۰۰ + ٦ = [ ]	۵۰۰ + ۲ = [ ]	۸۰۰ + ۹ = [ ]
۲۰۰ + ۳٦ = [ ]	۵۰۰ + ٦۲ = [ ]	۸۰۰ + ۴۹ = [ ]
۲۰۰ + ۱۳٦ = [ ]	۵۰۰ + ۳٦۲ = [ ]	۸۰۰ + ۱۴۹ = [ ]
٦۰۰ + ۸ = [ ]	۷۰۰ + ۴ = [ ]	۱۰۰ + ۷ = [ ]
٦۰۰ + ۵۸ = [ ]	۷۰۰ + ۲۴ = [ ]	۱۰۰ + ۹۷ = [ ]
٦۰۰ + ۳۵۸ = [ ]	۷۰۰ + ۲۲۴ = [ ]	۱۰۰ + ۸۹۷ = [ ]

دوئیم وړپی درس	عنوان: په درې قدمونو کښې مکمل سلیزو سره د درې رقمی عددونو جمع
خاکه ۵۰-۲ ر	

د شاګردانو/استاد مشغلې	درسی معاونات
1- د استاد په توره تخته لیکل: $84 = \boxed{80} + \boxed{4}$ ؛ (د 50 درسی پلان دوئمه تبصره وګورئ!) (الف) استاذ تشریح کول چې په لسیزو او یونټونو کښې د 84 عدد دلیکلو دې طریقې ته پراخه شکل ویلے شی ؛ (ب) استاذ د طالب علمانو نه غوښتنه کول چې نور مثلاً 39 = + پراخه شکل کښې ولیکی . (ج) د طالب علمانو په لسیزو (30) او یونټونو (9) کښې ۳۹ لیکل (د) په نورو عددونو په همدغه طریقه جاری ساتل مثلاً 95 ، 57 ،	توره تخته
2- په توره تخته لیکل: $234 = \square + \square + \square$ ؛ (الف) غوښتنه کول چې دلوبو د روبو داستعمالولو په ذریعه داعدد په پراخه شکل کښې خټکه لیکلے شی ، بحث کول ، د $200 + 300 + 4$ دلیکلو تجویز وړاندې کول ؛ (ب) استاذ هم داسې کول ، د طالب علمانو وئیل چې دا عدد په پراخه شکل یعنې سلیزو (200) ، لسیزو (30) او یونټونو (4) کښې لیکلے شوے دے .	دلوبو پیسې
3- د درېیمې مشق پاڼې پاسنۍ برخه کنټل ؛ په کارځان پوهول ، معلومول چې کوم عددونه شوېدلے شوی دی ، دا په قدمونو کښې لیکل ، دا په قدمونو کښې جمع کول	مشق پاڼه ر 2-50-3 (پاسنۍ برخه)
4- استاذ تشریح کول چې عددونه په پراخه شکل یعنې سلیزو ، لسیزو او یونټونو کښې لیکل به د جمع ګڼلو سوالونو حل کولو کښې مدد وکړی ؛ په توره تخته لیکل ، $= 235 + 200$ . . . . . . $\square = \square + 200$ $\square = \square + \square$ $\square = \square + \square$ (الف) استاذ غوښتنه کول چې په دې ډول سره کوم سلیزو ، بیا کوم لسیزو او په آخر کښې کوم یونټونه جمع کول پکار دی ، (ب) د طالب علمانو د حلونو د معلومولو کوشش کول ؛ لیکل : $= 235 + 200$ $\boxed{400} = \boxed{200} + 200$ $\boxed{430} = \boxed{30} + \boxed{400}$ $\boxed{435} = \boxed{5} + \boxed{430}$ (ج) استاذ یوه بله کرښه جمع کول : $435 = 235 + 200$	توره تخته
5- د درېیمې مشق پاڼې د لاندینۍ برخې پرومبی سوال نه کنټل ؛ په کارځان پوهول ؛ خالی بکسونه ډکول ؛ (الف) استاذ د ځانه طالب علم مدد کول ، (ب) د طالب علمانو نتیجې کلاسته لوستل ، د نتیجو په بکسونو کښې ټک کول	مشق پاڼه ر 2-50-3 (لاندینۍ برخه)
6- د باقی سوالونو همدغه شان یو بل پې حساب کول .	



عنوان: 1000 پورې کډو وړو دوه رقمي عددونو سره دسلیزو اولسیزو جمع

د استاد مشغلې	د شاګرد مشغلې	درسي معاونات
	1- ذهني مشق : دمکملو لسیزو جمع	
- د سوالونو یوه جوړه ورکول لکه : $\square = 60 + 20$ ، $\square = 60 + 320$ ؛ که ممکن وی نوپه ډ نوره تخته د لیکلو نه بغیر (1)	- یو بل پسې د دواړو سوالونو نتیجې معلومول ؛ دواړه مساوات خوځلنه تکرارول .	
- د سوالونو داشان جوړې ورکول مثلاً : $\square = 30 + 40$ ، $\square = 440 + 30$ ، $\square = 370 + 20$ ، $\square = 20 + 70$	- د دواړو سوالونو یوبل پسې نتیجې وئېل؛ وېښ طالب علمان ټې تکرارکوی .	
	2- پهٔ دووقدمونو کښې کډو وړو دوه رقمي عددونو جمع	
- دوهمې قدم نه یو سوال پهٔ نوره تخته لیکل مثلاً : $\square = 20 + 370$	- د دې سوال نتیجه وئېل ، نتیجه (390) ټې پهٔ خالي بکس کښې لیکل .	نوره تخته
- لاندې لیکل : $\square = 27 + 370$ ؛ غوښتنه کول چې خوک نتیجه معلوموی شي (2)	- طالب علمان ټې پخپله طریقه نتیجه معلوموی .	
- غوښتنه کول چې دا سوال قدم پهٔ قدم تشریح کړي (3)	- معلومول چې دا سوال د مخکښنی سوال پهٔ شان دے ؛ خو دې سره یو بل قدم هم دے : وېښے 20 او بیا 7 جمع کول .	
- متعلقه خاکه پهٔ نوره تخته جوړول :	- د بکسونو پهٔ ډکولو پخ کول ، د داسې لیکلو تجویز وړاندې کول :	نوره تخته

$$\begin{array}{r} 27 + 370 \\ \hline \square + \square = \square \\ \square + \square = \square \\ \hline 27 + 370 = \square \end{array}$$

غوښتنه کول چې دا به مناسبو قدمونو سره څنګه ډکولے شي (4)

$$\begin{array}{rcl} 27 + 370 & & \\ \hline 370 + 20 & = & 390 \\ 390 + 7 & = & 397 \\ \hline 370 + 27 & = & 397 \end{array}$$

	3- پهٔ نوره تخته د نورو مثالونو مشق کول	
- پهٔ نوره تخته هم د هغه جوړې شوې خاکې پهٔ مدد سره یو یا دوه نور مثالونه ورکول چې پهٔ قدمونو کښې ټې حل کړي مثلاً $410 + 84 =$ ، $830 + 62 =$	- طالب علمان وار پهٔ وار د سوالونو نتیجې معلوموی ، د هر طالب علم صرف یوه کړنه مکمل ؛ د نورو مشاهده کول ، چک کول ، که ضرورت وو اصلاح ټې کول .	نوره تخته
	4- څانله څانله د کډو وړو دوه رقمي عددونو د جمع مشق کول	
- طالب علمانو نه غوښتنه کول چې وهمې مشق پاڼې نه وګوري ، او پهٔ سر کښې ټې وهمې مثال مکمل کړي .	- دکار مکمل ، وهمې حساب کول ، بیا ټې د مشق پاڼې پهٔ خالي بکسونو کښې لیکل ؛ د نتیجې پهٔ بکس کښې نتیجه چرخې کول .	مشق پاڼه ر2-51-1
- طالب علمانو نه وئېل چې یوانې پوال سره کار جاري وساتي .	- پهٔ مشق پاڼه کښې باقي سوالونه مکمل ول ، نتیجې چک کول ، پهٔ اخر کښې ټول سوالونه کلاس نه لوستل .	

درسی پلان: ر 2-51	ددې درسی پلان په باب څه نورې تبصرې

(1) ددې ذهنی مشق په دوران کښې استاذ له ددې خیال ساتل پکار دی چې کله دوه عددونه جمع کوی نو چې د مکملو سلیزونه وانۀ وړی ؛ دې سره سره ځانله د جوړو کارونه دې یو بل پسې په مزه مزه ورکولے شی .

(2) که طالب علمانو پخپله نتیجې معلومې نۀ کړې ، استاذ دې ئې مدد وکړی مثلاً هغه مشق دې ورپه یاد کړی چې اوس اوس ختم شوے دے

(370 + 20 = □) . ماشومان به ئې وپېژنی چې دا د نوی کار پو مې قدم دے .

(3) طالب علمانو اکثر داسې سوالونه ورکوی نو عددونو سره کړی دی . که ضرورت وو نو استاذ دې ورته دا تېر مشق ور په یاد کړی .

(4) که طالب علمانو د 370 + 7 = □ ، بیا د 377 + 20 = □ حساب کول شروع کړل ، هغه دې دا په اسانه رد کوی نۀ ، ځکه چې دا هم صحیح دے . خو هغه دې ورته وښئی چې د 370 + 20 = □ ، بیا د 370 + 7 = □ دواړو جمع د مکملو لسیزو نه شروع کیږی او په دې وجه کول ئې اسان دی .



د ورځې وړاندې درس	عنوان: پهٔ دوه قدمونو کښې د دوه رقمی عددونو سره جمع
خاکه ر 2-51	

د شاګردانو/استاد مشغلې	درسی معاونات
1- ذهنی تربیت: د مکملو لسیزو سره د یو رقمی عددونو جمع؛ مثلاً 420 + 8 = ، 680 + 7 = اوداسې نور.	
2- د استاد پهٔ توره تخته لیکل مثلاً: 28 + 260 = 260 + = ؛	توره تخته
(الف) د طالب علمانو یوځای حساب کول، هغه ټول عددونه وټل چې پهٔ خالی بکسونو او پهٔ سوری کړې شوؤ بکسونو کښې به لیکلے شی؛ (ب) صرف پهٔ خالی بکسونو کښې لیکل، د هغوعددونو نومونه اخیستل چې پهٔ سوری کړې شوو بکسونو کښې لیکلے کیدے شی.	
3- د همدغه شان مثال پهٔ توره تخته مشق کول مثلاً 510 + 83 =	
4- د دویمې مشق پاڼې پاسنه برخه د یو انډیوال سره یوځای مکملول. (الف) د استاذ د ځانله ځانله طالب علم سره مدد کول. (ب) د چک کولو دپاره نتیجې کلاس ته لوستل.	مشق پاڼه ر2-51-2 (پاسنه برخه)
5- د استاذ طالب علمانو ته پلنه ورکول چې د مشق پاڼې لاندینۍ برخې نه وګوری (الف) د دوی نه غوښتنه کول چې د صحیح عددونو اود رومبی مثال د 5 نمبر د نتیجې د معلومولو کوشش وکړی. (ب) دا پیا پهٔ توره تخته لیکل.	مشق پاڼه ر2-51-2 (لاندینۍ برخه) توره تخته
6- د طالب علمانو د مشق پاڼې با قی کارونه ځانله ځانله مکملول؛ (کومو طالب علمانو ته چې پهٔ لنډه طریقه حساب کول ګران دی هغوی ته دې د اوږدې طریقې د کولو اجازت ورکړے شی، پخپلو سلیټونو لیکل)	سلیټونه



دویم ورپسې درس	عنوان: د سلیزو د اړولو نه بغیر 1000 پورې د درې رقمي عددونو جمع
خاکه ر2-51	

د شاګردانو/استاد مشغلې	درسي معاونات
1- ذهني تربیت: پهٔ سلیزو، لسیزو او یونټونو کښې د 437 ~ پراخ شکل ورکول، مثلاً: 437 = 400 + 30 + 7 ، 395 = 300 + 90 + ... ، 841 =	تور تخته
2- پهٔ دوه قدمونو کښې 1000 پورې د دوه رقمي عددونو او د مکمل لسیزو د جمع تکرار؛ د استاذ پهٔ تور تخته لیکل/ جوړول مثلاً: 53 + 240 = 50 + 240 = + = 53 + 240 د طالب علمانو پوځای قدم پهٔ قدم حساب کول؛ د یو طالب علم پهٔ خالی بکسونو کښې لیکل.	تور تخته
3- د استاذ پهٔ تور تخته لیکل مثلاً: 240 + 353 = ؟ (الف) د طالب علمانو نه غوښتنه کول چې د سوال د حلولو دپاره یوه مناسبه طریقه معلومه کړي (که ضرورت وو طالب علمانو ته ور پهٔ یاد کول چې دوی داسې سوالونه لکه 260 + 28 = څنګه قدم پهٔ قدم حساب کړي وو. (ب) د طالب علمانو ددې سوال پهٔ مناسبو طریقو پهٔ حلولو بحث کول؛ کیدے شي چې دوی پهٔ درې قدمونو کښې ددې د حساب کولو ترتیب ورپاندې کړي: لومړے 300، بیا 50، بیا 3 جمع کول.	تور تخته
4- د استاذ پهٔ تور تخته متعلقه خاکې جوړول (الف) د طالب علمانو پوځای حساب کول. (ب) پهٔ خالی بکسونو کښې لیکل: 350 + 240 = 540 = 300 + 240 ، 590 = 50 + 540 ، 593 = 3 + 590 = 353 + 240	تور تخته
5- درېیمې مشق پاڼې ته کتل؛ پاسنۍ مثال لوستل/ ځان پرې پوهول (الف) ټول سوالونه دوو-دیا درېو طالب علمانو پهٔ ګروپونو کښې حساب کول؛ بکسونه قدم پهٔ قدم ډکول. (ب) د هر سوال نتیجې د مشق پاڼې پهٔ اخر کښې ګڅ اړخ ته پهٔ متعلقه کرښو تور کړے شوی د نتیجې بکس کښې لیکل؛ (ج) ټول حسابونه کلاس ته لوستل، چک کول، اصلاح ټې کول.	مشق پاڼه ر2-51 - 3



ریاضی ـ دیئم ټولګی	عنوان: د دوه، دوه رقمي عددونو او د دوه درې رقمي عددونو جمع د اړولونه بغیر، په کالمونو (ستونونو) کښې حسابول	ر 2 ـ 52

د استاد مشغلې	د شاګرد مشغلې	درسي معاونات
	۱- د دوه رقمي او درې رقمي عددونو پراخ شکل	
ـ پۀ توره تخته لیکل: 69 = + ، غوښته کول چې د غه عدد پۀ پراخ (تفصیلي) شکل سره ولیکي (پۀ لسیزه او یونټونو کښې)	ـ بحث کول، معلومول چې عدد "69" د 60 او 9 پۀ پراخ شکل لیکلے کیدے شی، او ښودل چې پۀ دې کښې 6 لسیزه او 9 یونټونه دی.	
ـ پۀ توره تخته عدد "28" لیکل، طالب علمانو ته وښودل چې د اعدد پۀ تفصیلي شکل کښې ولیکي	ـ همدغه شان وښودل چې عدد "28" داسې لیکلے کیزی: 20 او 8 دوه لسیزه او 8 یونټونه لري.	
ـ پۀ توره تخته یو درې رقمي عدد لیکل مثلاً 341؛ طالب علمانو ته وښودل چې د اعدد پۀ تفصیلي شکل کښې ولیکي	ـ بحث کول، وښودل چې د ا حل کښې سلیزه، لسیزه او یونټونه دی نو "341" داسې لیکلے کیدے شي: 300 + 40 + 1 یعنې درې سلیزه، خلور لسیزه او یو یونټ.	
ـ پۀ نورو عددونو هم همدغه شان مشق کول مثلاً 572، 197، ...	ـ د اعدد پۀ تفصیلي اشکالو (سلیزو، لسیزو او یونټونو) کښې لیکل.	
	2- پۀ کالمونو کښې دوه رقمي عددونو جمع (۱)	توره تخته
ـ طالب علمانو ته دغه عددونو جمع او تفریق د پۀ زړۀ کول چې د ا پۀ کالمونو کښې پۀ ځکښې کړي وو. پۀ توره تخته لیکل: 37 + 52؛ پۀ خوکښې کالمونه جوړول	ـ د حسابولو دغه شکل د پۀ زړۀ کول، دغه عددونه پۀ کالمونو کښې لیکل؛ وښودل: 7 یونټونه جمع 2 یونټونه مساوي کیزی پۀ 9 یونټونو سره، د "9" لیکل)، 3 لسیزه جمع 5 لسیزه مساوي کیزی پۀ 8 لسیزونو؛ ("8" لیکل)	
	3- پۀ کالمونو کښې د درې رقمي عددونو جمع	
ـ پۀ توره تخته لیکل: 315 + 463؛ د طالب علمانو نه پوښتنه کول چې د ا سوال د کالمونو پۀ ذریعه څنګه حلیدے شی (2)؛ که ضرورت وو مدد کول	ـ بحث کول، وښودل چې سلیزه، لسیزه او یونټونه دی او د دې د پاره اوس درې کالمونو ته ضرورت دے، پۀ توره تخته درې کالمونه جوړول، یوه سلیزو بل د لسیزو او یو کالم د یونټونو د پاره د مثبت (+) نښه بنې اړخ ته کول	توره تخته
ـ بلنه ورکول چې پۀ کالمونو کښې د درې سوال محاسبه وکړي او څۀ چې دوی کوی هغه بیا کړي.	ـ دغه دوه عددونه پۀ کالمونو کښې لیکل، هر ځل بیا نول چې د غه عدد کښې څو سلیزه، څو لسیزه او څو یونټونه دی؛ پۀ کالمونو کښې جمع کول، وښودل: 5 یونټه جمع درې یونټه مساوي کیزی پۀ 8 یونټه، یو لسیز جمع 6 لسیزه مساوي پۀ 7 لسیزه، درې سلیزه جمع 4 سلیزه مساوي کیزی پۀ 7 سلیزه؛ لیکل:	
ـ پۀ نورو عددونو سره دغه مشق تکرارول مثلاً پۀ عددونو 254 + 632 (3)	ـ درې کالمونه بیا جوړول؛ عددونه پۀ کښې لیکل؛ پۀ کالمونو کښې د جمع کولو پۀ وخت جمع کول / تشریح کول	
	4- پۀ ځانله ځانله د جمع مشق پۀ کالمونو کښې کول	
ـ طالب علمانو ته وښودل چې په ومبۍ مشق پانه مطالعه کړي	ـ مثال کلاسته لوستل؛ پۀ کار ځان پوهول	مشق پانه ر 2-52
ـ طالب علمانو ته وښودل چې مشق پانه پوره سوالونه حل کړي.	ـ ځانله ځانله مشق پانه مکمل؛ پۀ آخر کښې مکمل کړې شوې محاسبې کلاسته لوستل	

درسی پلان: د 2-52	ددې درسی پلان په باب څه نورې تبصرې

(1) ددې پوړ حساب کولو سره طالب علمان دېرومبی ټولګی په 58 درسی پلان کښې اشنا کړے شوی دی. بیا ئې ددویم ټولګی په 23 نمبر درسی پلان کښې هم مشق کړے دے.

(2) طالب علمان به اوس کالمونه پخپله جوړولے شی

(3) کله چې طالب علمان نور سوالونه وائی، استاذ به دې ته توجه کوی چې اړولوته ضرورت نشته.



ریاضی ـ دویم ټولګی	عنوان: د دوه دپاړې (ضرب زبان) نه د ضرب دوه رقمونه جمع کول
ل 2 - 32	

د استاد مشغلې	د شاګرد مشغلې	درسي معاونات
	۱ـ معلومول چې د دوه دپاړې (ضرب زبان) نه رقمونه څنګه جمع کړو	
ـ پۀ تور تخته ـ 2×4 ـ لیکل ، یوځو ماشومانو ته وټیل چې هم دغه شان دکلاس مخې ته پۀ ترتیب ودریږي.	ـ بحث کول چې دکلاس مخې ته د ماشومانو څنګه ودریدل پکار دی ؛ د ماشومانو څلور جوړې ترتیبول ، یوه جوړه بلې سره خوا کښې (1)	تور تخته
ـ 3×2 ـ لیکل (4×2 سره خوا کښې) ، د هم دغه شان عمل کولو غوښتنه کول .	ـ د جماعت د کمرې مخې ته یله خوا کښې د ماشومانو درې جوړې ترتیبول.	
ـ غوښتنه کول چې څوک دا څنګه معلومولی شي چې دکلاس مخې ته یوځای ټول څومره ماشومان ولاړ دی ؛ د نورو د پرومکنا تو پۀ حقله پوښتنه کول ؛ تعریف کول او اړګیرنه ورکول .	ـ بحث کول ، تجویز ورکول چې مثلاً د ټولو ماشومانو یوبل پسې شمارل یا حساب کول :	
ـ د مناسب قسمه مشغلو د معلومولو اود دې د لیکلو د طریقې رهنمائی کول (2)	8 = 2×4 6 = 2×3 14 = 6 + 8	
	ـ د مشغلې معلومول (یعنې د ماشومانو دوارې ګروپونه 8 یوځای کول) او دا بنودل چې د دوی د مشغلې طریقه څنګه بیان کړے شي او ولیکلے شي . لیکل یعنې :	
	2×4 + 2×3 = 2×7	
	2×7 = 14	
	2ـ د مشغلې دیو بل مثال مشق کول	
ـ مثلاً 2×2 + 2×7 لیکل ؛ د هم دغه شان عمل کولو غوښتنه کول .	ـ دکلاس یوې خوا ته د دوو جوړو د ماشومانو ودریدل ، د 7 جوړو بلې خوا ته ودریدل ؛ بیا د دواړو یوځای کېدل چې د 9 جوړو یوګروپ جوړشي .	
ـ څۀ چې وشول د هغې د بیانولو غوښتنه کول ، او دا د هندسو اوعلاماتو پۀ ذریعه پۀ تور تخته لیکل .	ـ د عددي قیمې بیانول ؛ پۀ تور تخته لیکل :	
	2×2 + 2×7 = 2×9	
	2×9 = 18	
	3ـ درسمویږ پۀ ذریعه د رقمونو د جمع کولو مشق کول	
ـ پۀ تور تخته دا جوړول ـ	ـ وټیل چې دغه دوه ګروپونه یوځای کول پکار دی ؛ دا پۀ تور تخته جوړول :	تور تخته
ـ د نقطو نه د طالب علمانو د جوړو مطلب اخیستل ؛ غوښتنه کول چې د ماشومانو د ټول شمېر د معلومولو دپاره څۀ کول پکار دی ؛ مرسته کول.	ـ پۀ تور تخته لیکل :	
	3×2 + 5×2 = 8×2	
	8×2 = 16	
ـ پوښتنه مشق پاڼې ته د کتلو غوښتنه کول ؛ پۀ کار د پوهولو دپاره مرسته کول (3) ؛ ځانله ځانله د کارورکول ؛ مرسته کول ، چک کول.	ـ پۀ کار ځان پوهول (یعنې د مشق پاڼې پۀ منځنۍ برخه کښې د نقطو یوځای کړے شوی ګروپونه جوړول .	مشق پاڼه ر2-32-1

د ډومبې وړپې درس	عنوان : پۀ کالمونو کښې بغیر د اړولو د درې رقمی عددونو د جمع مشق کول
خاکه ر 2 - 52	

د شاګردانو / استاد مشغلې	درسی معاونات

1- ذهنی مشق ، پۀ درې رقمی عددونو کښې سلیز ، لسیز او یونټونه معلومول مثلاً 428 مساوی کیږی پۀ 4 سلیزو ، 2 لسیزو او 8 یونټونو .

2- داستاد پۀ توره تخته د روپو دوه مقدارونه جوړول :



توره تخته

(الف) د طالب علمانو نه غوښتنه کول چې دا دوه مقدارونه علیحده علیحده حساب کړي .

(ب) د طالب علمانو د دغو دوو مقدارونو لیکل ر پۀ کالمونو کښې د نوټونو خوا کښې) ؛ د یونټونو جمع (5 + 2 = 7) او د لسیزو جمع (6 + 1 = 7) او د سلیزو جمع (6 + 3 = 9) تشریح کول

(ج) کلاسته د مکمې محاسبې لوستل (چې حاصل یې 977 دے)

3- دویمې مشق پانې ته کتل : پۀ کارځان پوهول

(الف) د هرسوال د پاره د بینک نوټونو د غه دوه مقدارونه پۀ بنډاګ کښې ایښ کښې پۀ مقرره ځایونو کښې لیکل

(ب) د غه مقدارونه پۀ کالمونو کښې لیکل

(ج) د غه دوه مقدارونه جمع کول ، د استاد چک کول ، اصلاح کول

(د) نتیجې کلاسته لوستل ، د نتیجو پۀ بکس کښې نتیجې پټک کول .

توره تخته
مشق پانه
ر 2 - 52 - 2



دوئیم وړپسې درس	عنوان: پۀ کالمونو کښې د درې رقمی عددونو جمع، یوساده شکل استعمالول، نتیجې قیاس کول.
خاکه ر 2 - 52	

د شاګردانو/استاد مشغلې	درسی معاونات
۱- د استاد پۀ توره تخته لیکل: 234 + 533 = □ (الف) د طالب علمانو نه پوښتنه کول چې د دې سوال محاسبه څنګه کیږی. (ب) طالب علمان پۀ توره تخته د درې کالمونه جوړول، عددونه پۀ کالمونو کښې جمع کول، قدمونه ئې بیانول. 2- د استاد د ټبل چې کالمونو خاکې ورانول کیدے شی خو عددونه به د اسې پۀ غور سره لیکلے کیږی چې یونټونه بالکل د یونټونو لاندې، لسیزه د لسیزو لاندې او سلیزه د سلیزو لاندې راشی، پۀ توره تخته ئې پۀ غور سره عملی مظاهره کول (لکه څنګه چې د درېمې مشق بانډې پۀ سرکښې لیدلے کیږی) 3- د درېمې مشق بانډې پۀ سرکښې مثال نه کتل. (الف) طالب علمان د وېمے دغه کار پۀ کالمونو کښې حسابول (ب) پۀ غیر د کالمونو نه ئې استعمالول (ج) ټول رقمونه پخپلو خاصو ځایونو کښې پۀ غور سره لیکل (د) د استاد چک کول. 4- د استاد تشریح کول چې د مشق بانډې پۀ لاندینۍ برخه کښې څۀ کول پۀ کار دی؛ د مشق بانډې د بنی اړخ ټولې نتیجې به پۀ کچ اړخ هم وی. (الف) طالب علمان قیاس کوی چې د بنی اړخ کومه نتیجه د کچ اړخ د یوې نتیجې سره سمون خوری (ب) د یوې کرښې پۀ ذریعه ئې سره تړل (یا به محاسبه کوی. پۀ دې طریقه به د وی نه د خپل صحیح او غلط قیاس پته ولګی) (ج) طالب علمان پۀ دوه دوه یا درې درې کسه کار کوی.	توره تخته مشق بانډه ر 2 - 52 - ج (پاسنۍ خوا) مشق بانډه ر 2 - 52 - ج (لاندینۍ خوا)



ریاضی ـ دویم ټولګی	عنوان: د سلیزو دا پولو نه بغیر 1000 پورې د عددونونه ډکولو او د وه رقمی عددونو تفریق.
ل 2 ـ 53	

د استاد مشغلې	د شاګرد مشغلې	درسی معاونات
ـ طالب علمانو ته زیاف د سوالونو یوه جوړه ورکول (1) مثلاً 80 - 30 = 480 - 30 = ـ طالب علمانو ته هم د دغسې جوړو نورو سوالونه ورکول ، مثلاً 60 - 20 = 160 - 20 = 90 - 50 = 490 - 50 = 70 - 60 = 870 - 60 =	1- ذهنی مشق : د مکملولسیزو تفریق ـ دوارو سوالونه یوځای حل کول ، دوارو مساوات خو ځله تکرارول ـ سوالونه د محکمې پۀ شان حل کول ، دبلې جوړې د حسابولونه محکمې د وارو مساوات خو ځله تکرارول	
ـ کوم سوال چې طالب علمانو محکمې حل کړے دے هغه پۀ تورو تختـه لیکل ، مثلاً 870 - 60 = ☐ ـ د پرومبی مساوات نه لاندې لیکل : 870 - 64 = ☐ غوښتنه کول چې خوک به ډۀ نتیجه معلومه کړي (2) ـ طالب علمانو نه غوښتنه کول چې د دې سوال د حل کولو د پاره دوئ کوم قدمونه اخیستی دی ـ پۀ تورو تختـه متعلقه جدول جوړول : 64 - 870 ☐ = ☐ - ☐ ☐ = ☐ - ☐ 870 - 64 = د جدول د پوکولو غوښتنه کول	2- دوه قدمونو کې ډکولو د وه رقمی عددونو تفریق ـ سوال بیا حل کول ، نتیجه ځـ پۀ خالی بکس کې لیکل ـ د طالب علمانو بحث کول ، د سوال د حل کولو طریقه معلومول ، نتیجه « 806 » معلومول ـ وښل چې محکمې سوال پۀ نسبت دلته یو قدم زیات دے ؛ د وېمے قدم 60 تفریق کول دی ، دویم قدم 4 تفریق کول دی . ـ د جدول پۀ مکملولو بحث کول ، تجویز ورکول ، لیکل : 64 - 870 870 - 60 = 810 810 - 4 = 806 806 = 64 - 870	تورو تختـه
ـ طالب علمانو ته وښل چې پۀ تورو تختـه هم دغه شان یوځو نور سوالونه حل کړي مثلاً : 33 - 450 = ☐ ، 65 - 690 = ☐	3- پۀ تورو تختـه دنورو مثالونو مشق کول ـ سوالونه پۀ تورو تختـه یوځای حل کول ، وار پۀ وار د هر یو ماشوم پۀ ورکړے شوی جدول کې یو کرښـه لیکل	تورو تختـه
ـ طالب علمانو ته وښل چې د پرومبی مشق پاڼې پاسنی برخـه ډکوري ـ طالب علمانو نه غوښتنه کول چې باقی سوالونه مکمل کړي ، پۀ دوه دوه کسه یا درې درې کسه کار کول .	4- ځانله ځانله د دوه رقمی عددونو تفریق مشق کول ـ حساب کول ، غیب عددونه معلومول ، هم دغه شان ځـ د خپلو مشق پاڼـو پۀ بکسونو کې لیکل ـ باقی حسابونه مکمل ، د چک کولو د پاره د نتیجې پۀ بکس کې نتیجې ټک کول ، پۀ آخر کې نتیجې ټول حسابونـه پۀ مکمل ډول کلاس تـه لوسـتـل .	مشق پاڼه ر 2-53-1

درسي پلان: د 2 - 53	ددې درسي پلان پۀ باب څۀ نورې تبصرې

(1) استاذ دې پدې یو سوال اوځۀ ساعت پس دې بل سوال دوکړي - بیادې هغه دواړه سوالونه یوبیادوۀ ځله تکرارکړي ، دې نه پس دې دواړه سوالونه پۀ طالب علمانو حل کړي - پۀ دې طریقه به طالب علمانوته معلومه شي چې دواړه مساوات دیوبل پۀ شان دی اونتیجې ئې هم دیوبل پۀ شان دی - استاذ دې صرف دآخرې کوشش پۀ طور د سوالونو جوړې پۀ توره تخته ولیکي .

(2) دحل پۀ معلومولو کښې د طالب علمانو د مدد کولو د پاره دې استاذ د مخکینی سوال یعنی 870 - 60 = حواله ورکړي .

که چرې طالب علمانوته پۀ نتیجې معلومولو کښې مشکل وی ، نواستاذ دې پخپله نتیجه نه بنئ . ددې پۀ ځای دې هغه ددوئ د نتیجې پخپله معلومولوکښې مدد وکړي ، یعنې سوال 870 - 60 = (چې دوئ ئې حل کولے شی) اوسوال 870 - 64 = (چې هم دغه شان دے) پۀ منځ کښې فرق ته دا شارې کولو پۀ ذریعه .



د ړومبۍ وړښې درس	عنوان : د سلیزو دا پرولو نه بغیر د دوه رقمی عددونو د تفریق اسانول
خاکه د2-53	

د شاګردانو / استاد مشغلې	درسی معاونات
۱- ذهنی مشق ، د مکلو لسیزو نه د یور قمی عددونو تفریق مثلاً 730 - 3 = ، 460 - 9 = ، او داسې نور	
2- د استاذ په توره تخته جوړول / لیکل مثلاً دوه بکسونه سوری کول : 42 = 450 - ▨ = □ - 450 ▨ = □ - □ (الف، د طالب علمانو په یوځای حساب کول ، په خالی بکسونو کښې لیکلو د پاره ټول عددونه او هغه عددونه چې سوری کړې شوی بکسونو سره تعلق لری وښیل ؛ (ب، خالی بکسونه ډکول	توره تخته
3- د یو بل مثال په توره تخته مشق کول مثلاً 660 - 38 =	توره تخته
4- د دویمې مشق پانړې په پاسنی برخه کښې سوال حل کول ، د طالب علمانو په دوه دوه کسه یا درې درې کسه کار کول ؛ (الف، د استاذ د بل بل طالب علم مدد کول ؛ (ب، د طالب علمانو په آخر کښې نیټې د چک کولو د پاره کلاسته لوستل ؛ (ج، هغه عددونه وښیل چې سوری کړې شوی بکسونو سره ځای تعلق لری	مشق پانړه د2-53-2 (پاسنۍ برخه)
5- په یوځای د مشق پانړې د لاندینی برخې د دې سوال (یعنې 5 نمبر) حسابول : 620 - 13 = 10 - 3 = 607 (الف، په متعلقه بکسونو کښې لیکل ،ب، مکمل حساب په توره تخته هم لیکل	مشق پانړه د2-53-2 (لاندینی برخه) توره تخته
6- د طالب علمانو د مشق پانړې د باقی سوالونو حلول. (که طالب علمانو ته په دې طریقه حسابولو کښې مشکلات وی نو د دې د اړوند په اوزده طریقه څېړلو سلیټونو او بیا د دې په مشق پانړه کښې وکړی)	سلیټونه



دوئیم وړپسې درس	عنوان: دسلیزونه بنیر دا پولو 1000 پورې عددونونه دګډو وو پو درې رقمي عددونو تفریق
خاکه 53-2ل	

د شاګردانو/استاد مشغلې	درسي معاونات
1- ذهني مشق، سلیزونه بنیر دا پولو 1000 پورې مکلوسیزو سره د درې رقمي عددونونه د مکلو سیزو تفریق مثلاً 360 = 40 - 400 ، 490 = 70 - 560 ، 820 = 20 - 840 اوداسې نور	
2- ددوه رقمي عددونو د تفریق تکرارول، داستاد پۀ توره تخته جوړول ر لیکل:	توره تخته
34 - 350 □ = □ - □ □ = □ - □ □ = 34 - 350	
د طالب علمانو وار پۀ وار د سوال کېدنه پۀ کرښه حلول	
3- داستاد پۀ توره تخته لیکل مثلاً - 135 ؛ (الف) طالب علمانو نه غوښتنه کول چې دې داسې طریقه معلومه کړي چې دا سوال پۀ توره تخته قدم پۀ قدم حل کړي ؛ (ب) د طالب علمانو بحث کول، معلومول چې د دې ډول قد مونو ضرورت دے : پو ښتنې 100، بیا 30، بیا 5 تفریق کول (ج) د ضرورت پۀ وخت داستاد مدد کول	
4- داستاد پۀ توره تخته متعلقه جوړ بښت جوړول، د طالب علمانو پوځای حسابول، خالي بکسونه ډکول:	
135 - 480 380 = 100 - 480 350 = 30 - 380 345 = 5 - 350 345 = 135 - 480	
5- دریمې مشق پانې ته کتل؛ (الف) د مشق پانې پۀ سرکښې پۀ مثال ځان پوهول ر مثال لوستل؛ (ب) انډیوال سره پوځای د مشق پانې ټول سوالونه حلول؛ (ج) د مشق پانې پۀ آخرکښې پۀ کرښو تودکړې شوې بکس کښې ټولې نتیجې لیکل (د) پۀ آخرکښې ټول حسابونه کلاسته لوستل.	مشق پانه ر 2-53- 3



ریاضی ـ دویم ټولګی	عنوان: د دوه رقمی عددو تفریق کول بغیر د قرضولو نه ، پۀ کالمونو کښې حلول (حسابول)
ل 2 - 54	

د استاد مشغلې	د شاګرد مشغلې	درسی معاونات
	۱ـ ذهنی تربیت : د ورکړے شوو سوویز، لسین او یوین عددونو نه دریم رقمی عددونه جوړول	
ـ دوهمې ویښل کله : « زماعدد څلور سلیزه ، پنځۀ لسیزه او یو یوین لری . دا کوم عدد دے ؟» کـه ضرورت ووتکراروں ئې (1) .	ـ د فکر کولو دپاره څۀ وخت ورکول ، د ډیرو طالب علمانو جواب وئیل .	
ـ طالب علمانو نه وئیل چې همد غه شان نورې دوهمې جوړې کړې ، سلیزونه، لسیزونه او یویزونه پۀ مختلفو ترتیبونو سره (مثلاً وئیل :"زماعدد 4 لسیزونه ، درې یویزونه او دوه سلیزونه لری .....")	ـ پخپله د دوهمو جوړول ، نور طالب علمان دوه درې ځله پۀ غور سره غوږ ونیسی، وروسته طالب علمان جواب ورکوی . د صحیحو عددونو د موندلو نه مخکښې طالب علمان دغه دوهمې تکراروی .	
	2ـ پۀ کالمونو کښې د دوه رقمی عددونو تفریق (2)	تورہ تخته
ـ پۀ تورہ تخته لیکل : 79 - 43 = ؟ د کالمونو یوه خاکه ئې خوا کښې جوړول :	ـ د حسابولو دا طریقه را پۀ زړہ کول ؛ عددونه پۀ کالمونو کښې لیکل ، بیا ئې حسابول : « 9 یویزه منفی درې یویزه مساوی دی د 6 یویزو سره » (6 ـ لیکل)، "7 لسیزه منفی څلور لسیزه مساوی دی پۀ درې لسیزه " (3 ـ لیکل)	
ـ طالب علمانو نه وئیل چې یو بل مثال هم همدغه شان حل کړئ (مثلاً 86 - 35 =) (3)	ـ پۀ شریکه ئې حلول ، پۀ متعلقه کالمونو کښې دغه عددونه لیکل ، د مخکښې پشان ئې بیانول .	
	3ـ پۀ کالمونو کښې د درې رقمی عددونو تفریق	تورہ تخته
ـ پۀ تورہ تخته لیکل : 346 - 124 = ؟ طالب علمانو نه غوښتنه کول چې دا سوال د کالمونو د خاکو پۀ مدد څنګه حلیږے شی . د ضرورت پۀ وخت مدد کول .	ـ وئیل چې دلته اوس سلیزه ، لسیزه او یویزه دی ، نو د دې د حسابولو دپاره درې کالمونو نه ضرورت دے . د غه خاکه پۀ تخته جوړول .	
ـ طالب علمانو نه وئیل چې دغه عددونه پۀ کالمونو کښې ولیکئ او پۀ غور او مزه مزه ئې حساب کړئ .	ـ پۀ متعلقه کالمونو کښې د غه عددونه لیکل ، خبرې وریاندې کول ، بیا ئې پۀ کالمونو کښې تفریق کول ، وئیل : « 6 یویزه منفی څلور یویزه مساوی پۀ دوه یویزو » (2 ـ لیکل) ، « 4 لسیزه منفی 2 لسیزه مساوی پۀ 2 لسیزه » (2 ـ لیکل) ،"3 سلیزه منفی 1 سلیز مساوی پۀ 2 سلیزه " (2 ـ لیکل)	
ـ د طالب علمانو نه غوښتنه کول چې هدغه شان عمل وکړی او 743 - 212 = حل کړئ .	ـ جوړول ، لیکل اوهمدغه شان خبرې کول .	
	4 ـ پۀ کالمونو کښې د تفریق مشق کول	
ـ طالب علمانو نه وئیل چې د پورتنۍ مشق پاڼې پۀ سر کښې مثال ولولی .	ـ د مثال لوستل ، پۀ کار ځان پوهول .	مشق پاڼه ر 2-54
ـ طالب علمانو نه بلنه ورکول چې باقی سوالونه ځانله ځانله حل کړی ، د ضرورت پۀ وخت مرسته کول .	ـ ځانله ځانله ئې حساب کول ، نتیجې پۀ کالمونو کښې لیکل ، ورکړے شوې نتیجې پۀ مشق پاڼه کښې چرخه کول ، د ضرورت پۀ وخت د استاذ نه مدد غوښتل .	

درسي پلان: ر 2-54	ددې درسي پلان پۀ باب څۀ نورې تبصرې

(1) استاذ به دغه دوندې (چیستانونه) پۀ مزه مزه او وضاحت سره درې ځله وائې؛ د ډېرو طالب علمانو ته به جوابونه را نۀ لوی، خو دا به نه وائې چې جواب صحیح دے یا غلط دے. طالب علمان به صحیح او غلط پخپله معلوموی.

(2) ماشومان ددې پول حسابولو سره مخکښې اشنا کړے شویدی (د ډومبی ټولګی 59/58 او د دویم ټولګی 24 نمبر درسی پلانونه وګورئ). ددې باوجود د طالب علمانو ډېرې دفعالولو دپاره پۀ کار دے چې د ضرورت پۀ موقع ددې مشق وکړے شی. دا درس دپاس ذکر شوی بل درسی پلان پۀ نسبت د غټو عددونو سره سروکار لری.

(3) أستاد به پۀ دې درس کښې داسې سوالونه نۀ ورکوی چې فرض پکښې بل عدد ته ورکولے کیږی.



د ړومبۍ وړپسې درس	عنوان: پۀ کالمونو کښې د درې رقمی عددونو د تفریق مشق کول؛ بغیر د قرضولو
خاکه ر2-54	

د شاګردانو/استاد مشغلې	درسی معاونات
1- ذهنی تربیت: تر 1000 پورې د مکملو لسیزو نه عدد "1" تفریق کول. مثلاً 1 - 120 = ، 1 - 340 = ، 1 - 670 = ...	
2- استاد طالب علمانو ته وائی چې یو سړی کار وکړ او دا روپیه ئې مزدوری واخیسته: 100 100 10 10 10 10 10 10 1/ 5/ ؛ 256 پۀ نوره تخته جوړول.	
(الف) طالب علمان دغه پیسې شماری، وئیل چې دلته 256 روپیه دی.	نوره تخته
(ب) دغه مقدار پۀ نوره تخته لیکل؛	
(ج) استاذ وینا جاری ساتی، "دغه سړی 134 روپیه وګلولې"، دغه مقدار پۀ نوره تخته لیکل؛ "اوس ورسره خومره پیسې پاتې دی"؟	
(د) د طالب علمانو د نتیجې د معلومولو دپاره د روپو پۀ مناسب مقدار چرخه را ښکل: 256 روپیه - 134 روپیه = 122 روپیه.	
3- طالب علمان پۀ کالمونو کښې د حسابولو تجویز وړاندې کوی؛ همد غسې پۀ کړه کول.	نوره تخته
(الف) دیو طالب علم پۀ نوره تخته لیکل؛ حسابول چې 122 روپیه باقی پاتې دی.	
(ب) طالب علم د کالمونو سره سره دغه حساب پۀ سلیټونو نقلوی.	سلیټونه
4- دویمې مشق پاڼې ته کتل؛ پۀ ړومبی نمبر مثال ځان پوهول.	مشق پاڼه ر2-54-2
(الف) مشق پاڼه د حسابولو پۀ ذریعه مکملول؛ نتیجې پۀ مناسبو ستونونو او بکسونو کښې لیکل.	
(ب) د روپو حاصل شوے مقدار رسمول د جوړول ؛ چک کول.	



دویم وړپسې درس	عنوان: پهٔ کالمونو کښې د درې رقمی عددونو تفریق ، بې ساده شکل استعمالول
خاکه ر2-54	

د شاګردانو/استاد مشغلې	درسی معاونات
1- استاد د طالب علمانو نه غواړی چې 738 - 425 = ؟ پهٔ تور تخته حساب کړی (الف) طالب علمان پرمخ د ستونزو یوه خاکه جوړوی (ب) پهٔ اوچت اواز ئې حسابول ، عددونه پهٔ کالمونو کښې لیکل . (ج) نتیجه یا حاصل 313 معلومول/ لیکل .	تور تخته
2- استاد د طالب علمانو نه غواړی چې دا سوال سلیټونو ته نقل کړی ، وئېل چې طالب علمان دکالمونو خاکه حذف کړلے شی خو پوښزه به د پوښزو لاندې ، لسیزه به د لسیزو او سلیزه به د سلیزو لاندې جوخت لیکی ؛ (الف) سمدستی ئې پهٔ تور تخته پهٔ عمل کښې پښودل . (ب) ځینی طالب علمان ئې پهٔ تور تخته مشق کوی ، نور طالب علمان ئې پهٔ خپلو سلیټونو لیکی .	سلیټونه
3- استاد د طالب علمانو نه غوښتنه کوی چې درېمې مشق پاتې نه وګوری ، (الف) طالب علمان پهٔ دې شروع کوی چې دغه محاسبې (سوالونه) دکالمونو د خاکو نه بغیر ولیکی ، خو بالکل یوعدد دبل عدد لاندې (ب) دکومو سوالونو حاصل چې یو شے وی دکرښو پهٔ ذریعه به تر لے کیږی .	مشق پاڼه ر2-54-3
4- طالب علمان مشق پاڼه پهٔ معموله طریقه چې مخکښې ئې تشریح شوېده ، مکمل وی . (الف) پهٔ دوه دوه یا درې درې کسه کارکول ، (ب) پهٔ اخر کښې هغه نتیجې جوړه پهٔ اوچت اواز لوستل چې د کرښو پهٔ ذریعه وصل شوی وی .	



درسي پلان: د 2 - 32	ددې درسي پلان په باب څه نورې تبصرې

(1) ددې گروپ ماشومانو له د جماعت دکمرې دیوې خوا مخې ته ودریدل پکار دی چې روستو بیا مقابلې خواته یو بل گروپ ودریږي او په آخر کښې دوا په یوګای کیږي په ۲ جوړه کښې ودریدونکو ماشومانو له خپل لاسونه ورکول پکار دی.

(2) استاذ به د ماشومانو نه دا توقع نه کوي چې هغوي به سمدستي په دې پوښه شي چې 2x4 + 2x3 = 2x7 (=14) د حساب یوه بله عملي طریقه ده. دغسې هغه / هغې له حوصله اوما شومانو ته واپس ګیرنه ورکول پکار دی چې بیا سوچ وکړي او بیل بیل ممکنات تجویز کړي. که ماشومانو د حساب دا طریقه معلومه نه ګڼي شوه نو استاذ له پوښتنه کول پکار دی چې ایا د یوې داسې طریقې امکانات شته چې دوا پو ګروپونو ته داسې ترتیب ورکړي چې د ماشومانو د ټول شمیر حساب کول اسان کړي. ممکنه ده چې ماشومان د دوو ګروپونو د یو ځای کولو تجویز وړاندې کړي. بیا دا بیا ټول پکار دی (دیوې عددي قیمتې په ځای) او دا د ریاضۍ د لیکلو په شکل کښې راوستل پکار دی (یعنې 2x4 + 2x3 = 2 x 7)

که چېرې ماشومانو دا معلومه کړه چې د کلاس مخې ته ټول 2 x 7 ماشومان ولاړ دی، نو استاذ له پوښتنه کول په کار دی چې دوی دا څنګه معلومه کړه او د طالب علمانو د رهنمائي کولو دپاره یوه طریقه معلومول پکار دی چې دوی وواځي چې د کلاس یوې خوا ته د 4 x 2 طالب علمانو او د کلاس بلې خوا ته د 3 x 2 طالب علمانو نه ټول 7 x 2 طالب علمان جوړیږي. بیا د دې عملي مشق د دوا پو ګروپونو د طالب علمانو د یوګای کولو په ذریعه کول په کار دی. (بیا دې 7 جوړې یوګای دیوې بلې شاته ودریږي) او څه چې وشوهغه دې بیان کړي (عددي قیمت). په آخر کښې دا په نوره ټوله ټولګي کې هم دغه څنګه چې پاس ذکر شوه.

(3) ډمبې بنې لورته د دوؤ جوړې شمیرل، بنې طرفته بکس ټکول؛ بیا ګڼ اړخ ته د دوو جوړې شمیرل، ګڼ اړخ ته بکس ټکول؛ بیا بنې اړخ ته چې د دوو جوړې خومره جوړې شوی دی هم هومره بنې اړخ ته د جوړولو په ذریعه دغه ګروپونه یوځای کول او بنې اړخ ته جوړې چرخ کول؛ په آخر کښې بنې اړخ ته یوګای شوې ګروپ شمارل او لاندې بکس ټکول.



د ښوونکي لارښود

رياضي

دويم ټولګی (دويمه نيمايي)

درسي پلانونه:

ر۲-۳۱ څخه تر ر۲-۶۰ پورې

HB M2 31-60
REVISED VERSION
(A)

۱۹۹۰

د ښوونکي لارښود

رياضي

دويم ټولګی (دويمه نيمايي)

درسي پلانونه:

ر۲-۳۱ څخه تر ر۲ - ۶۰ پورې

HB M2 31-60
REVISED VERSION
(A)

۱۹۹۰

بِسْمِ اللّٰهِ الرَّحْمٰنِ الرَّحِيْمِ

تشریحي تبصرې

دا کتاب چې « د ښوونکی لارښود » نومېږی د ریاضی پۀ ښودلو (تدریس) کښې د هغه سکولونو د معلمانو / معلمانتو دپاره ضروری معلومات وړاندې کوی پۀ کومو کښې چې د تدریس ژبه پښتو ده او همدارنګه د دغه مضمون پۀ تدریس کښې چې د پاک - جرمن لومړنی تعلیمات له خوا تیار شوی کتاب « د طالب علمانو دکارکتاب » سره یوځای او پیوسته وشی، د دغه معلمانو / معلمانتو سره زیاته مرسته کوی .

۱- دا ټوک (جلد) د تدریس (ښودنې) دېرش یونټه لری چې د نومبر د شروع نه د مارچ تر آخره پورې به وخت ونیسی . هر یونټ یو تفصیلی درسی پلان لری . هر درسی پلان د یونه نیولې تر دوو پورې ډ « ورپسې درسونو » خاکې لری . مشق پاڼې ، قمې، لوبې ، د درسی معاوناتو د استعمال او د تدریس د طریقو پۀ متعلق لارښودنې هم ورسره شاملې دی .

« د ښوونکی لارښود » کتاب کښې هر درسی یونټ همېشه پۀ څلورو مخونو کښې دے . دوه لومړی مخونه چې پۀ یو نظر سره پېژندے شی د تفصیلی درسی پلان دپاره دی . پۀ کوم کښې چې د طالب علمانو او استاذ مشغلې تشریح شوې دی ، مشق پاڼې او څۀ نورې تبصرې لری . دوه نور مخونه « ورپسې درسونو » د خاکو دپاره دی چې د بل نوی درسی پلان نه مخکښې ښودل (تدریس) کیږی . پۀ دې « ورپسې درسونو » کښې د متعلقه مشق پاڼو یا نورو متعلقه درسی معاوناتو نه چې ددې یونټ دپاره ګټاکل شوی دی ، کار اخیستل کیږی. معلم به پۀ یوه هفته (اونۍ) کښې دوه درسی پلانونه او د هغوی متعلقه « ورپسې درسونه » ښېئی (تدریس کوی) .

۲- « د ښوونکی لارښود » کتاب او « د طالب علمانو دکارکتاب » د استعمال دپاره یو څو لارښوونې :

(الف) معلم به د درس د ښودلونه همېشه د تدریس ټول یونټ د « ورپسې درسونو » د خاکو پۀ شمول ښۀ مطالعه کوی . یواځې پۀ دې طریقه سره دورکړې شوو لارښوونو (هدایاتو) نه ، لکه د څۀ څېزونو راوړل ټوکلی ته یا د یوې قمې یالوبې سره پخپله ښۀ اشنا کېدل ، یا د یوې لوبې او چکر دپاره تیارې نیول ، ښۀ کار اخیستل کېدے شی . ددې لوستل به د هر وخت ونۀ نیسی خود معلم کامیاب تدریس (ښودنه) به یقیني کړی .

(ب) د ماشومانو حوصله افزائی به پۀ دې کښې کیږی چې د خپل « کارکتابونه » صاف سوتره وساتی او د تدریس (ښائې) نه مخکښې پۀ مشق پاڼو څۀ ونۀ لیکی او نقشې رونه وربانديې ونۀ باسی .

(ج) پۀ دې کتاب (د طالب علمانو دکارکتاب) کښې معلم ټولې مشق پاڼې پېدا کولے شی خو پۀ سائن کښې لرې وړې کړے شوی دی .
ددې دپاره چې معلم د ټولو تفصیلاتو نه ښۀ خبر شی نو ښه به داوی چې ددې نه مخکښې اصلی یعنې لویه مشق پاڼه وګوری .

(د) معلم ته اجازه ده او آزاد دے چې د صورت حال د غوښتنې سره سم نورنور مشقونه پیدا کړي .

(هـ) لوړې او نورې مشغلې به د منځنۍ وړل کیږي بلکې چې کله وړتیا معلم ضرورت وویني نو تکراروي به ئې.

۳ - پۀ دې برخه کښې به طالب علمان لاندینۍ موضوعات مطالعه کوي:

- 1000 پورې د عددونو لوستل او لیکل .
- جمع او تفریق .
- د دوه رقمي او درې رقمي عددونو جمع .
- د جیومیټرۍ (هندسې) اشکال یعنې $\frac{1}{2}$ ، $\frac{1}{4}$ ، $\frac{3}{4}$ ، $\frac{1}{3}$ ، $\frac{2}{3}$.
- کسرونه .
- پۀ دې برخه کښې پۀ ډېرو مخونو د مشق پاڼو د استعمالولو پرځله هدایات لیکلے شوي دي .

د طالب علمانو پۀ پوهېدلو کښې د اسانتیا پېدا کولو د پاره دې استاذ دا هدایات ټوکلي سره یوځای ولولي .

۴ - د بنووونکی لارښوونه د افغانی اوپاکستانی استاذانو د پاره یواځې د یوۀ کتاب پۀ شکل کښې تیار شوے او خطاطی شوے دے . پۀ دې ډول او پۀ دې امید چې دواړه ګروپه استاذان به ئې پۀ لوستلو سره پوهیږي .

« د طالب علمانو د کار کتاب » پۀ دوه جدا جدا کتابونو کښې تیار شوے دے چې د یوۀ نه به پاکستانی سکولونه او دبل نه به افغانی سکولونه کار اخلي .